


مصباح العرفان
فی
اصول القرآن

مِن افادات

شیخ القرآن مولانا محمد طیب سلمہ اللہ



ناشر: دار التوحید والسنۃ

محلہ جنگی پشاور
0332-9190282
0316-9086282



مصباح العرفان فی أصول القرآن

من آفادات

شیخ القرآن مولانا محمد طیب سلمہ اللہ

ناشر: دار التوحید والسنۃ

محلہ جنگی پشاور
0332-9190282
0316-9086282

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

(سُبۡحٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَا ؕ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَلِیۡمُ الۡحَكِیۡمُ ۝)

الدرس الاول: د فهم قرآن د پاره اصول او مبادی

د قرآن کریم د فهم او زده کړه لپاره څه اصول او مبادی مخکښې بیانوو بیا د هغې نه پس ترجمه او تفسیر د قرآن کریم شروع کوو او په شروع کښې دوه قسمه اصول بیانوو .

۱: هغه قسم دې چې د قرآن کریم زده کړې سره تعلق لری.

۲: هغه قسم دی چې دې ځائی کښې یعنی پنج پیر کښې پاتې کیدلو او تللو راتللو سره تعلق لری.

نن مونږ دویم قسم اصول بیانوو اول دا چې کوم طالبان بهر اوسیږی او هر ځائی کښې چې وی او څومره تعداد کښې چې وی تر دې که چرته دوه کسان هم وی نو یو کس به امیر کړئ او باقی به د هغه افراد وی ځکه دا سنت طریقه ده او بغیر د امیر نه وخت تیرول خلاف سنت دی او په افراد باندې د امیر تابعداری کول او خبره منل لازم دی ځکه دا هم د رسول الله مبارك ﷺ حکم دې .

نبی کریم ﷺ فرمائی اسموا واطیعو ولو کان عبداً حبشیاً چې د امیر خبره به اورئ او منئ به اګرچه دا امیر یو حبشی غلام وی ځکه چې د خلقو دا ګمان او خیال وی چې اطاعت به د هغه امیر کول پکار وی چې سپین ږیری وی یا دا چې د زنګ نه سپین وی ښایئسته او

مـالدار وی نو داسې نه ده بلکه رسول الله مبارك فرمائی اگر که تك تور
وی غټـو شـونډو والا وی او زيـړ زيـړ غـاښونو والا وی لکه حبشی نو د
هغه اطاعت هم په تاسو باندې لازم دې امیانو په دې ښه عمل کړې دې
لیـکـن اهـل عـلـم حـضراتو دا عمل پريښودلي دي الا ماشاء الله او دلته
پـنج پیر کښې دا قانون دې چې د امیر اطاعت لازم دې او بیا امیر له هم
پـکـار دی چې خپل افرادو ته به په یو نظر سره گوری د قومیت دا رنګه
لسانی او نور د جاهليت تعصب به په نظر کښې نه ساتی.
دويـمـه خبـره دا چې نظر خپل حفاظت به کوئ او مدرسې ته
تلل راتلل دزنانو لاره باندې به نه کوئ.

دپنج پیر د درس خصوصیات

مونږ په دې درس کښې د قرآن مجيد ترجمه او تفسير سره سر
ه تـاريخ، اسلامی سیاست، دملك حالا ت، دمفسرینو صحت او غلطی
ښـو دل، دغـه شـان د هر قسم شرکیاتو تر دید کول، د جاهلیت رسمونه،
بـدعـا ت رد کـول، دمـعـاشـرې اصلاح او د جهاد جذبه پیدا کول وغیره
شامل دی.
اویـه درس کښـې داشاعت التو حیدوالسنت دطا لبانونه علاوه نور لکه
سـلـفيـان، بـدعـتيـان، بـريـلـويان ، جميعتيان خلاصه دا چې د هر قسم
نـظـريـو والا کـسـان شـامـل کیـدلې شـی او پـه دې مقام کښې صرف د
اشـاعـت الـتـو حيـد اصـولـو لانـدې به چلیږی او هیڅوك دا حق نه لری

چې خپله نظريه اوچلوي ، دغه شان جهګړه كول منع دى او تاسو به كوشش كوئ چې كوم مقصد د پاره راغلې ئى هغه فوت نه شي.

الحمد لله ! د الله تعالىٰ فضل دې مونږ سره چې ځوك دري ځله قرآن پاك په ترجمه اووائى نو بيا نورو خلقو ته درس وركوى دا هم د پنج پير د درس خصوصياتو كښې دى.

الدرس الثانى : تعريف د قرآن

مونږ د قرآن كريم د فهم او زده كړې د پاره څه اصول او مبادى د مخكښې نه بيانوو اول قسم اصول پرون بيان شو نن به د قرآن مجيد تعريف بيانوو ځكه چې دا يو عام قانون دې چې يو سړى كوم كتاب شروع كوى نو اول هغه لره د هغې تعريف پيژندل ضرورى دى چې دا د څه كتاب دې او د چا كتاب دې علماء كرام د قرآن پاك تعريف په عامو كتابونو كښې داسې كوى.

كتاب عربى لا ريب فيه انزله الله تعالى الى محمد بوحى جلى وهوالمكتوب فى المصاحف المنقول الينا نقلاً متواتراً بلا شبهة ـ

ترجمه: قرآن كريم يو كتاب دې عربى ژبه كښې او شك نشته په دې چې دا د الله تعالىٰ له طرفه دې او محمد ﷺ ته راليږلې شوې دې په وحې جلى سره او په مصاحفو كښې ليكلې شوې دې او مونږ ته نقل شوې دې په نقل متواتر سره او هيڅ شبه په كښې نشته.

دا تعريف چې علماء د قرآن پاك كوى هغوى قرآن كريم كتلې

دې سوچ ئې کړې دې او بيا ترينه هغوی دا تعريف جوړ کړې دې قرآن مجيد په خپله دا تعريف کوی او ډير ځايونو کښې راغلې دې لکه

سورة بقرة :

الم ٥ ذلك الكتاب لا ريب فيه

سورة شعراء کښې :

وانه لتنزيل رب العالمين ٥ نزل به الروح الامين ٥ على قلبك لتكون من المؤمنين ٥ بلسان عربى مبين ٥ وانه لفى زبر الاولين ٥

فرمائی چې دا مضمون مخکښې کتابونو او صحيفو کښې هم دې او دا نوې خبره نه ده بلکه زړه مسئله ده

سورة يوسف کښې :

الرٰ ٥ تلك آيت الكتاب المبين ٥ انا انزلناه قرآناً عربياً لعلكم تعقلون ٥

سورة هود کښې :

الر كتاب احكمت آياته ثم فصلت من لدن حكيم خبير ٥

او دا قرآن پاك جناب رسول الله مبارك ﷺ ته راليږلې شوې دې سورة الاعراف او سورة صاد

كتاب انزلناه اليك مبٰرك ليدّبّروا آياته وليتذكر اولو الالباب

سورة الانعام ١٥٥ سورة الرعد ١ قرآن كريم په مختلفو صيغو سره كله انزلنا، كله نزل، سره دا ثابتوی چې قرآن پاك د الله تعالى له طرفه نازل شوې دې لكه يو شاعر وائی کښې:

به هر رنگے که خواهی جامه مه پوشی

من انداز قدت رامیشناسم

دا رنګه سورة کهف ۱ الحمد لله الذی انزل علی عبده الکتاب ولم یجعل له عوجاً ○

ترجمه: ټول صفتونه خاص الله تعالی لره دی چې رالیږلې دې په بنده خپل باندې کتاب او هغه نه دې ایخې په هغه کښې کوږ والې

سوال: دا پیغمبر نور دې که بشر ؟

جواب: الله تعالی فرمائی په دې آیت کښې چې عبد او بشر دې .

واقعه : حضرت شیخ القرآن رحمة الله علیه نه چې چا تپوس کول نو جامع او مختصر جواب به ورکولې شو یو ورځ د شیخ صاحب نه یو کس تپوس اوکړو چې پیغمبر اولین دې که آخرین نو شیخ صاحب ورته اووې چې دغه الفاظ پښتو کښې اوواته هغه هم دغسې اووې چې اولین دې که آخرین او پښتو کښې ئی نه وئیل بیا ورته شیخ صاحب اووې ستا دا مطلب دې چې د پلار نه مخکښې پیدا دې که روستو نو د پلار نه خو روستو پیدا دې بیا هغه اعتراض اوکړو چې نبی نور دې که بشر دې ؟ نو شیخ صاحب ورته اوفرمائیل چې: نبی د بشر نه پیدا دې که د نور نه هغه کس اووې چې د بشر نه نو شیخ صاحب ورته اووې چې د بشر نه پیدا دې نو دا هم په خپل بشر شو دا سائل چې نیم ملاوو او شیخ القرآن به هر چاته د هغه د علم او پوهې مطابق جواب ورکولو .

سورة الفرقان ١ تبارك الذی نزل الفرقان علی عبد لیکون للعلمین نذیراً ٥

دا رنګه د قرآن کریم تعریف قرآن پاك په خپله کوی سورة الزمر

آیت ٢: انا انزلنا الیك الکتاب بالحق فاعبد الله مخلصاً له الدین ٥

الاحقاف: حم تنزیل الکتاب من العزیز الحکیم ٥

سورة الم سجده: الم ٥ تنزیل الکتاب لا ریب فیه من رب العالمین

سورة لقمان: الم ٥ تلك آیات الکتاب الحکیم ٥ هدیً ورحمةً للمحسنین ٥

فرمائی داسې کتاب دې چې د حکمت نه ډك دې جاهل سړې ئی چې اولولی نو عالم شی بزدل ئی چې اولولی نو شجاع او بهادر شی

علامه اقبال صاحب وائی:

فاش گویم آنچه در دل مضمر است

این کتاب نیست چیز دیگر است

چون جان دیگر شد جهان دیگر شود

سورة المؤمن: حٰم ٥ تنزیل الکتاب من العزیز العلیم ٥

سورة السجدة ١، ٢، ٣، سورة عبس ١٣ ، سورة البینة ٢، ٣ رسول من الله یتلوا صحفاً مطهرة ٥ فیها کتب قیمة ٥

الدرس الثالث:

اسماء القرآن العظیم

تعریف د کتاب الله بیان شو نن اسماء د قرآن پاك او حکمت

نزول د قرآن کریم بیانوود قرآن حکیم اسماء علامه سیوطی په خپل کتاب الاتقان کښې تقریباً ۴۲ ذکر کړې دی او شیخ القرآن علامه محمد طاهر رحمة الله علیه په دې هم اکتفا نه ده کړې بلکه نور تلاش ئی هم کړې دې نو تقریباً ٦١ ئی ذکر کړې دی دا ځکه چې شیخ القرآن ۳۰۰ کتابونه بالا ستیعاب کتلې وو او بیا بیا ئی نور هم کتلې دی د شیخ صاحب ذهانت د چانه پټ نه دې (د هغه د ژوند حالات په کتاب بقیة آثار کښ ذکر دی) د ډیرې راتلو نه وړاندې ئی دوره حدیث مکمل کړې وو دا رنګه په دې نن بعضې نورو علماؤ هم کتابونه لیکلې دی لکه اسماء القرآن

مونږ احتصار سره یو څو اسماء ذکر کوو دا عام قانون دې چې بې شماره او ګڼړ نومونه د هغې په شرافت او په ډیرو صفاتو دلالت کوی لکه مثلاً دوه کسان ولاړ دی او خبرې کوی یو کس راشی یو کس ته وائی چې حافظ صاحب بل کس راشی هغه وائی قاری صاحب او بل راشی هغه چې شیخ الحدیث صاحب چې دې یو کس ته دا ګڼړ نومونه واخسلې شی نو دا په دې باندې دلالت کوی چې دا سړې د ډیرو صفاتو خاوند دې حافظ ورته په خپل اعتبار سره وئیلې کیږی چې د قرآن پاك حافظ دې دا رنګه تجوید ئی کړې دې نو قاری ورته وئیلې کیږی او شیخ ورته ځکه وئیلې کیږی چې د سند سره ورته درې زره احادیث هم یاد دی.

د قرآن کریم دا ډیر اسماء دلالت په شرافت او عزتمندی باندې

کوی:

۱ : کتاب :

۴۱ ځله دا نوم مبارك ذكر كړې شوي دې كتاب ورته ځكه وائى چې دا ليكلي شوي دي

۲ : مبين :

دا ورته ځكه وائى چې دا واضح دي هر ځوك پرې پو هيږى لكه سورة الزخرف ۲ كښې حٰم ۝ والكتاب المبين ۝

۳ : القرآن :

دا ورته ځكه وائى چې د لوستلو كتاب دې او عزتمند كتاب دي لكه الواقعه ۷۷ انه لقرآن كريم

٤ : كلام الله :

دا ورته ځكه وائى چې دا د الله تعالى كلام دي لكه التوبة: ۷ حتى يسمع كلام الله

٥ : نور :

دا ورته ځكه وائى چې د رنړا او نور كتاب دي چې كومې سينې ته داخل شى هغه منوره شى كوم كور ته چې داخل شى نو هغه كور رنړا والا شى او كوم ملك ته چې داخل شى نو هغه ملك منور شى لكه

النساء ۱۷۴ وانزلنا الیکم نوراً مبیناً.

۶: البرهان

یا ایها الناس قد جاء کم برهان من ربکم دا کتاب د ټولو خلقو د پاره دلیل دي.

۷: هدیً

فیه هدًی للمتقین، البقره: ۲ ـ

۸: ورحمة:

لکه یونس ۵۷ وهدًی ورحمة للمؤمنین چې دا کتاب لار ښودونکې او رحمة دي .

۹: فرقان:

لکه الفرقان ۱ تبراك الذی نزل الفرقان علی عبده لیکون للعالمین نذیرا او فرقان ورته ځکه وائی چې دا تقریباً ۲۳ کال لږ لږ نازل شوي دي او جدا جدا نازل شوي دي لکه سورة الاسری ۱۰۶ وجه ذکر کوی وقرانا فرقنه لتقراه علی الناس علی مکث ونزلنا تنزیلا. چې د خلقو پو هی لپاره آیة آیة سورة، سورة نازل شوي دي دا رنګې الفرقان ۳۲ فرقان دا ځکه ورته وائی چې د خلقو په مینځ کښې تور والی جدای راوسته مؤحد او مشرك جدا کړه لکه په الجاثیه ۲۱ سورة ص ۲۸ سورة السجده

۱۸ افمن كان مؤمناً كمن فاسقاً لا يستون ـ دا رنګه فرقان ورته څكه وائى لانه فرق بين الخالق والمخلوق چې دې كتاب خالق ته د خالق حق وركړو او مخلوق ته د مخلوق جدا جدا كړه سورة البقره ۱٦۵ خلقو الله سره چې كومه مينه د خدايتوب كوله نو مخلوق سره هم كولې څكه اولياء كرام تېكره رسونكى ګنړل او هغوى نه يره كولې او موحد صرف د الله نه خوف كوى. دا رنګه الشعراء ۹۷ دا رنګه سورة نحل كښې فرمائى:

افمن يخلق كمن لا يخلق افلا تذكرون . علامه ابن قيم فرمائى:

لله حق لا يكون لغيره ولعبده حق هما حقان.

لا تجعل الحقين حقا واحداً من غير تبين ولا فرقان.

قصه: يو موحد په سفر روان وو په لاره كښې ورسره، مريد ملنګ ملګرې شو دواړه روان دى ملنګ د كاكا صاحب زيارت ته روان وو او دې بې اودس وو مؤحد هغه سره سوال جواب كوى.

مؤحد: ملنګ بابا نه چا پيدا كړې ئې؟ ملنګ: جواب كښې وائى الله پاك پيدا كړې يم ملنګ د الله نوم ئې بې اودسه واغسته بيا مؤحد تپوس كوى چې ملنګ بابا چيرته ځې جواب هو، هو، اشارةً ووئيلې چې د كاكا صاحب زيارت ته ځم، او د كاكا صاحب نوم بې اودسه نه اغستـه . مؤحد پوهه شو چې دا مشرك سخت بې عقل دې نو سم ئى اووهه مشرك ته څو ځله ضرب شديد وركړه. آخر دا چې پوليس راغې ملنګ شكايت اوكړو چې ده زه بې ګناه اووهلم درې څلور ځله مؤحد پوليس ته حال بيان كړو. بيا پوليس اووئيل چې اودريږه دا

ثواب زه هم حاصل كړم ملنګ ته وهل وركړه . ته وائې قرآن كريم هم د مخلوق روحانى جسمانى علاج كوى.

١٠ : نوم شفاء

شفاء علاج او چا چې قرآن ته شفاء اووئيلې نو علاج ئې كيږى لكه سورة الاسرٰى ٨٢ وننزل من القرآن ما هو شفاء ورحمة للمؤمنين ولا يزيد الظالمين الاخسارا . يونس: ٥٧

يو شاعر وائى:

كن نظر در حال خود اے نا تمام
احمد رين فرصت تو مشغول كدام
سلم خوانى حكمت يونانيان را
حكمت ايمانيان راهم بخوان
لوح دل ان فضله شيطان بشو
اى مدرس درس قرآن هم بگو

پخوانى ملايانو به ١٢، ١٣ كاله علم منطق كښې تيرول او د سورة فاتحه ترجمه باندې به هم نه پوهيدل ، ابن قيم هم ډير اشعار وئيلې دى هغه خلقو پسې چې خپل محبوب عمر غير مقصود علم كښې خرابوى .

علامه ابن تيميه فرمائى:

قطعنا لا خوة من معشر بهم مرض من كتاب الشفاء

فما تو على دين رسطاوس وعشنا على سنة المصطى

۱۱ : موعظة:

چې دا د نصيحت كتاب دې لكه يونس ۵۷ يا ايها الناس قد جائتكم موعظة من ربكم وشفاء لما في الصدو وهدى ورحمة للمؤمنين (آل عمران: ۱۳۸) .

په دې آيت كښې څلور آسماء د قرآن ذكر دى. قرآن كريم لوئې نعمت دې تفسير مدارك كښې ليكى. من اعطاه الاسلام وعلمه القرآن ثم شكى الفاقة كتب الله الفقر بن عينيه الى يوم يلقاه. څكه ته خود انبياء ميراث جمع كوې او هغه چې د نياء پسې ګرځى او قرآن ته څه توجه ته كوې نو هغه چې د نياء پسې ګرځى او قرآن ته څه توجه نه كوې نو هغه د فرعون او د قارون ميراث جمع كوى.

(۱۲) نوم ذكر (۱۳) مبارك: لكه ۵۰ الانبياء وهذا ذكر مبرك انزلناه افانتم له منكرون.

(۱۴) عليّ (سورة زخرف آيت ۴) چې دا د اوچت درجې كتاب دې

(۱۵) حكيم: چې د حكمت نه ډك كتاب دې لكه سورة الزخرف ۴

(۱۶) حكمة بالغة: څكه په فصاحب او بلاغت كښې انتها ته رسيدلى دى لكه القمر ۵

(۱۷) المهیمن : څکه دا نورو کتابونو مضماینو نګهبانی کوی لکه المائده ۴۸

(۱۸) حبل الله (آل عمران: ۱۰۳)

(۱۹) النعمة : لکه ال عمران ۱۰۳ واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولا تفرقوا وذکرو الله نعمة الله علیکم اذ کنتم اعداء. قرآن دعوت ورکوی اتفاق طرفته چې اتفاق غواړئ قرآن اونیسئ خلق وائی د ملایانو اتفاق پکار دې او مونږ وایو چې د علماؤ او د امیانو اتفاق پکار دې څکه علماء به امیانو ته دین ښائی او امیان به علماؤ ته د دنیا کاروبار چل ښائی.

(۲۰) صراط مستقیم : الانعام ۱۵۳

(۲۱) نباعظیم : سورة ص : ٦٧ احسن الحدیث چې دا ښائسته بیان دې

(۲۲) مثانی چې دا بیا بیا مقرر کیږی

(۲۳) متشابها دا ورته څکه وائی چې د دې مضامین بعضې د بعضې سره ترلی دی مضامین د دې یو شان دی لکه الزمر ۲۳

(۲۴) التنزیل لکه: حٰم سجده آیت ۲ . الشعراء : ۱۹۲

(۲۵) الروح: دا ورته څکه وائی چې دا د روح علاج دې او د بدن علاج جوار ، وریښې غنم دې څکه بدن د خاورې نه پیدا دې او علاج هم خاورې نه شو او روح علاج الله پاك قرآن جوړ کړی دی لکه الشوری ۵۲ وکذالك اوحینا الیك روحا من امرنا ما کنت تدری ما الکتب ولا الایمان.

ای بیان الکتاب و بیان الایمان

(۲٦) عربی: دا ورته ځکه وائی چې دا واضح ژبه کښې دی لکه یوسف ۲

(۲۷) بیان: لکه ال عمران ۱۳۸

(۲۸) بصائر لکه : جاثیه: ۲۰ (۲۹) العلم لکه البقرة ۳۲

(۳۰) حق . چې دا د حق کتاب دې لکه ال عمران ٦۲ .

(۳۱) هادی : ځکه قرآن لاره ښائی خلقو ته . لکه الاسری ۹

(۳۲) عجب ځکه دا ناشنا خبره کوی ناشنا کتاب دې د دې مثل او نظیر دنیا کښې نشته لکه الجن ۱ قل اوحی الی انه استمع نفر من الجن فقالوا انا سمعنا قرآنا یهدی الی الرشد فامنا به. ناشنا ورته ځکه وائی چې ټول دنیا یو طرف ته وو قرآن بل طرف ته ناشنا وریاندې لګیده .

(۳۳) تذکرة لکه ۴۸ الحاقة ۳۷ العروة الوثقی لکه ۲۵٦ بقره

(۳۴) صدق لکه سورة الزمر ۳۳

(۳۵) عدل: دا ورته ځکه وائی چې دا د عدل او انصاف خبره ده لکه الانعام ۱۱۵

(۳٦) المنادی دا ورته ځکه وائی چې دې اعلان د توحید او د انصاف کوې لکه ال عمران ۱۹۳

(۳۷) بشری لکه البقره ۹۷ (۳۸) مجید لکه البروج ۲۱

(۳۹) بشیر : حٰم سجده: (۴۰) نذیر ۳ حٰم سجده: ۴

(۴۱) عزیز لکه السجده : ۴ (۴۲) بلاغ ابرا هیم ۳

(۴۳) احسن القصص لکه یوسف ۳

(۴۴) صحف (۴۹) مکرمة (۴۵) مرفوعة : عبس : ۱۴

(۴٦) مطهرة لکه عبس ۱۳

(۴۷) سبيل الله ال عمران ۹۹ قل يا اهل الکتاب لمَ تصدون عن سبيل الله ، اهل کتاب چاته وائي دا خوك دى . شاه ولى الله فرمائى په دې امت کښې شته من فسد من علمائنا ففيه شبه من اليهود ومن فسد عن عوامنا ففيه شبه من النصارى

(۴۸) مصدق لکه البقره ۱۴

(۴۹) الحکم يعنى د فيصلي كتاب لکه الانعام ۱۱۴

(۵۰) البينة لکه سورة البينة ۱

(۵۱) الخير الكثير ، البقرة ۲٦۹

(۵۲) ميزان لکه الشورى ۱۷ الله الذى انزل الكتاب بالحق والميزان . ميزان ورته ځکه وائى چې خلق به په دې تلي چې څوك دروند اعمال والا دى ، شيخ القرآن به دا اشعار وئيل:

کتاب و سنت لی سيرتی — بلوت الناس فی هذا المحك
فمنهم زائغ لا خير فيه — ومنهم جائز تجويز شك

(۵۳) حجة لکه الانعام ۱۴۹

(۵۴) نور: لکه په الصف ۸ ، النور ۳٦

(۵۵) الكوثر لکه په سورة كوثر كښې ۱ انا اعطينك الكوثر . اى علم القرآن. دا ډير نومونه د قرآن دلالت په ډير صفات کوي.

حکمة نزول قرآن مجيد

2 د قرآن كريم د نزول فائده او حكمة څه دي؟ حكمت دا دي چې اخراج الناس من الظلمات الى النور چې خلق د شرك، د بدعاتو ، د رسوماتو، رواجونو د خرابو اخلاقو ظلماتو نه اوباسی رنړا د توحيد او سنت ته دا رنګه يره وركوی منكرينو ته او بشارت ، خوشخبری وركوی مؤمنانو ته تابعدارو ته او دی لپاره راليږلې دې چې تاسو سوچ او تدبر اوكړې . دا حكمة ذكر دې په سورة ابراهيم ١ الرا كتب انزلنا اليك لتخرج الناس من الظلمات الى النور دا رنګه سورة الانعام ١ ٥ سورة الشورى ٧ سورة الزمر ١٧ ـــ ١٨ ، سورة ص ٢٩ سورة الاعراف ٢ كتب انزل اليك فلا يكن فى صدرك حرج منه لتنذر به و ذكرى للمومنين .

سفيان ثورى فرمائى انزل القرآن لتدبّر وجعلوه لتلاوة سورة النمل ١ ، ٢ تلك آيات القرآن وكتاب مبين وهدى وبشرى للمومنين ، سورة البقرة ٢ ذلك الكتب لاريب فيه هدى للمتقين .

الدرس الرابع : مخاطبين قرآن

تعريف، اسماء. او حكمت نزول د قرآن كريم بيان كړې شو . اوس دا ذكر كوؤ چې قرآن كريم كښې الله پاك چا سره خطاب كوی څكه دا طريقه د فهم او تدبر د قرآن ده چې ته اول د قرآن يو آيت اوباسی اول به دا سوچ اوكړئ چې قرآن د چا خبره كوی . څكه ډير ملايان په دې خطاء كيږی آيت كښې سوچ نه كوی بيا وائی دا آيت خو د بتانو باره كښې دې او تاسو اولياؤ پورې لګوئ .

پوهه شه چې قرآن کريم څلور ډلو سره خطاب کوی :

(١) المومنين (٢) المشركين (٣) المنافقين (۴) اهل الكتاب . اوس مونږ د هرې ډلی لږ وضاحت کوؤ سره د بيان د عقائد د هغې .

المشركين: ش، ك، ر، شرك وئيلې شی برخې او حصه درائ ته ووائی مشركين هغه څوك دی چې د الله سره د الله په صفاتو كښې نور خلق حصه دار ګرځوی ، يا داسې طريقه جوړه كړې ده دوی وائی چې الله تعالیٰ زمونږ سوال نه منی د بزرګانو، اولياء كرام په وسيله الله ته تقرب، نزدې والې طلب كوؤ . سوال وارديمی چې اتفاق د مشركينو او موحدينو په منځ كښې په كومو خبرو كښې وه او ولې وه؟ جواب دا دې اتفاق په ګڼړو څيزونو وو لكه دوی كښې چې الله رازق دې خالق، عالم، مدبر د ټول عالم دې لكه قرآن كښې د دوی بيان كوی چې د مشركينو نه كله تپوس اوشی چې خالق د آسمان او د زمكې او رازق څوك دې؟ نو هغوی دا منی چې الله تعالیٰ رازق دې او خالق هم دې . دا رنګه اتفاق په دې كښې هم وه چې مومنانو روژه نيول هغه مشركانو هم نيولې، مونځ موحدينو هم كولو او مشركينو هم كولو كه چرته يو ائې په مونځ ښه سرې ګيرېږې نو دا خو هغوی هم كولې دا رنګه اتفاق وو چې مونځ به دواړو ډلو يوه قبله ته كوله دارنګه خيراتونه حج هم كولې . يوائې په خيرات او په حج خلاص نه شول . قرآنی آيات اوګورئ چې كله د دوی نه تپوس اوكړې چې دا زمكې او آسمان چا پيدا كړې دې نو دوی وائی پيدا كړی دی .

لکه سورة المومنين ۸۴ قل لمن الارض ومن فيها ان كنتم تعلمون سيقولون لله قل افلا تذكرون. دا رنګه په دې سورة كښې ۸۵، ۸۲، ۸۷، ۸۸، ۸۹ سورة الزخرف ۹ ولئن سالتهم من خلق السموات والارض ليقولن خلقهن العزيز العليم ٥ سورة لقمان ۲۵ ولئن سالتهم من خلق السموات والارض ليقولن الله ٥ قل الحمد لله بل اكثرهم يعلمون ٥ اى بالقرآن، بالتوحيد

يعنى كله چې دربره په دې كښې اتفاق كوى الحمد لله وايه علامه ابن قيم رحمة الله عليه خپله قصيده كښې فرمائى.

قالوا واقرار العباد بانه : خلافهم هو منتهى الايمان

والناس فى الايمان شئ واحد : كالمشط عن تماثل الاسنان

فسئل اباجهل وشيعته ومن : والاهم من عابد الاوثان

واسئل اليهود وكل اقلف مشرك : عبد المسيح مقبل الصلبان

واسئل ثمود وعاد بل سل قبلهم : اعداء نوح امة الطوفان

وسئل بالجن اللعين اتعرف الخلاق ام اصبحت ذا نكران

وسئل شرار الخلق اعلى امة : لوطية هم ناكحو الذكران

وسئل كذلك امام كل معطل : فرعون مع قارون مع هامان

هل كان فيهم منكر للخالق : الرب العظيم مكون الاكوان

فليبشروا ما فيهم ممن كافر هم عند جهم كامل الايمان

دا رنګه چې مشركان كله كشتى كښې كيناستل نو هم به

ئی الله تعالیٰ ته آواز کولو لکه سورة عنکبوت ٦٥ فاذا رکبوا فی الفلك دعو الله مخلصین له الدین فلما نجهم الی البر اذا هم یشرکون ٥ او نن ورځې مسلمانان وائی چې را مدد شه لویه څوانه د بغداد شاهی میرانه ما نیولې ستا لمن ده، کله وائی چې د دولسو کالو غرقه بیړی ئی راؤخکلې ده د جهالت تیاره ده او خلقو الله تعالیٰ هیر کړې دې سورة روم: ۳۳ واذا مس الناس ضر دعو ربهم منیبین الیه ثم اذا ازاقهم منه رحمةً اذا فریق منهم بربهم یشرکون ٥

سورة لقمان: ۳۲ واذا غشیهم موج کالضلل دعوالله مخلصین له الدین فلما نجهم الی البر فمنهم مقتصد وما یجحد بایاتنا الا کل ختار کفور ٥

دا رنګه جوماتونه به ئی هم جوړول بلکه افتخار به ئی کولو چې زه به جوړوم نن خلق چندې پسې ګرځی آوازونه کوی، ایماندارو جومات جوړیږی امداد اوکړئ که صرف په جومات جوړولو سره سرې بنه کیدلې نو هغوی به شوې وو لکه سورة التوبة ۱۹

اجعلتم سقایة الحاج و عمارة المسجد الحرام کمن آمن بالله والیوم الآخر وجاهد فی سبیل الله لا یستون عند الله والله لا یهدی القوم الظالمین ٥

بعضې خلق د حضرت شیخ القرآن رحمة الله علیه د تاریخ نه ناواقف دی خبر دی او دروغ وائی چې شیخ القرآن جهاد نه دې کړې شیخ القرآن د تاریخ مطالعه اوکړئ چې انګریزانو سره ئی څومره جاهد کړې دې او جیلونه ئی تیر کړې دی دا اصل کښې بزدل کسان

وی چې خپله یو کار نه شی کولې او شیخ بدناموی د شیخ القرآن ټول ژوند په انقلاب تیر شو دا رنګه حضرت عبد الله بن مبارك رحمة الله علیه میدان جنګ نه فضیل بن عیاض ته خط لیږلې وو کما فی النجوم الظاهره: کتاب الجهاد فرمائی:

یا عابد الحرمین لو ابصرتنا : لعلمت انك فی العبادة تلعب
من كان یخضب جیده بدموعه : فنخورنا بدمائنا تتخضب
من كان یتعب خیله فی باطل : فخیولنا یوم الصبیحة تتعب
ریح العبیر لکم ونحن عبیرنا : رهج السنابك والغبار الاطیب
لا یستوی غبار خیل الله : فی انف امرء ود خان نار تلهب
هذا کتاب الله ینطق بیننا : لیس الشهید بمیت لا یکذب

دغه شان مونځونه هم کول لیکن بې فائده وو لکه سورة الانفال ۳۵ ومن کان صلوتهم عند البیت الا مکاء وتصدیة فذوقوا العذاب بما کنتم تکفرون ٥

دغه شان هغوی به حج هم کولو د یمن نه به راتلل عاق قبیله به دوه میاشتې پیدل سفر کولو او بربنډ به راروان وو جامې او لباس به ئی ځکه لرې کولو چې هغوی وئیل چې په دې ګناه شوې ده او دوه تور هلکان به ترې مخکښې روان وو او تور هلکان به ئی ځکه مقررول چې د تورو هلکانو په سینه کښې بلغم کم وی نو د هغوی آواز صفا

وی او هغوی به دا شعرونه وئیل:

نحن غراباعك مونږ ده کارغان د عك قبیلې یو. روستو جواب کښې به قوم وئیل عك الیك عانیة عبادك الیمانیة عك نوم د قبیلې وو لکه الملل والنحل کښې عبد الکریم الشهرستانی ذکر کړې دی دا مونځونه او حجونه د دوی بې فائدې وو او دوی ته ئی هیڅ فائده ورنکړه او اختلاف په دې کښې وو چې دوی وئیل چې دا نیکان بندګان هم رامدد کوو ځکه چې دوی به زمونږ سفارش کوی او دا زمونږ سویلې دی او نن دور کښې هم ډیر مسلمانان داسې عقیدې لری دا بالکل د هلاکت عقیده ده او دا عقیده د نن نه ۱۵۰۰ کاله وړاندې هم وه لکه سورة یونس ۱۸ ویعبدون من دون الله مالا یضرهم ولا ینفعهم ویقولون هؤلاء شفعاؤنا عند الله امام رازی خپل تفسیر کښې لیکلي چې ونظیره فی هذ الزمان اشتغال کثیر من المخلق بتعظیم قبور الاولیاء علی اعتقاد انهم شفعائهم عند الله. دا رنګه سورة الزمر ۳ آیة کښې الا لله الدین الخالص والذین اتخذوا من دونه اولیاء ما نعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفی. ابن جریر دې آیت لاندې لیکی ما نعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفی، ای منزلة ودرجة ویشفعولنا حاجاتنا. اوس هم خلق داسې وائی او حدیث کښې راځی انسان چې مړ شی د هغوی اعمال قطع شی لکه وعن ابی هریرهٔ رضی الله تعالیٰ عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا مات ابن آدم انقطع عمله الا من ثلاث: صدقة جاریة او علم ینفع به، اوولد صالح یدعوله

(رواه مسلم) ترجمه: حضرت ابو هريره رضى الله تعالىٰ عنه نه روايت دې چې نبى ﷺ فرمائيلي دى هر بنده چې مړ شي عمل ئې ختم شي بې د درې كسانو نه چې د دوى عمل هغه شان جارى وى يعنى ثواب وررسى او درجې ئې اوچتيږى (۱) چا چې صدقه جاريه پريښې وى (۲) يا ئې داسې علم پريښې وى چې نفع ترې جارى وى (يعنى داسې كسانو ته دينى تعليم وركړې وى چې هغوى ئې نورو ته وركوى نو تر كومې چې دا سلسله جارى وى ده ته ئې هم ثواب رسى.

(۳) يا ئې نيك اولاد پريښې وى چې ده ته دعا كوى چې هغوى څه نيك كار كوى ده ته ئې هم ثواب رسى (مسلم)

او كوم حديث كښې چې وائى چې قبر كښې تلاوت مونځ كوى د هغه نه ئى مراد دادې چې هغه عمل ورته مشكل كيږى. او شفاعت چې دې قيامت كښې به كيږى چې كله شفيع ته اجازت اوشى اول به نبى ﷺ شفاعت كوى لكه حديث كښې راځى چې خلق به آدم عليه السلام ته لاړ شى آخر به بيا نبى ﷺ ته راشى نبى ﷺ فرمائى چې دا خلق به ما ته وائى:

اے محمد ﷺ ته د الله رسول ئې او آخرى نبى ئې. الله تعالىٰ ستا وړاندې او ورستو تولې غلطئ معاف كړې دى خپل رب ته زمونږ سفارش اوكړه. آيا ته نه وينې چې په مونږ څه حال دې؟ الله تعالىٰ به زما سينه فراخه كړى او حمدونه او ثنا هغه بهترين كلمات به راته په زړه كښې واچوى كوم چې ئې ددې نه مخكښې هيچاته نه دى

بنـودلـې . بيا به راته حكم اوشي ثم يقال يا محمد ان فع راسك سل تعطه واشفع تشفع فارفع راسي فاقول امتي يا رب امتي.

اول بـل حديث كښې نبي ﷺ فرمائي انا اول من يشفع . دا رنګه اختلاف په دې خبره وه چې دوی اله يو نه منل . او اله هغه چا ته وائی چې حاجتونه پوره كوی بلا اسباب، نفع او ضرر رَسوی لکه چې شيخ عبد القادر جيلاني فرمائي : په الفتح الرباني كښې ۷۸ كل من تعمد عليه فهوا الٰهك و كل شئ تخاف منه و ترجوه فهوا الٰهك. مؤ حدينو وئيلې اله يو دې چې الله دې او مشركينو وئيلې چې نور هم شته چې حئوك د بادو زمه دارد ی څوك د سرخوګی دا رنګه هر مرض له دوی الهه نيولی وو.

قرآن كريم څكه مسئله د توحيد بعنوان الا اله ډير ذكر كوی سورة الصفنت ۳۵ انا كذالك نفعل المجرمين . انهم كانوا اذا قيل لهم لا اله الا الله يستكبرون . سورة ص ۵ اجعل الا لهة الها واحدا ان هذا لشئ عجاب سورة الزمر ٤٥ واذا ذكر الله وحده اشمازت قلوب الذين لا يؤمنون بالاخره واذا ذكر الذين من دونه اذا هم يستبشرون. نبي ﷺ چې كله دا مسئله بيان كړه هر چا ورته امين او صادق وئيل كله چې نبي ﷺ دا مسئله بيان كړه نو بيا ورته ليوني او ساحر وئيل دا څكه چې د اله تشريح خلقو ته اوكړه . دا رنګه اوس هم چې خلقو ته وائې چې مالك د خير او د نفعې صرف الله دې نو خلق وائي دا شر جوړه وی بې اتفاقي پيدا

کوی چې دغه يوه مسئله دې موندلې ده د مونځ د حج، د زکوٰة، د اودس مسئلې نه کوی او چې کله ته داسې وائې : معين الدين اجميری زمين و آسمان تيرے هے. او شمس تمريز بابا ملتان کښې نمر را کوز کړی ده، او لوئې ځوان د دولسو کالو ډوبه کشتئ راويستې وه، او قلندر بابا درياب کچکول کښې بند کړی وو دا خبره چې ته اوکړې نو دوی خوشحاله شی، وائی به واه ، واه، واه څه ښائسته مسئله اوکړه.

سورة الفرقان ٤٢ او سورة الاعراف ٧٠ قالوا اجئتنا لنعبد الله وحده ونذر ما كان يعبد آباؤنا فاتنا بما تعدنا ان كنت من الصدقين. هود عليه السلام شپږ زره کاله مخکښې دا بيان کړې وه سورة هود ٥٣، ٥٤ قالوا يا هود ما جئتنا ببينة وما نحن بتاركى الهتنا عن قولك وما نحن لكه بمؤمنين. سورة الاسرى ٤٦ سورة المومن ١٢ سورة الاسرى لكه. واذا ذكرت ربك فى القرآن وحده ولو على ادبارهم نفورا. سورة مومن ١٢ ذلكم بانه اذا دعى الله وحده كفرتم وان يشرك به تؤمنوا فالحكم لله العلى الكبير. سورة الحج ٧٢ واذا تتلى عليهم آيتنا منتم تعرف فى زجوه الذين كفروا المنكر يكادون يسطون بالذين يتلون عليهم ايتنا قل افانبئكم بشر من ذالكم النار وعدها الله الذين كفروا وبئس المصير.

النار مفرددی متعلقات اوباسه لك النارِ فيك النار، منك النار، عليك النار، هوالنار.

اقسام المشركين

اوس دا پيژندل غواړي چې مشركين په څو قسمه دي. نو مشركين په څلور قسمه دي (۱) المشركين بالعباد الصالحين (۲) المشركين بالكواكب (۳) المشركين بالملائكة (۴) المشركين بالجن. مونږ انشاء الله مختصره طريقه سره.

المشركين بالعباد الصالحين:

دا هغه خلق وو چې دوی نيكان بندګان ته الهه وئيلې چې د عباد الصالحين شكلونه به ئې جوړول او وئيلې به ئې چې دې ته روغ راځي او مونږ دوی ته حاجتونه پيش كوؤ او بيا دوی الله ته وړاندې كوي او قبلوي، او داسې هيڅوك نشته چې هغوی د يوې ګټې يا اونې عبادت هسې كوی بلكې د څه وجې نه ئې كوؤ او وجه دا ده چې چا وئيلې دلته فلانې ولی بنده د الله ناسته كړې ده يا تكيه لګولې ده او دا مشركين په قرن ثانی او ثالث كښې پيدا شوی دی. اول دا قسم مشركين د نوح عليه السلام قوم كښې وو واقعه داسې وه چې ود، سواع، يغوث، يعوق، نسر چې دا نيكان بندګان اولاد د آدم عليه السلام چې كله دا كسان مړه شول نو شيطان خلقو ته اووئيل چې دوی سره ستاسو د مشرانو مينه وه د دوی شكلونه جوړ كړئ چې مينه تازه شي او ستاسو به عبادت كښې شوق پيدا كيږی. همداسې اوكړه بيا د هغوی نه بعد نورو ته اووئيل چې ستاسو مشرانو د دوی عبادت كوؤ خلقو عبادت د بوتانو شروع كړو او تر لسم قرن پورې هيچا د بوتانو

عبادت نه وو کړی دې نه ورستو بيا شروع کړو. څکه ابن عباس فرمائی کان بين آدم عليه السلام و نوح عشرة قرون کلهم علی الاسلام د دې نه ورستو شرك شروع کړو خلقو نو الله پاك رد د شرك لپاره نوح عليه السلام اوليرلو. څکه امام بخاری هم باب ايښې دې چې كيف بدء الوحی الی النبی "نو بيا دا آيت ذكر كوی چې انا اوحينا اليك كما اوحينا الی نوح د نبی د وحی تشبيه ورکړې ده د نوح عليه السلام وحی سره دا د دې وجې نه چې مخکښې پيغمبرانو صرف امر بالمعروف کړې دې او نوح عليه السلام رد د منكر د شرك رد هم کړې وو او نبی عليه السلام هم امر بالمعروف او رد د شرك کړې دې. او تفسير ابن كثير ٤٣٦ دې آيت لاندې ليكی الله فرمائی وقالوا لا تذرن الهتكم ولا تذرن ودا ولا سواعاً ولا يعوث ويعوق ونسراً. د عروه بن الزبير نه ليکلی ده چې کله آدم عليه السلام بيمار شو وكان عنده ودسواع يعوث ويعوق ونسر، كان ودا كبرهم وابراهيم به» او ابن عباس فرمائی وكان وديقاله شيث ويقال له هبة الله وكان اخوته قد سودوه چې دا شرك کړې وو. او شيخ الاسلام الحافظ ابراهيم په اغاثة عنان جلد ۲، ص ۲۰۲ او علامه ابن تيميه په خپل كتاب الرد علی المطقين ۱۸۵ کښې پوره وضاحت کړی دې. او محمد بن قيس هم ذكر کړې دې چې كانوا قوماً صالحين بين ادم و نوح چې دا نيكان خلق وو كله چې وفات شول نو خلقو د دوی شكلونه جوړ كړل او كلبی وائی چې عمرو بن لحی چې د دوی

شکلونه جوړ کړل او د شرك په عربو کښې خواره کړل. په بخاري کښې ذکر دی ابن عباس نه دې آیة لاندې افریم اللات والعزی اللات کان رجلاً صالحاً یلت السویق للحجاج. امام رازی فرمائی العاقل لا یعبد الصنم من هیث انه خشب او حجر بل انما یعبدونه لاعتقادهم انها تماثیل الکواکب او تماثیل الارواح السماویة او تماثیل الانبیاء والصالحین۔

امام الائمة شاښ ولی الله الدهلوی فرمائی وما من بلدة الاولها الهة تعبد او قرآن پاك د نیکانو بنډګانو عاجزی ذکر کوی چې دوی خپله محتاج وو تاسو له څه در کړی لکه سورة کهف ۱۰۲.

افحسب الذین کفروا ان یتخذوا عبادی من دونی اولیاء انا اعتدنا جهنم للکافرین نزلا o

دا رنګه سورة الاحقاف ۴، ۵، ٦ الله تعالیٰ فرمائی چې دا ټول عاجز محتاج دی نو ستا به څنګه مدد اوکړی

شعر: جو خود محتاج هوئے دوسرے کا

بهلا اس سے مدد مانگتا هے کیا

سورة الانبیاء ۸۳، وایوب اذ نادی ربه انی مسنی الضر وانت ارحم الراحمین.

ایوب علیه السلام اتلس کاله ۱۸ بیمار دې او الله تعالیٰ ته فریاد کوی چې ماته تکلیف رسیدلې دې ما بچ کړه الانبیاء: ۸۷

وذالنون اذ هب مغاضباً فظن ان لن نقدر علیه فنادی فی الظلمت ان لا اله الا

انت سبحانك انى كنت من الظالمين ٥ ظلم په معنى د نقصان سره دي يعنى فرمائى چې زه د هغه چا نه چې اسباب د نجات ورسره كم دى ذكريا عليه السلام وائى: الانبياء ٨٩، سورة مريم ٢، ١٥، ٣٣ آل عمران ٣٥، ٥١ كښې حضرت عيسى عليه السلام فرمائى چې ان الله ربى وربكم فاعبدوه هذا صراط مستقيم ٥ ٣٧ سورة الصافات ٨٥ او سورة فاطر ١٥ كښې الله تعالى فرمائى:

يا ايها الناس انتم الفقراء الى الله

اې خلقو تاسو ټول محتاج ئى الله تعالى ته دا جامع الفاظ دى ځكه چې الناس كښې انبياء عليهم السلام، اولياء كرام، ملنګان علماء، طلباء، سياستيان او بادشاهان وزيران ټول شامل دى دا ټول محتاج دى.

ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه فرمائى:

طلبنا الفقر فاستقلبا الغنى: وطلب الناس الغنى فاستقبلهم الفقر

الدرس الخامس:

المشركين بالكواكب

نن باقى درې ډلې ذكر كوو دويمه ډله مشركين بالكواكب دى دا هغه خلق دى چې سپوږمى، ستورى او نمر الله تعالىٰ سره حصه داران ګرځوى چې د هغې هياكل او شكلونه ئى جوړ كړې وو او د هغې عبادت به ئى كولو متصرف او ټكره رسوونكې به ئى ګڼړل دې

خلقو ته صائبین وئیلي کیدل نن صبا هم اکثر داسې خلق شته چې په
عالم کښې ستوری متصرف ګڼږي او د ستورو په ذریعې سره قسمت
معلوموی او نجومیان ورته وئیلي کیږی لکه وائی چې دا ستاره د
خوش قسمتۍ ده او دا ستاره د بدقسمتۍ ده لکه کبیر الریاضین ابن
الهیثم چې د ابو منصور السفاح په وخت کښې وو المتوفی ۱۲۹ ه
چې دریمه صدۍ کښې تیر شوي دي دا په دې خلقو رد کوی ځکه
چې د کواکبو د طلوع سرعت خو داسې وو چې انسان حیرانوی ځکه
چې دا دومره تیزۍ سره زی چې په مقدار د رفع الیدو وضعه علی
الارض کښې یو سیکنډ (دقیق) کښې دوه نیم زره میله مسافت رفتار
کوی نو دا څنګه کیدلې شی چې دومره وخت کښې د چا د اولاد
قسمت معلوم کړی دا خبره دوی غلطه کوی فقط خلقو ته دهوکه
ورکوی دا د دوی حماقت دې بیوقوفی ده چې رجماً بالغیب وائی چې
مونږ ستا قسمت معلوموو د انسان د نیك بختۍ او کم بختۍ
فیصلې او اختیار صرف الله تعالیٰ سره دې اوس زمونږ په دې وطن
کښې هم دغه شان خلق دی چې وائی شمال طرف ته مخ او شا مه کوئ
ځکه چې قطب شمالی طرفته زره قبله وه جواب دا دې چې دغه
طرفته د صائیبینو قبله وه او مونږ په دې نه یو مامور چې د هغوی د
قبلې تعظیم دې اوکړو او مونږ په اقلیم رابع کښې یو خلاصه دا چې د
کاهن تصدیق کول هم منع دی نبی علیه السلام فرمائی من صدق
کاهناً فقد کفر بما اُنزل علیٰ محمدٍ صلی الله علیه وسلم ، او دې صائبینو

سره حضرت ابراهیم خلیل الله خبره کوی او قرآن کریم د کواکبو عجز بیانوی چې دا خو خپله مملوك دی لکه حضرت ابراهیم علیه السلام خپل قوم ته خطاب کوی سورة الانعام ۲۱ فلما جن علیه اللیل رء اکو کباً قال هذا ربی فلما افل قال لا احب الآفلین ٥

دغه شان ۷۷، ۷۸، ۷۹ حضرت ابراهیم علیه السلام یواځې ولاړ دې او د خپل پلار، بادشاه او د ټول قوم مقابله کوی مولانا روم رحمة الله علیه فرمائی خپل کتاب مثنوی کښې چې :

انذرین وادی مروتو بی دلیل

لا احب الآفلین گوچون خلیل

خومره بهتر انداز کښې بیان کوی قدم په قدم تیزیږی اول د هغوی په باطل معبودانو باندې رد کوی بیا ورته گمراهان وائی بیا ورته وائی تاسو مشرکان ئی چونکه د حضرت ابراهیم علیه السلام قوم ستوری پرست وو نو دوی د ستورو نه شروع اوکړه او هغه غټ چې نمر دې په هغې ئی اودرول.

دغه شان قرآن کریم د کواکبو عجز ذکر کوی سورة الرعد: ۲

الله الذی رفع السموات بغیر عمد ترونها ثم استوی علی العرش وسخر الشمس والمقر کل یجری لاجل مسمی یدبر الامر یفصل الآیات لعلکم بلقاء ربکم توقنون ٥

اګوره نمر د الله تعالیٰ تابع دې او سپوږمۍ د الله تعالیٰ تابع ده نو اې انسانه ته د هغې عبادت کوې؟ او په هغې قسمت معلومو ې

شاعر وائی:

تدبر بالنجوم ولست تدری

ورب النجم یفعل ماشاء

سورة یٰسٓ ۳۹، والشمس تجری لمستقرلها ○ ذلك تقدیر العزیز العلیم

○ والقمر قدرناه منازل حتی عادکالعرجون القدیم ○

سورة النجم ٤٩ وانه هو رب الشعری چې همدغه الله مالك د شعری ستوری دې . د عربو یوه ډله د شعری ستوری عبادة به کوله او الله فرمائی د شعری ستوری مالك زه یم. الامام الفسر الفخر الرازی لیکی: وکثیر من الناس یعبدون الشمس والقمر وانجوم ویتعقدون انها حبة عاقلة نطقة جلد ۲ ص ۲۲۱

المشرکین بالملائکة

دا داسې خلق وو چې ملائك به الله کنړل او په خپلو حاجتونو کښې به ئی ورته چغې وهلې اورا مدد شې به ئی ورته وئیلې، او دا مشرکان په امیانو کښې هم وو او په فلاسفو کښې هم فلاسفه دوی ته جواهره مجرده انتظام چلونکی د دنیا وئیلې او دا مسمی کړی وو په عقول سره ځکه دوی وائی چې الله پاك اول عقل اول پیدا کړې او عقل اول اولګیده عقل ثانی او فلك اول پیدا کړه تر دې چې عقل عاشر فلك تاسع پیدا کړه او عقل عاشر عقل فعال دی او مدبر د عالم دې په عربو کښې هم داسې ډلې وې چې د ملائکو عبادة به کولو ځکه چې د قوم

3 رهنما لاربښودونکی چې نوی هغه قوم په غلط لاره روان وی نو الله احسان اوکړو محمد ﷺ راوليږو د شرك، او د كفر ظلمت تياره ختم شو صبا ، رنړا د توحيد او سنت طلع اوکړه، نو الله پاك قرآن كريم كښې د ملائكو عجز او محتاج والى بيان كوى فرمائى چې ملائك خپل الله ته محتاج دی هغوی د بل چا امداد نشی کولی .

لکه سورة سباء ٤٠ ويوم يحشرهم جميعاً ثم يقول للمائلكة اهؤلاء اياكم كانوا يعبدون قالوا سبحنك انت ولينا من دونهم بل كانوا يعبدون الجن اكثرهم بهم مؤمنون ـ آية كښې رد على المشركين بالملائكة وعجز الائكة.

سورة النجم ۲۷، ۲۸ ان الذين لا يؤمنون بالاخرة يسمون الملائكة تسمية الانثى. وما لهم به من علم . سورة الصّٓفّٰت آيت: ١، والصّٓفّٰت صفاً ٥ فالزّٰجرات زجراً ٥ فالتاليات ذكراً ٥

په ١٦٥، ١٦٤ سورة مريم ٦٤ وما نتنزل الا بامر ربك له ما بين ايدينا وما خلفنا وما بين ذلك وما كان ربك نسياً ٥

(۳) المشركين بالجن

دا هغه خلق وو چې پيريان ئی الله تعالیٰ سره شريك او همه دار كرځولې وو او د پيريانو عبادت به ئی كولو او عالم بالغيب او مدد گاران به ئی گنړل او داسې خلق زمونږ ملك كښې هم شته چې د دروغو تعويذونه جوړ كړی بيا خپل ځان په زوره پيريانې كړی او بيا خلقو ته وائی چې په تا باندې چا تعويذ كړې دې تعويذ درله راؤباسم

کله وائی ستاسو کور کښې ښځ کړې دې ته جواب ورکړه چې که دومره تکړه ئی نو د انډیا او د بینکونو نه ډالر اوباسه کنه.

ابن جریر لیکی چې کان الرجل فی الجاهلیة اذا ینزل الارض فیقول اعوذ بکبیر هذا الوادی.

او حافظ ابن کثیر عن عکرمه ذکر کوی کان الجن یفرقون من الانس کما یفرقون منهم او اشد فکان الانس اذا نزلوا وادیاً هربت الجن بیا دوی مزه واخستله تر دې پورې چې اولته شوه او خلق آوازونه کوی چې پیریانو ماماګانو زمونږ غوته را کړئ او خپله غوته واخلئ او قرآن کریم د خلقو په دې عقیدې باندې رد کوی.

سورة الانعام ۱۲۸، وجعلوالله شرکاء الجن وخلقهم وخرقواله بنین وبنات بغیر علم سبحانه وتعالیٰ عما یصفون ٥

زمونږ په دې ملك کښې مشرکین بالجن ډیر دی جنات په عیبو باندې خبر دار ګڼړی حالانکه عالم بالغیب صرف یو الله تعالیٰ دې.

سورة الانعام: ویوم یحشرهم جمیعاً یمعشر الجن قداستکثرتم من الانس وقال اولیؤهم من الانس ربنا استمتع بعضنا ببعض وبلغنا اجلنا الذی اجلت لنا قال النار مثواکم خالدین فیها الا ماشاء الله ان ربك حکیم علیم ٥

ابن حاکم د کردم ابن ابی السائب الانصاری نه نقل کوی او وائی چې زه خپل پلار سره د ضرورت د پاره په یو سفر روان شوم چې مونږ ته پیښ شوې وو.

وذلك اول ما ذكر رسول الله صلى الله عليه وسلم بمكة فاوينا المبيت الى راعي الغنم فلما انتصف الليل جاء ذئب فاخذ حملاً من الغنم فوثب الرعي فقال: ياعامر الوادي جارك فنادى مناد الانراه ياسرحان ارسله.

ترجمه: زمونږ شپه د يو شپونكى سره راغله هر كله چې نيمه شپه شوه زمرې راغې او يو ګډه ئى او چته كړه شپونكى ټوپ اووهلو او وې وئيل چې اې د دې كندى ذمه داره د ګاونډى مدد اوكړه نو آواز كوونكى آواز اوكړو چې اې سرحان پريږده ګډه نو بيا هغه پريښودله او په هغه ګډ باندې د زخم هيڅ اثر هم نه وو نو مونږ پوښتنه اوكړه چې څنګه چل دې نو شپونكى اووې چې هر كله زه وړومبې دې ځائى ته راشم نو د دې كندى د مشر په نوم يو منښته اوكړم نو بيا زما ګډې ساتى دې وائى چې بيا مونږ نبى عليه السلام ته اووئيل نو اصل كښې دا دوه شيطانان وو چې يو به د ځان نه شرمخ جوړ كړو او بل به خپل ځان ګډ جوړ كړو دا ټوقه پيريان مبتدعين ملايانو سره هم كوى څكه د هغوى عقيده خرابوى.

قال شيخنا علامه طيب صاحب چې شيخ القرآن وئيلې دى چې زه د شيخ حسين على صاحب سره ووم او حضرت صاحب يو زميندار سرې وو دوى به په غويانو هيوى (قولبه) كوله يوه ورځ حضرت صاحب پټې كښې وانبه ريبل او ما ورله ګيډى ترل نو اچانك درې سپين ږيرى ملايان ښكاره شو نو ماته حضرت صاحب وئيلې وو چې دوى باندې كار مه كوه نازك خلق دى سورى ته ئى كينوه او اوبه پرې

اوڅکوه او ما ورته اشاره اوکړه چې راشئ کار اوکړئ نو دوی راغلل یو څو کيډو سره تربې خولې اوبهيدلې نو بيا دې ملايانو اووې چې ملاقات ته راغلي يو او واپس زو نو حضرت صاحب هغوی رخصت کړل او دا خلق درس له راغلي وو نو ما حضرت صاحب ته اووې چې داسې خلق چې نازك دی دوی ته د توپك چل مه ښايه دوی بيا دين خرخوی او حسين على صاحب به شيخ القرآن ته جن وئيلي ځکه چې دا ماشوم وو او ډير کتابونه ئی وئيلي وو او ذهين وو.

د شيخ واقعه :

يو ځل حسين على صاحب له څو کسانو اوښه راوستله او وې وئيل چې دې اوښ د فلانی زيارت ثانگه خوړلې ده او ليونې شوې ده حسين على صاحب يو طالب له لخته ورکړه او ورته ئی اووې چې لا حول ولا قوة اووايه او دې اوښ له لخته راپريږده ځکه چې شيطان ورننوتي دې هغه طالب چې اوښ ته ورنزدې شو نو اوښ پرې راغړم وهل نو طالب ترې اوتختيدلو بيا حضرت حسين على صاحب اووې چې ورشئ حضرت شيخ محمد طاهر ته آواز کړئ نو شيخ صاحب ته خبر ورکړې شو نو شيخ صاحب لاړو او لا حول ولا قوة ئی اووې چې هغې را مباړې وهل نو شيخ ورله په لخته شونډه اووهله او را تيك ئی کړه او بيا ئی په ټول ميدان کښې اوګرځوله او صحيح او جوړه شوه.

بله واقعه :

د شيخ صاحب يو مشين وو يو شپه هغه مشين ته لاړو نو خپلو كسانو ورته اووې چې بيګاه داسې پوليس مونږ ډير تنګ كړو هغه اووې ولې؟ نو هغوی ورته اووې چې پرون د مياګانو نيكه (ميان ګل بابا) د قبر نه جهنډې چا شلولې دی او دعوه ئی په تاسو كړې ده شيخ اووې چې پوليس والا كوم ځائی كښې دی ؟ هغوی ورته اووې چې د مياګانو په ځائی كښې دی شيخ هلته لاړو چې مياګانو اوليدلو نو پوليس ته ئی اووې چې هغه كس دا دې پوليس شيخ ته اووې چې چرته تښتيدلې وې ؟ شيخ ورته اووې چې حئوك اوتښتی نو بيا واپس نه راځی خو څه چل دې وايه ؟

پوليس واقعه بيان كړه شيخ اووې چې دوی دې اووائی چې دا ده شلولې ده يا سوزولې ده او بيا روغ تلې دې او اوس روغ راغې نو مياګانو هيڅ غږ نه كولو ځكه چې بيا خو د شيخ مسئله ثابت كيدله نو پوليس په هغوی باندې راباندې كړل چې هسې مو رپورټ كړې دې او اوس خبرې نه شی كولې فاعتبروا يا اولى الابصار من هذا الواقعه.

قرآن كريم كښې الله تعالىٰ عجز د جناتو ذكر كوی او په مشركين بالجن باندې رد كوی لكه الصافات ۱۵۹ وجعلوا بينه وبين الجنة نسباً ولقد علمت الجنة انهم لمحضرون ۰ سبحان الله عما يصفون ۰

سورة الجن ٦ ، سباء ١٤ : فلما قضينا عليه الموت ما دلّهم على موته دابّة الارضِ تاكلُ منسأته فلما خر تبينت الجن أن لو كانوا يعلمون الغيب ما

لبثوا فی العذاب المهین.

الله تعالیٰ احسان اوکړو چې پیغمبر ئی راؤلیږلو او د شرکیاتو او رسمونو رواجونو رد ئی اوکړو د حضرت عیسی علیه السلام نه روستو ۲۴ حق پرست تیر شوې دی دوی انبیاء نه وو خلقو چې الله تعالیٰ سره شرك کولو نو دوی ئی مقابله کوله په شعرونو کښې هم دوی مقابله کړې ده جاهلانو به د خپلو باطلانو مددګارانو مدح کوله او مسلمانانو به د هغې رد کولو لکه یو شاعر وائی:

فسوف تری اذا انکشف الغبار : افرس تحت رجلك ام حمار
ارب یبول الثعلبان براسه لقد هان من بالت علیه ثعالب

مطلب دا چې اوس به درته هر څوك ښه سرې ښکاری کله چې قرآن اووائې نو تاته به پته اولګی چې څوك حق پرست دې او څوك باطل پرست دې؟

د جاهلیت د زمانې حق پرست زید بن عمرو بن نفیل چې خلقو وهلې وو نو په مخ ئی اوخکې بهیدلې هغه دا اشعار وئیلي دی.

ارب واحد ام الف رب : ادین اذا تقسمت الامور
ترکت اللات العزی جمیعا کذلك یفعل الرجل البصیر
فلا عزی ازور ولا ابنتیها ولا صنمی بنی غم الزور
ولا هبلاً ازور وکان رباً لنا فی الدهر اذا حلمی صغیر

دغه شان د جاهلیت زمانه کښې یو سرې راغلي دې او نذر ئی

راؤړې دې او دربار کښې ئې ايخودلې دې او روان شوې دې نو بيا ګيدړ راغلې دې هغه خوراك ئې خوړلې دې بيا ئې هلته متيازې کړې دې چې هم خوراك او خورم او هم متيازې اوکړم شاعر وائی :

ارب يبول الثعلبان براسة : لقد هان من بالت عليه ثعالب

لو كان رباً كان يمنع نفسه : فلا خير فی رب فاته المطالب

دغه شان لات يو نيك سړې وو لکه امام بخاری صاحب ليکی چې اللات کان رجلًا صالحاً يلت السويق للحجاج ليکن خلقو د وفات نه پس د هغه شکل او مجسمه جوړه کړه او د هغې عبادت ئې شروع کړو نو مؤحد په دغه مقام کښې اشعار وائی او منجور ولاړ دې .

لا تنصر اللات ان الله مهلكها : وكيف ينصركم من ليس ينتصر

ان التی حرقت بالنار فاشتغلت : ولم تقاتل ادی احجارها هدر

ان الرسول متی ينزل بساحتکم : يظعن وليس بها من اهلها بشر

دغه شان د عزی په نوم يوه اونه وه چې خلقو به د هغې عبادت کولو او نذرونه به ئې منل او دې اونې به آواز کولو چې قبول نو خلقو به وئيل چې اوګوره زمونږ نذر قبول کړې شو حضرت خالد رضی الله تعالیٰ عنه راغې د دې اونې د کټ کولو د پاره نو منجور اووې چې مه کټ کوه ګنې شکست به درله درکړی او دا نه شې پريکولې او منجور دا اشعار اووې:

اعزی شدی شده لا تکذبنی : علی خالد القی الخمار وشمری
فانك الیوم ان لا تقتلی خالداً : تبؤی بذلی عاجلاً وتنصری

او هر کله چې حضرت خالد رضی الله تعالیٰ عنه د پریکولو اراده اوکړه نو وې فرمائیل:

اعزی کفر انك لا سبحانك : انی رایت الله قد اهانك

بیا حضرت خالد رضی الله تعالیٰ عنه د هغې اوښې سر پریکړو او خزاعی خپل بت باره کښې وائی:

اتیت الی نهم لا ذبح عنده : عتیرة نسك کالذی کنت افعل
فقلت لنفسی حین راجعت عقلها : اهذا اله ابکم لیس یعقل
ابیت فدینی الیوم دین محمد : اله السماء. الماجد المتفضل
تراهم حول قبلتهم عکوفاً : کما عکفت هذیل علی سواء
تضل جنابه صرعی لدیه : عقائر من ذخائر کل داء
والله لو کنت الهاً لم تکن : انت و کلب وسط بئر فی قرن
اف لملقاك الها مستدن : الآن فتشناك عن سوء الخین
الحمد لله العلی ذی المنن : الواهب الرزاق دیان الدین
هو الذی انقذنی من قبل ان : اکون فی ظلمة قبر مرتهن

انواع الشرك :

الله تـعالىٰ سره شرك په ډيرو قسمونو كيږى او شرك اولاً په دوه قسمه دي:

١: شرك اعتقادى ٢: شرك فعلى

يـعـنـى پـه عـقيـده كښي شرك او په عمل فعل كښي شرك او شرك اعتقادى په څلور قسمه دي

١: شرك فى الـعـلـم ،٢: شرك فى التصرف ،٣: شرك فى الدعاء، ۴: شرك فى العبادة

شرك فى العلم :

تـعريف ئى دا دي چې شرك فى العلم ديته وائى چې د يو سړى دا عـقـيـده راشـى چې د الله تـعـالىٰ نه بغير بل څوك زما په پټو حالاتو پو هه او خبر دي يعنى كوم علم چې الله تعالىٰ پوريې خاص دي، ولى يا پيـر وغيـره بـغيـر د اسبـابـو نـه پـه هر څه خبردار دي او عالم په ماكان او مايـكـون دي لـكـه د مـاشـو نـه چې څه څيز ورك شى نو وائى پيريانو ماماګانو خپـل څيـز واخـلـئ او خپل څيز راكړئ لكه زمونږ پښتنو كښي دا خبره عامه ده چې څوك څه ناشنا خبره اوكړى نو وائى خالص ولى دي يا داسې وائـى چې څه بزرګ ئى مطلب د دي دا وى چې ولى پـه غيبـو بـانـدي پـو هيـږى دا شرك دي نو قرآن كريم دا ثابتوى چې په غيبـو عـالـم او عـالـم بكل شئ صرف يو الله تعالىٰ دي او د الله تعالىٰ نه بـغيـر بـل هيڅوك بغير د اسبابو نه په څه نه پو هيږى لكه سورة الانعام

۳ وھو اللہ فی السموات وفی الارض یعلم سرکم وجھرکم ویعلم ما تکسبون o اللہ تعالیٰ علم کلی خپل ځان لہ ثابتوی.

نکته: دې آیت کریمه کښې درې الفاظ ذکر دی ۱: د زړه خبره چې پټه وی نو هغې ته سر وائی ۲: چې په خوله ئی وائی نو هغې ته جهر وائی ۳: چې په خپو او لاسونو ئی کوی نو هغی ته کسب وائی نو اوس په دې درې واړه کارونو اللہ تعالیٰ ښه پو هیږی او غیر اللہ نه پو هیږی.

دغه شان د پیغمبر نه نفی د علم غیب کوی لکه الانعام ۵۰ قل لا اقول لکم عندی خزائن اللہ ولا اعلم الغیب. الغیب هغې ته وائی چې خواصونه وی چې په حواس خمسه سره نه معلومیږی چې په سترګو نه ښکاری، په پوزه نه بوئیږی، په غوږونو نه اوریدلې کیږی، په لاسونو نه مسحه کیږی.

اللہ تعالیٰ دا علم غیب خپل ځان لره ثابتوی او د غیر نه نفی کوی الانعام ۵۹: وعندہ مفاتح الغیب لا یعلمھا الا ھو ویعلم ما فی البر والبحر وما تسقط من ورقۃ الا یعلمھا ولا حبۃ فی ظلمٰت الارض ولا رطب ولا یابس الا فی کتاب مبین o

چې په خزان کښې د اونو نه څومره پاڼې غورزیږی اللہ تعالیٰ فرمائی چې زه د یوې یوې پاڼې باندې خبردار یم بیا فرمائی چې دریاب نه خبردار یم، او چې نه خبردار یم بیا لږ پورته لاړ شئ فرمائی د پورته نه

چې پانړه پریوځی په هغې باندې زه خبردار یم ښکته زمکه کښې چې
څه دی په هغې خبردار یم داله څه کوې چې په هره لمده او اوچه
پوهیږم او خبردار یم.

دغه شان الانعام ۲۳ عالم الغیب والشهادة پوهه دې په پټو او
ښکاره نو دا علم د الله تعالیٰ خومره دې نو الانعام ۵۰ اوګوره وسع ربی
کل شئ علما څه یو یو درته وایم چې د دریاب نه زه خبریم الخ افلا
تذکرون تاسو پند او نصیحت نه اخلئ

راشه لږ قرآن ته غور کیده چې په مسئله پوهه شې او کله
کله هغه غوره مخلوق یعنی ملائك د هغوی نه د علم غیب نفی کوی
چې ملائك خپله اقرار کوی چې مونږ په غیب باندې نه پوهیږو بقرة
۳۲، ۳۳ اوګورئ ملائك فرمائی انك انت العلیم الحکیم خومره
حصر سره ئی ذکر کوی انك یقیناً نه انت خاص ته پوهه او حکمت والا
ئی.

دغه شان د نبی علیه السلام نه هم چې سردار د انبیاء کرامو
علیهم السلام دې د علم غیب نفی کوی لکه الاعراف ۱۸۸)
قل لا أملك لنفسی نفعًا ولا ضرًا الا ماشاء الله ولو كنتُ أعلمُ
الغیبَ لاستکثرتُ من الخیر وما مسنی السوءُ ان أنا الا نذیر و بشیر لقوم
یؤمنون ٥

نبی کریم علیه السلام فرمائی چې زه په غیب باندې

پـو هيـدلې نو ډېر خير به مې جمع کړې وو او کله کله الله تعالیٰ ځان له علـم غيب ثابتوی لکه النمل ٦٥: قل لا يعلم من في السماوات والارض الغيب الا الله وما يشعرون أيان يبعثون ٥

لـفـظ د الا ئـی ذکـر او دا لـفـظ د حصر د پاره راځی په دې باندې علـمـاء کـرام پـو هيږی فرمائی دوی ته پته نشته علم نشته چې کله به پـورتـه کـړې شـی خپـل ځان نـه خبر نه دی ستا د حال نه به څنګه خبر شـی؟ او مشرك وائی مه چيرې دا د برخې خاوندان دی ته نفی کړه په دې آيتونو سره.

دغه شان الاحقاف ٦ کښې هم دغه شان فرمائی المائده کښې چې ټـول انبيـاء کـرام پـه غـيبو باندې نه پو هيږی او خپله به اقرار کوی چې مـونږ تـه پته نشتـه او کله ځان له د حضرت عيسی عليه السلام علـم غـيـب نـفـی کـوی لکه المائده ١١٦، ١١٧ اوګورئ دا ځکه چې د هغـه عبادت ډير شوې وو اوګوره حضرت عيسی عليه السلام څو مره په ادب جواب ورکوی د ادب ناك سړی خبرې هم د ادب وی او د بې ادبه سړی خبرې هـم د بې ادبـی لکه مثلاً ته يو شاګرد ته اووائې چې تا ما پسـی خبـرې کـړې دی نـو شـاګرد چې با ادب وی هغه وائی جی تاسو د دې نـه پـاك ئـی تـاتـه بـه څـوك ضدی وائی او ماله څه مناسب دی چې تـاسو پسې خبرې اوکړم دريم ځل به وائی جی که ما وئيلې وی نو تاسو ته به چا وئيلې وی ما هغه سره مخامخ کړئ او څلورم ځل به وائی چې جی ما نه دی وئيلې او چې بې ادبه شاګرد وی هغه به وائی چې ما کله

وئيلې دی دروغ وائی دغه شان حضرت عيسیٰ عليه السلام د ادب خبره کوی او فرمائی چې سبحنك پاك ئی خدایه د شرك نه دويم ځل باندې فرمائی ما يكون لی! چرته زه او چرته دا خبرې وړه خوله او غټی خبرې دريم ځل باندې فرمائی ان كنت قلته فقد علمته علم وسيع د الله تعالیٰ بيانوی چې که چرته ما وئيلې وی نو ته پرې خبردار ئی او دغه شان الله تعالیٰ د پيريانو نه هم د علم غيب نفی کوی ځکه پښتنو نه څه څيز ورك شو نو وئيل به ئی چې پيريانو ماماګانو خپل څيز واخلئ او خپل څيز راکړئ او بعضې خلق وائی فلانی آبې کښې خاپيری دی او دا به فيشن سره ناسته وی او ښځې به ورله راځی دا ښځې په پيسو لګولو سترې شی او خاوندان ئی په ګټلو سترې شی.

شيخ القرآن علامه محمد طيب صاحب يو قصه بيانوله چې زما يو دوست وو هغه ويل چې ما پسې يو دوست راغې چې فلانی ځائی کښې سرې دی ورله ځو ما ورته اووې چې زه نه ځم نو هغه اووې چې ته د دې نه ويرېږې چې د ګاډی تيل به مې ختم شی نو ما اوويل رازه چې ځو لاړ شو نو هلته ئی هغه ته اووې چې ما باندې چا څه کړې دی نو هغه ورته اووې چې چا درباندې کوډې کړې دی لږ ساعت پس د پورته نه يوه جرنده او د خپلی ميخو نه او ويښته راؤغورزيدل نو چې روان شو نو ده ماته اووې چې ګوره تاسو ئی نه منئ دا تاله زمونږ د کور ده او ميخونه زما د خپلې دی او ويښته زما د سر دی نو زه غلې شوم نو هغه ته ئی اووې چې څو شکرانه شوه هغه ورته اووې چې

پانچ سو ۵۰۰ نو هغه ئی ورکړې چې ګاډی کښې کیناستلو او را روان شو نو لار کښې ئی راته بیا خبره شروع کړه چې ګوره تاسو ئی نه منئ نو ما ورته اووې جرندې ټولی یو شان وی اکثراً او میخونه ټول یو شان وی او د سر ویخته هم یو شان وی او بله خبره دا واوره چې دا خیزونه ئی ستاسو د نغری نه راویستل او بیا ئی هم ستا سو پیسو ته لاس نیولې دې د امریکې د بنیك نه ئی پیسې ولې نه راؤښکلې نو هغه سوچ کولو چې دا خو دې نااشنا خبره اوکړه نو قرآن پاك د پیریانو نه علم غیب نفی کوی لکه سبا ۲۳ چې هر کله ټول انبیاء علیهم السلام او ملائك ، اولیاء کرام او پیریان په غیبو نه پو هیږی نو عالم الغیب څوك دې ؟ جواب دا دې چې عالم الغیب صرف او صرف یو د الله تعالیٰ ذات اقدس دې

الشرك في التصرف :

تصرف اختیاراتو ته وائی لکه څوك مالدار کول، څوك فقیر کول، چاته اولاد ورکول، چاته نه ورکول، څوك بیمارول، چاته شفاء ورکول او شرك په تصرف کښې دا دې چې د یو سړی دا عقیده پیدا شی چې د الله تعالیٰ نه بغیر بل څوك هم متصرف شته مالك د نفع او ضرر شته قرآن پاك دا بیان کوی چې متصرف د الله تعالیٰ نه بغیر هیڅوك نشته بلکه ټول اختیارات صرف د یو الله تعالیٰ دی لکه فرمائی سورة الانعام ۱۷: وان یمسسك الله بضر فلا كاشف له الا هو ٥ وان

يمسسك بخير فهو على كل شئ قدير ٥

نحاة وائی چې لا نفی د جنس کوی معنی دا شوه که الله تعالیٰ درباندې تبه راولی يا درباندې دانې راؤ خيژوی يا درباندې تکليف راولی نو د لا توره ورخلاصه کړه چې فلا کاشف له الا هو نو غير الله ئی درنه لرې کولې نه شی نبی کريم ﷺ خپل تره ځوې حضرت ابن عباس رضی الله تعالى عنه ته فرمائيلې وو لکه حديث مبارك کښې راځی .

وعن ابن عباس قال كنت خلف رسول الله يوماً فقال يا غلام احفظ الله يحفظك احفظ الله تجده تجاهك واذا سالت فاسئل الله واذا استعنت فاستن بالله واعلم ان الامة لواجتمعت على ان ينفعوك بشئ لم ينفعوك الا بشئ قد كتبه الله ولو اجتمعو على ان يضروك بشئ لم يضروك الا بشئ قد كتب الله عليك رفعت الاقلام وجفت الصحف:

رواه احمد ترمذی: خلاصه دا چې فرمائی که دا تهوله دنيا راجمع شی او تاته خير رسوی نو نه شی دررسولې چې الله ئی اراده نه وی کړې او که تهول خلق راجمع شی او تاته شر دررسوی نه نه ئی شی دررسولې چې الله ئی اراده نه کړې. او الفاطر ٣ آية انعام ٥٨، ٤٦ قل اريتم ان اخذ الله سمعكم وابصاركم وختم على قلوبكم من اله غير الله يأتيكم به. اوګور قرآن څرنګه اعلان کوی چې اے پيغمبره ته ورته اووايه که الله مو ړانده کړی نو څوك دی د ړوند ذمه وار او که الله مو کاڼره کړی نو څوك دی د کڼرو ذمه وار او که الله مو ليونی کړی نو څوك دی د ليونو ذمه وار داله

څـه کـوی خپـل ځان لـره نـفـع نـه شی ورکولې او ضرر هم نه شی لرې کـوې. الله دې پـه شيـخ القرآن رحمتونه اوليږی هغه وئيل چې هر كله زه فارغ شوم ما سوچ اوکړو چې زه به مسئله څرنګه بيانوم نو ما وئيل چې اول به خپل احتياج خلقو ته نه ښکاره کوم.

او شيخ القرآن به وئيل:

نه مهتمم نه ممبر نه مدرس نه خطيبم نه امام

مارا چه کار که اظهار حق بيان نه کنم

نـه مهـتمم يم چې چاندی ته مې احتياج وی نه امام يم چې اړی ته مې احتيـاج وی نـه مـمبريم چې ووټ ته مې احتياج وی نو ماله څه شوی دی چه زه حق نه بيانوم،

نـو اول مـا تـجـارت شـروع کـړو نـو مـا تور ډهيری کنبې ځان له مشين الـګولو هلته د شرك لوئې مرکز وو نو ما وئيل چې مسئله به هم ددې ځـائې نـه شـروع کـړم نـو مـا چې مسئله د توحيد شروع کړه نو خلقو راباندې فـتـوی اوکـړه او زما د قـتـل پـروګرام ئی اوکړو آخر مشوره ئی اوکـړه چې د دہ مشيـن لـه دانې مه وړې ځکه دې د اولياء کرامو دشمن دې نـو دې کنبـې درې ورځې تيرې شوې نو ما ته زما د مشين نوکرانو اووئيـل چې پـه تا هسې مزدوری اوړی کار نشته که ستا خوښه وی نو بـس مـونږ لـه اجازت راکـړه نـو ما ورتـه اووئيل چې خپل دشمن مه خوشـحـالـوئ او زه بـه تـنخواه درکوم. څه ورځې اوشوې نو ما به غنم اخستـل او اوړه کـول بـه مې او خرڅول به مې الخ شيخ القرآن به وئيل

4 هغـه دور کښې ما باندې ټانګې هم بندې شوې وې او چاچې به ټانګه کښې يـوړم نو ۵۰ روپۍ جرم وو نو زه يو ټانګې ته ورختم هغه ټانګې والا اوويـل کـوز شه ما ورته اوويـل ډير ستړې يم کراه اته انې دې زه به روپـۍ درکـړم لېـکـن زه ئـې کـوز کـړم او زما په ځائې ئې هندو په څلور انې يوړو. سورة الشورى ٤٩ سورة السباء ٢ ٤٢ الاحقاف ٢٨ الرعد ١٦ دا رنـګـه الـفرقان ٣ واتـخذو من دونـه الهة لا يخلقون شيئا وهم يخلقون ولا يملكون لانفسهم ضرا ولا نفعا ولا يملكون موتا ولا حياة ولا نشورا.

الشرك في الدعاء

او دا دې تـه وائـې چې يـو سـړې دا عقيده اوساتي چې غير الله بـغـيـر د اسبابـو ظاهـريه نه رامدد کيږي. ځکه دعا وئيلې شي بلنۍ ته چې پـه وخـت د تـکليف او مصيبت کښې چاته بلنه او فرياد کوى امام راغب اصفهانى په مفرادة ٣٠٩ کښې ليکى الدعاء معنى داده نداء بلل يا غـوښتـل. نو ما فوق الاسباب، اسباب ظاهرى نه پورته مدد غوښتل سـوا د الله نـه سوا د بل چا نه جائز نه دى. الله فرمائى لائق د رامدد کولو زه يم بـل څـوك نشتـه. پښتـانـه وائـى رامـدد شـه لـويه ځوانه د بغداد شـاميرانه ما نيولې لمن ستا ده او د زنانو چې ډوډۍ تناره کښې څاخې نـو وائـى اے لـويه ځوانه راورسيږې. قرآن کريم کښې شرك فى الدعاء درکـوى او دا ثـابـتـوى چې د الله نـه بـغير بل څوك رامدد کولو والا بل

خوك نشته لكه سورة الانعام ٤٠،٤١ قل ارءيتكم اذاتكم عذاب الله اواتتكم الساعة غير الله تدعون ان كنتم صدقين- سورة السباء ٢٢ كنبي په څلور قسمه رد پرې كوى (١) چې واكدار نه دى د ذرى بره او نه بنكته (٢) د دوى څوك معاون نشته (٣) كه ته وائې سفارش به اوكړې نو شفاعت هم نه شى كولې مګر چې الله اذن اوكړى او اذن به قيامت كنبې كوى. سورة الفاطر ١٣، ١٤ ان تدعوهم لا يسمعوا دعاء كم ولو سمعوا ما استجابوا لك ويوم القيامة يكفرون بشرككم ولا ينبئك مثل خبير. لو په ممتنعاتو داخليږى بالفرض محال كه واورې بشرككم: شرك ئى څه ته اووايو شرك ئى دې ته اوايو چې غير د الله نه بل چاته بعضې وائى پنجپيريان خلقو ته مشركان وائى ته ورته اووايه سړيه تاسو سورة فاطر نه دې وئيلې قرآن كريم ورته مشركان وائى. دا رنګه النحل ٢٠ والذين يدعون من دون الله لا يخلقون شيئاً وهم يخلقون. اموات غير احياء وما يشعرون ايان يبعثون- الله فرمائى مړه دى ژوندى نه دى د ځان د حال نه دى خبر. دا رنګه احقاف ٥،٤ ومن اضل ممن يدعوا. اضل، ډير لوئې ګمراه، چاته ووايه اضل هغه چاته وائى چې غير الله رامدد كوى الله پاك وائى هغوى ته پته نشته سړيه. دابه درته وائى كتاب كنبې ئى ليكلى دى.

كنجشك نشيند بر قبر مرده بداند ماده نر.

ورته وايه دا چا وئيلى دى دا خو د يوسف ګدا منجور وئيلى دى

چې دی د نظام الدین اولیاء د قبر منجور وو او دوی جواب کښې کچکول نامه کښې لیکلی دی دا رنګه قیامت کښې به د اولیاء دشمن واذا حشر الناس کانوا لهم اعداء دې دنیا کښې به ئې ورته را مدد شه وئیل هغه به ئې قیامت کښې دشمن وی یو سالک وائی:

هر که خواهی از خداهی اے پسر
نیست در دست خلایق خیر وشر
هر که خواند غیر حق را اے پسر
کیست در عالم آن او گمراه تر

سورة مؤمن ۶۰ وقال ربکم ادعونی استجب لکم ان الذین یستکبرون عن عبادتی سیدخلون جهنم داخرین . دارنګه الرعد ۲۴، الحج ۱۲ یونس ۱۰۶ .

الشرک فی العبادة

شرك فی العبادة دې ته وائی چې کوم کارونه الله د پاره خاص وی او ته د بل د پاره جائز اوګنړې لکه رکوع ، سجده ، نذر ، نور مالی ، بدنی عبادات چې غیر الله لپاره اوکړی نو دا شرك دې . او بعضې خلق تعظیم لپاره خپل استاذ یا پیر، مشر نه سر ښکته کوی دا ګناه جائز نه ده سورة انعام ۵۶ قل انی نهیت ان اعبد الذین تدعون من دون الله قل لا اتبع اهواکم قد ضللت اذا وما انا من المهتدین . پیغمبره ته اووایه زه د غیر الله عبادت نه کوم زه د غیر په نوم نذر نه ورکوم زه د غیر دربار ته حلوه او پراتې نه وړم او دا بوډئ به را روان وی او پوزه به ئې بهیږی او چې

تپوس تري اوکړې چې چرته ځی نو وائی به نذر مې منلې وو او حلوه ديگ به ئی پـه سر وی او وائی به بابا له ځم دوی ته به نرم کيږی نه الله پيـغمبر تـه وائـی قـل لا اتبـع اهـواء کـم دا نه چې صلحه به نه کوی وه قـومه تاسو ټول يو طرف ته ئی هو زه ستاسو د خواهش تابعدار نه يم.

نـه کيـږی ځانانـو د ملنګانو سره کلې چرته عزيز خان چرته ملنګ عبدالرحمن دا نه چې د ميلاد خلاف کوؤ او يوم علی مناؤ يا د صحابو ورځ مـناؤ او مشرکانو سره اتحاد کوؤ دا رنګه عبادة ځان له ثابتوی او د غيـر نـه ئـی نـفـی کـوی چې عبـادت بـه د يو الله کوی لکه يونـس ١٨ الانـعام ٥٦ النحل ٧٣ يوسف ٤٠ ماتعبدون من دونـه الاسماء سميتموها انتم واباؤکم مان انزل الله بها من سلطان ان الحکم الا الله. الاية حديث شريف کښې راځی چې کـلـه آذان کيـږی نو شيطان تيزونه اچوی او تـختـی دا ولـې دا ځـکـه چې مؤذن اذان کوی ځله الله اکبر وائی (١) الله اکبـر اې بـاعـتبـار العلم (٢) الله اکبر اې باعتبار التصرف (٣) الله اکبر اې بـاعتبـار الـدعـاء (٤) الله اکبـر اې بـاعـتبار العبادث: هر کله چې دا څلور قسمـه شرك رد کړی وربسې اثبات د توحيد کوی اشهد ان لا اله الا الله اقـرار کـوم پـه ژبـه او زړه چې نشتـه لائق د بـندګئ نشته حاجت پوره کـوؤنـکې بغير د الله نه او وربسې وائی اشهد ان محمد رسول الله چې غـم او ښـادی به مې هم په طريقه د سنت وی نو وربسې وائی حی علی الـصـلـوة چې عقيده دې د توحيد شوه او عمل دې په سنت د نبی برابر شو نو اوس راشه مونځ اوکړه ځکه بغير د دېی نه هيڅ عمل نه قبليږی

چې عقيده دې د توحيد نه وي او عمل كوي نو الله پاك وائي دا عمل دې قبول نه دې .

الدرس السادس : شرك فعلي

مونږ د قرآن كريم فهم د پاره څه اصول بيانول د هغې نه تعريف القرآن، اسماء القرآن حكمة نزول القرآن، بيا مو دا بيان كړه چې قرآن كريم چا سره خطاب كوي. دا رنګه اقسام المشركين، اقسام الشرك چې د شرك دوه معظم اقسام دی ، اعتقادی فعلی د شرك اعتقادی څلور اقسام بيان شول نن شرك فعلي او اقسام د هغې بيانيږی . شرك فعلی ديته وائي چې الله پاك د پاره افعال كارونه خاص وی خلق ئې مخلوق لره ثابت كړی او مخلوق لپاره شروع.

تحليل لما حرم الله:

چې يو څيز الله پاك حرام كړې وی حلال اوګرځوی خپل ځان نه كله چې الله پاك ادم عليه السلام پيدا كړو نو الله پاك ټولو ملائكو ته او ابليس ته حكم اوكړو چې آدم عليه السلام ته د احترام او تعظيم لپاره سجده اوكړئ ټولو ملائكو باذن الله سجده اوكړه او مګر ابليس اونه كړه ده ضد او عناد اوكړو او هغه وخت كښې ئې يوه خبره اوكړه چې زه به ځان له ضرور ملګری كوم لكه سورة النساء ۱۱۸، ۱۱۹ لعنة الله وقال لاتخذن من عبادك نصيباً مفروضا . ولا ضلنهم ولا منينهم ولا مرنهم فليبتكن ء اذن لانم ولا مرنهم فليغيرن خلق الله ومن يتخذ

الشيطان وليًا من دون الله فقد خسر خسرانا مبينا .

شرك فعلي مثالونه لكه چرگ بانگ اوائي خلق وائي سپيرتوب دي دا خبره شرك دي، ناوي له ماشوم وركول چې اول ځوي اوشي ، دغه رنگ پالنگ باندي هلك خيژول دا د هندوانو رواج دي، او د هلك غوږ سوري كول او د نكاح وخت كښې ملا كور كښې كينول او د كوري شريت څكل چې يو بل سره خواږه شي، انشاء الله سورة المائده كښې تفصيل به كيږي. مشركانو ځارو له غوږونه پريكول دي د پاره چې ژوندي پاتې شي دا رنگ ملنگان هم داسې كوي سورة الانعام ١٣٦ يونس ٥٩ قل اريتم ما انزل الله لكم من رزق فجعلتم منه حراماً وحلالا قل ءالله اذن لكم ام على الله تفترون . دا رنگه المائده ٨٧، ١٠٣ دا رنگه نذر لغير الله هم د دي اقسام دي كما في البقرة ١٧٣ انما حرم عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما اهل به لغير الله. د غير الله په نوم نذر حرام دي هغه مردار شو مانند سگ و خوگ مردار شو ديكر باسم الله هم حلال نمی كرد، نذر لغير الله حرام دي قرآن كښې ٧ ځايه ده الحج ٣٠، انعام ١٢١، ١٢٥، حج كښې ئي ورته رجس وئيلي دی البقره او مائده ٣ كښې ئي ورته هغه لفظ ئي حرام دي .

شاه منصور بابا وائي: واعلم ان مما ينذر العوام من الشمع والزيت والدراهم الى زراء الاولياء فهو سحت و حرام . او په تذكره الابرار والاشرار ٢٤١ فالذابح مشرك والمذبوحة ميتة وامراء ته بائنة .

(۲) فرقه اليهود

غیر منقادین څلور ډله وو (۱) اوله ډله وه مشرکین او د هغه ذکر اوشو او بیان د اقسام اربعه د شرك هم اوشو دویمه ډله وه یهود نو اوس د هغه بیان کوی یهود هغه خلق وو چې هغوی دعوه کوله چې مونږ د موسی علیه السلام په دین یو او د هغه تابعدار یو، دعوه کوله چې الله پاك مونږ ته کتاب رالیږلې دې تورات او د مؤمنانو مخالفت کول د ضد د وجې نه ځکه دا یهود اکثر پوهه او ملیان وو د هغوی د مخالفت څلور اصول وو، قرآن چې رد کوی نو د هغوی دغه اصول عظیم بنیادی اصول رد کوی (۱) اصل وو المداهنة سستی کوله مسئله کلکه نه بیانول او وئیل به خیر دی ګذاره کوؤ نرمی پکار ده (۲) اصل کتمان الحق. حق پټول اوس هم د ملایانو دغه حال دې اول سستی پیدا شی بیا حق پټ کړی (۳) ترك لعمل، عمل نه کول (۴) التحریف چې د الله احکام به ئی بدل کول دا هر اول مبداء وه د ثانی او هر ثانی متفرع وو په اول ای وکل من الاول مبداء للثانی وکل من الثانی متفرع علی الاول، اول انسان کښې مداهنت راشی نو بیا په مسئله کښې کلك نه وی غلې کیږی نو دویم نمبر کښې کتمان حق راشی بیا حق پټوی نو چې څوك حق بیانوی نو هغه ته متعصب وائی نو بیا خو اصحاب الجرح والتعدیل دې ته به متعصبیان ښکاری حق بیانول دا تعصب نه دی په باطل رد کول دا تعصب نه دې ځکه که دا تعصب وې نو دا اعتراض اول په نبی علیه ﷺ پکار وو ځکه یهودو

چې کله نافرمانی اوکړه او نبی علیه السلام ورته تقریر اوکړو، ابن کثیر ذکر کوی چې کله ئی تقریر کولو ورته ئی اووئیل اې اخوان القردة والخنازیر وعبدة الطاعوة اې رونړو د شادوګانو او د خنزیرانو او اې بندګانو د شیطانانو ، د کتمان او تعصب کې فرق دې دا رنګه تعصب او جرح کښې هم فرق دې تفصیل به کوم انشاء الله. حدیث پاك کښې راځی اللهم انی اعوذبك من الهم والحزن اوعوذبك من العجز والکسل اعوذبك من البخل والجبن واعوذبك من غلبة الدین وقهر الرجال۔ دا درې واړه اصول د یهودیت وو قرآن کریم څلور واړه اصول رد کوی شیخ مرحوم په العرفان فی اصول القرآن کښې لیکلی دی وکثیر من علماء هذه الامة الوسطی یتبعونهم فی هذه الامور مطابقاً لقوله علیه السلام لترکبن سنن من کان قبلکم حذوالنعل بالنعل " وهذالعلوم علمهم بالقرآن قاتلهم الله ای علم افسدو. او شاه ولی الله فرمائی من فسد من علمائنا ففیه شبه من الیهود ومن فسد من عبادنا ففیه شبه من النصری نو قرآن کریم چې کله په دوی باندې رد کوی نو ته به اوګورې د قرآن کریم زور، طاقت چې داسې څنډې اوس مونږ "مُشت نمونه هروار" ذکر کوو اول قرآن د یهودو رد کوی لکه البقره ۷۹ فویل للذین یکتبون الکتاب بایدیهم کتاب په معنی د مکتوب سره چې لیکلی حکم لره دا مداهنت ولی کوی دا کتمان حق او ترك عمل ولی کوی الله جواب کوی لیشتروبه ثمناً قلیلًا، د پاره د دې چې واخلی په دې باندې د دنیا لږ قیمت، د قرآن

دفعي اوګوره چې يو آيت کښې ويل ويل څو څو ځله وئيلی دی شميره درې ځله لفظ د ويل ذکر کړی دی (١) ويل الذين يكتبون الكتاب ٢ فويل لهم مما كتبت ايدهيم ٣ وويل لهم مما يكسبون دا درې ځله ويل ئې هغه ملا ته اووئيل چې ده کښې خوی بوی د يهودو راغلی وی او دنيا ته ئې لاس اچولی وی زما نه هم درې دی (١) ماضی (٢) مستقبل (٣) حال هلاك وو، هلاك به وی او هلاك دې. دا کارونه ئې ولې کول ځکه چې وقالوا لن تمسنا النار ٨٠ ځان ئې د جنت تهيکيدار ګنړل دا يهود مکه کښې نه وو دوی شاؤ خاؤ اوسيدل په قبله حمير و بنی کنانه حارثه بنی قريظه شاو خوا اوسيدل دارنګه کله کله به دوی وائی مونږ دليل شته نو ته به ورته وائې راشه زما مخ کښې ئی اووايه، او قرآن تاته دا چل هم ښايه ال عمران ٩٣ قل فاتوا بالتورات بيا ئی قل مفرد راوړه اشاره ده دې ته که يوائې ئې نو هم به صلح نه کوې دا رنګه بقره ١٥٥ اوګورې کله رد کوی په يهودو باندې چې د دوی زړونه مسح شوی دی ځکه وائی. حتی نر الله جهرة چې مونږ ته دې الله پاك په خپله اوائی دا رنګه ٨٧ آيت اوګورې زه د مينځ نه شروع کوم ففريقاً كذبتم وفريقاً تقتلون چې وس به ئی رسيده نو هغه به مړه کړه او چې وس او قدرت به ئی رسيده نو هغه به ئی دروغجن ګنړلو. شيخ رحمة الله عليه اووئيل شاه اسماعيل شهيد باندې مليانو د کُفر فتوې ورکړې نو بيا اميان شهيدان کړل. دا ولې؟ وقالوا قلوبنا غلف (البقرة ٨٨). دا رنګه کله کله رد کوی په يهوديت نو د دوی اعتراضات

ذکر کوی او د هغې جوابونه آیت ۱۹۶ اوګورئ د هغې اعتراض
پریږدی او جواب ذکر کوی. دې یهودو ته تورات کښې راغلی وو دا
تورات بابونه بابونه وو لکه څرنګه چې فقه بابونه بابونه ده باب
الطهارة باب الزکوة وغیره دا رنګه تورات څلور بابونه وو تورات عبرانی
لفظ دې په معنی د قانون او شریعت ۱ اول باب وو سفر التکوین: په دې
باب کښې ذکر د مبداء د عالم وو د آدم علیه السلام، حواء، نوح،
ابراهیم، اسحاق، یوسف حالات ذکر وو. دوهم باب وو سفر الخروج:
په دې باب کښې ذکر د موسی علیه السلام او د فرعون او د نبی
اسرائیلو وو دریم باب سفر الاخبار: سفر په عبرانی ژبه کښې باب ته
وائی په دې باب کښې تفصیل د شریعت او د حلال او حرام ذکر وو
څلورم باب وو سفر العدد: په دې باب کښې تعداد د اقوامو د بنی
اسرائیلو چې کله د مصر نه وتل پنځم باب سفر الاستثناء: په دې باب
کښې احکام جزیه او قواعد وو، بیا د دې د پاره یهودو شرحې لیکلی
څرنګه چل د قرآن د پاره تفاسیر او احادیثو نو د پاره شروح لیکلی
شوی دې، او بیا به دوی په دې شرحو کښې دوی زیادت اوکړو اوس ئې
هم زیادت کړې دت لکه کله چې صاحب د قاموس ته پته اولیګده
چې ماته د یو کتاب نسبت اوس شوی دې او دا کتاب د امام ابو حنیفهؒ
په رد کښې وو نو هغه زر براة اوکړو او په رد کښې ئې کتاب اولیکله
چې دغه کتاب ما نه دې لیکلې دا رنګه غیر مقلدینو مسند حمیدی
چهاپ کړه نو هغوی کښې صحیح حدیث وو په عدم رفع الیدین او

هغه دا چې حدثنا عبد الله بن ايوب المحرمي وسعدان بن نصر و شعيب بن عمر قالوا حدثنا سفيان بن عينه عن الزهرى عن سالم عن ابه (ابن عمر) قال رايت رسول الله اذا افتتح الصلوة رفع يديه حتى يحاذي بهما وفى رواية حذو مكبيه واذا رادان يرفع و بعد ما يرفع راسه من الركوع لا يرفعهما رواه الحميدى ۲۷۷ وابو عوانة ۹۱ نو اوس چې كله غير مقلدينو مسئله حميدى چهاپ كړه نو صحيح حديث په كتبي نشته هغه ئې لرې كړې دى او اصل حميدى كتبي شته اوس نشته او دا كار د يهوديانو دې. او د تورات ځلور مشهور شرحې وى. اول النبيم په دې شرح كتبي د انبياء عليهم السلام مواعظه او تقريرونه او د هغوى اقوال ذكر وو دويم التركوم: په دې شرح كتبي د تورات ترجمه وو او د عيسى عليه السلام نه ۵۰ كاله مخكښې ليكلى شوى وو. دريم المدراش په دې كتبي د تورات د علمو تشريح وو لكه چې حديث شرح د قرآن كريم دى. ځلورم تالمود يعنى التلميذ او په دې كتبي فقه د يهودو وو په بابونه بابونه كتبي على الترتيب لكه څنګه چې زمونږ فقه كتبي بابونه بابونه دى. دا ډله ډيره خطرناكه ده ځكه دوى ځان ته عالمان وائى سره د دې به ئى زياتى كوله، قرآن كريم په دوى په عجيبه انداز كتبي رد كوى ځكه دوى خپله خبره خلقو ته مستند ښكاره كوى نو خلق دهوكه كول. بقرة ۵۱، ۵۹، ٦١ كتبي فرمائى ولقد علمتم الذين اعتدو منكم دا رنګه ۲۷، ۲۸ مونږ په دوى اكتفا كوو زيات وضاحت بيا به تفسير سره كوؤ انشاء الله د ناكاره ملا صفات به بيان

کيږي ځکه عبد الله بن مبارك وائي هل افسد الذين الا لملوك واحبار سوء ورهبانها. يا مشعر العلماء كنتمُ نجومُ. السماء يهتدى بكمُ فصرتم ظلماء.

ترجمه: اې ډلې د علماؤ! تاسو وئيلې ستورى د آسمان تاسو ته لاره ښائی نو وګرزيدئ تاسو په تياره کښې.

(۳) ډله بحث النصارى

نصارى هغه خلق وو چې دعوه ئى کوله چې مونږ د عيسى عليه السلام تابعدار يو او د هغه په دين يو او وئيل به ئى چې مونږ ته الله کتاب راليږلى دې انجيل، دا خلق اکثر اميان وو خو دوى چې به کله خبره کوله سند ته ئى نه کتل ليکن چې چا به څه وئيل هغه به ئى منل عبد الله بن مبارك فرمائى الاسناد من الذين ولو لا الا سناد لقال من شاء ماشاء. دا رنګه الدين قوى متين لا تسبت بالمهين. او د نصارو په مينځ کښې اختلاف وو او انجيل ئى څلور حصې کړې وو چاسره د متى انجيل وو او د چا سره د لقاء او چا سره د يوحنا او د چا سره د يونس. د دوى مينځ کښې اختلاف وو چې کوم يو د الله کتاب دې. د يهوديانو کتاب بخت نصر اخستې وو او د نصارو کتاب ګډ وډ کړې وو يو قرآن کريم دې چې د مشرق نه تر مغرب او د مغرب نه تر مشرق پورې دغه يو کتاب دې هر چا سره موجود دې. دا ځکه چې د دې د حفاظت ذمه وارى الله پخپله اخستې ده. الله فرمائى مونږ قرآن نازل کړې دې او مونږ ئې حفاظت کوو، قرآن کريم نصارى سره په ګنړو

سورتونو کښې خطاب کوی لکه البقرة، ال عمران، النساء، المائده، التوبه الاحزاب، الحدید، المجادلة ، الحشر، الممتحنة، الصف، الجمعة، المنافقون، البينة. او په سورة ال عمران کښې د دوی هغه اصول رد کړی دی، او د دوی کله کله هسې خبرې کوی او دلیل ورسره نه وی لکه ال عمران ٦٥ یااهل الکتاب لم تحاجون فی ابراهیم وما انزلت التورة والانجیل الا من بعده افلا تعلقون . چې دوی به وئیلې ابراهیم علیه السلام زمونږدین کښې دې او په دې نه پو هیدل چې ابراهیم علیه السلام مخکښې تیر شوې دې او که عیسی علیه السلام لکه یوې جینئ پنجاب کښې خپلې مور ته اووئیل چې محمد څوك وو مور ئی اووئیل ورته چې کمعقلې هغه خو د لوئی ځوان نمسې دې. من بعده ورته اووایه ستاسو دین خو د ابراهیم علیه السلام نه ورستو وو. پخوا شیعه وو اکبر بادشاه ته ئی اووئیل ستاسو ملیان دې مونږ سره مناظره اوکړی نو شیعه ډیر زیات وو نو مناظره چا نه کوله نو ګنی ملا وو ملا دوه بناپیرك به ئی ورته وایو او نوم ئی عبد المومن وو هغه اووئیل زه به ئی ورسره کوم مالره لس کسان فوجیان را کړه نو دا لاړه او لس ګزه تان ئی واخستو یو ګز ئی د سر نه تاؤ کړو نور ئی فوجیانو ته اووئیل دا په اوګه راوړئ نو په لار ئی زړې څپلې او کتلې دربار ته ئی ځان سره یوړې او بادشاه مخې ته ئی کیخودې شیعو بادشاه ورته المسولو چې ګوره مونږ بنې بنې څپلې بهر ته ایستلی دی او ده ګنده څپلې راوړې نو بادشاه ورته اووئیل دا ولې؟

نو ملا اووئيل زه غريب يم او شيعه غله دی خپلې پټوی ما ځکه راوړې هغوی اووئيل دا ستا مدعی شوه اوس به مونږ ته دليل وائې چې مونږ د چا نه پټې کړی دی ملا اووئيل ستاسو مشر د پيغمبر ﷺ نه پټې کړی دی هغوی ورته اووئيل دروغ وائې هغه دور کښې خو شيعه نه وو ملا ورته اووئيل چې تاسو د پيغمبر ﷺ په دور کښې نه وې ابوبکر، عمر، عثمان، علی رضوان الله تعالیٰ عليهم اجمعين دور کښې نه وې نو تاسو دا دين د کوم ځائې نه راوړو افلا تعقلون همزه د توبيخ ئی په فاداخله کړه وه په تاسو کښې دومره عقل نشته. دا رنګه المائده ۷۱، ۷۳

(۳) دريمه ډله د منافقانو

منافقين هغه خلق وو چې نبی کريم ﷺ سره ئی ځان ملګری حسابول او رسول الله مبارك سره جهاد له هم تلل دا رنګه کله چانده کښې تعاون هم کول دا رنګه نور هم بعضې د دين کارونه ئې کول ليکن زړه کښې دشمنی وه او د نبی ﷺ مخالف وو دا انتهائی ناکاره خلق وو مکه کښې دوی نه وو کله چې نبی عليه السلام مدينې منورې ته لاړو په مدينه کښې درې قبيلې اوسيدلې ۱ بنو قريظج ۲ بنو نظير ۳ بنو قينوقاع د نبی عليه السلام مدينې ته تلو نه مخکښې دا درې واړه قبيلې راجمع شو د مشورې لپاره چې د نورو ملکونو سرداران شته دې او ځمونږ نشته نو راځئ چې يو سردار مقرر کړو د

دوی اتفاق اوشو چې عبد الله بن ابی سلوك چې اوښیار غوندې وو دا ئی مشر کړو هغه وخت به سردارانو باندې تاج په سر کوله نو دا دې د تاج پوشئ پروګرام اوشو په دغه وخت کښې نبی کریم ﷺ مدینې ته هجرت اوکړو چې کله نبی کریم ﷺ هلته اُرسیدو نو لازمی خبره وه چې پیغمبر ﷺ موجود وو، نور د بل چا څه ضرورت وو نو د عبد الله بن ابی بن سلول مرتبه ختمه شوه ټول خلق د نبی ﷺ نه چاپیره شول او د نبی ﷺ په مشرئ متفق شول عبد الله بن ابی سلول ضد او حسد واخستو نو دې منافق دا فکر اوکړو چې زما حیثیت خو ختم شو نو راشته دا د خپل مخ نه لرې کړه ظاهری مقابله په میدان کښې اونکړه دې چل اوکړو چې ځان ملګری ښکاره کړه په ظاهری، کښې جدا ډله هم جوړه نکړه او مجلس د نبی علیه السلام کښې هم حاضریدو کله چې به وخت ملاؤ شو خپل کار به ئی په کښې کولو څکه نبی علیه السلام زهرو بندوبست هم دې کړې وو دا رنګه د نبی علیه السلام په بی بی تهمت هم دوی لګولې وو حتی چې په هغې کښې ئې بعضې مخلصین هم په جال کښې راوستی وو، دا رنګه د نبی علیه السلام په مقابله کښې مسجد ضرار دوی جوړ کړې وو دا ولې ؟ تفریقاً بین المومنین دا رنګه د اطرافو شاوخوانه مشرکان هم دوی راپاڅولې وو نو په نبی علیه السلام چت ئی څه وس رسیدو هغه ئی کړې وو.

شیخ القرآن رحمة الله علیه په العرفان کښې وائی واما المنافقون فغلبو علیهم فی عداوة النبی حیث افتروا بزوجته الخ دا منافقان

داسې وو لکه چې دشمن د دوست په جامه کښې راشي څکه شيخ القرآن رحمة الله عليه به وئيل:

واخوان حسبتهم دروعاً فكانوها و لكن للاعادى
وخلتهم سهاماً صائبات فكانوها و لكن فى فوادى
وقالو لقد صفت مناقلوب لقد صدقوا ولكن عن ودادى

دا رنګه فرمائی:

من از بيګانګان هر ګز نه نالم هر چه کرد به من آشنا کرد

دې منافقو تر مرګه پورې د نبی عليه السلام مقابله کړې وه آخر دا چې الله پاك ده له خپل کور کښې دشمن پيدا کړو چې د دې ځوئې اوليګدو چې خپل پلار کور کښې نه پريښودو پلار ته وئيلی وو کورته ته نه شې راتلې حتى تقرانك ذليل ورسول الله عزيز بيا دا عبد الله بن ابی سلول نبی ﷺ ته شکايت اوکړو چې ځوئې مې کور کښې نه پريږدی ، او نبی عليه السلام دې منافقانو سره په توره جهاد نه کوله څکه نبی عليه السلام وئيلې چې بيا خلق اونه وائی ان محمد يقتل اصحابه او مشرکانو ډير تکاليف نبی عليه السلام ته رسولی وو ليکن تهمت نه وو لګولې هغوی د جهالت د وجې نه کوله نو نبی عليه السلام هم هغوی سره نرمی کوله او نبی عليه السلام فرمائيلې چې اللهم اهدى قومى انهم لا يعلمون . الله پاك فرمائی سورة التوبة ٧٣ يا ايها النبی جاهد الكفار والمنافقين واغلظ عليهم وما وهم جهنم وبئس المصير. دا

5 رنګه يا ايها الذين آمنوا قاتلو الذين يلونكم من الكفار واليجدو فيكم غلظة واعلموا ان الله مع المتقين. درې شپيتـه عـلامـې په سورة توبه کښې ذکر دي: التوبة ١٠١ البقرة ٨، ١٣ پوره تفصيل انشاء الله تفسير کښې کوم.

دا د قـرآن کريم حکمت دې چې کله د مُنافقانو صفات بيانوی نو هريو وائـی داء مـاته اووئيل مونږ ئی د دې د پاره ذکر کوؤ چې په چا کښې دا صـفات دی د ځان نـه ئی لرې کړی او زه ئی هم د ځان نه لرې کوم دا نه چې هـريـو وائـی دا ئـی ماته اووئيل شيخ القرآن رحمة الله عليه سورة تـوبـه لـوستـلـه يـو طـالـب بستـره اوړله روان شو زمونږ کلی وال ورته اووئـيـل چـرتـه ځـې ته خو ترجمې له راغلې وې طالب ورته اووئيل زما چا شيـخ تـه شيـطـانـې کړې دې دا دوه ورځې چې خبره کوی او سر ئی مـاته راګـرځـوی هـغـه ورتـه اووئـيـل کوم سورة شروع دې؟ طالب ورته اووئـيـل سـورة تـوبه هغه ورته اووئيل سړيه تا به نه پيژنې نو طالب ئی راوستـو شيـخ ته ئی اووئيل دا پيژنې شيخ ورته اووئيل دومره ئی پيژنم چې طـالـب دې او بـس الـخ تـه بـه عـام بيان کوې يو به وائی يره فلانې صاحب ئی ياد کړو دا به هريو وائی ليکن ته به عام بيان کوې. يو سړی سـخې پټ کړې وو نو چې دوه کسان به ولاړ وو دې به راغې ورته به ئی وئيل چې څه سخې سخې کوې. والسلام

(٣) خلورمه دله المؤمنين

قـرآن کريم چې کله د مومنانو ذکر کوی د دوی ښه صفات ذکر

کوی لکه البقرة ۱، ۲ چې دا مومنان متقين څوك دی الذين يومنون بالغيبْ پنځه صفات د دوی ذکر کوی د شيخ الاسلام کتاب دې الفرقان بين اِولياء الشيطان واولياء الرحمن ابن تيميهؒ.

(۱) ايمان بالغيب (۲) اقامة الصلوة (۳) الانفاق فی سبيل الله (۴) الايمان بالكتب المنزله (۵) الايمان بالاخرة

دا رنګه سورة المؤمنون ۱، ۲، ۳ (مومنون ۴، ۵، ۹، ۱۰) قد افلح المؤمنون الذين هم فی صلوتهم خشعون تفاسير د قتاده او مجاهد نه نقل کوی السکوت فی الصوة وهم لفروجهم حافظون. الاية لقمان ۱۷ حضرت لقمان خپل بچو ته نصيحت کوی هغه خه وائی يا بنی لا تشرك بالله (لقمٰن ۱۳، ۱۷، ۱۸) د مؤمن لوئې صفت دا دې چې شرك نه کوی وان جاهداك علی ان تشرك چې کله ورته دين کښې مور او پار مخې ته راغې نو نه به ئی منی ۱۵ واتبع سبيل من اناب بل صفت چې د مؤحدينو سره يو ځائې شه چې حق پرست وو دارنګه د حق پرستو صفائی هم کوی. بيا وائی ونه عن المنكر دا وئيلی دی چې د منكر رد به کوی دا نه چې ګذاره به کوي. چې کله ته نهی عن المنكر کوی نو په تا تكاليف راځی نبی عليه السلام به وئيل انا ابن الذبيحتين دائی ولې وئيل دا ځکه چې د نبی عليه السلام پلار عبد الله وو دا د عبد المطلب ځوئې وو او د مشركينو دا طريقه وه چې لسم ځوئې به ئی د غير الله په نوم حلالولو او بيا عبد المطلب د عبد الله په عوض کښې اوبنان

ورکړی وو او دا رنګه د نبی علیه السلام نیکه اسماعیل علیه السلام وو او په هغه چاره اینبودې شوې وه د نبی علیه السلام مطلب دا وو چې زه د هغه چا اولاد کښې یم چې په هغوی باندې چړې اینبودی شوی دی دا رنګه فرمائیلی چې اناالنبی لا کذب وانا ابن عبد المطلب زما خاندان معلوم دې نه یم خرچ شوی زما خاندان معلوم دې زه نه یم پریدلې، یو سالك وائی انا ابن الجلاء وطلاء الثناء: متی اصنع العمامة تعرفونی. دا رنګه فرمائی ولا تصعر خدك: څنې خلقو سره چې ته سترګې مه شی کوې نو ده به دا تندې داسې تریو کړې وی حالانکه حدیث کښې راځی چې ان من المعروف ان تلقی اخاك بوجه طلق رواه الترمذی، مشکوة ١٦٨ ولا تمش فی الارض الاية چې رفتار کښې درمیانه روی کوه دا رنګه درمیانه روی دې ته وائی چې دوستی خپل مناسب سره کوه او خپل وس سره خرچ کوه طالب د طالب سره دا نه چې دوستی دې د خانانو سره وی او وس دې نه کیږی، یو عالم وائی زما د خانانو سره دوستی وه نو ټول عمر به خفه وم ځکه د هغه بنګله به زما د کور نه ښه وه آس به ئی زما د آس نه ښه وو وغیره ما به ځان د هغوی سره مشابهه کولو او وس به مې نه کیدو کله چې زما دوستی د غریبانانو سره شوه نو همیشه به خوشحاله وم. عن عائشه رضی الله عنها قالت قال لی رسول الله ان اردت اللحوق بی فلیکفیك من الدنیا کذاد الرکب وایاك ومجالسة الاغنیاء ولا تستخلقی ثوباً حتی ترقعیه: دا رنګه صفات مومنین

الفرقان ٦٣ کښې ٧٢ الله پاك كله آداب ښائي مؤمنانو ته لکه په سوره الحجرا کښې پوره وضاحت به سورة بقرة کښې كوم انشاء الله .

فصل في اصول الهمة

نن مونږ ذکر کوؤ چې د قرآن کریم اهم مضامين اته ((٨)) دى خلور د اصولو نه او څلور د ممداتو نه مونږ ترينه تعبير کوؤ په اصولو سره امام رازی ترې نه تعبير کوی په سوابق سره ۴ د ممداتو نه مونږ ترې نه تعبير کوؤ ممداتو سره امام رازی سره تعبير كوى په لواحقو سره ۱۴ اصول دا دی:

(١) اثبات التوحيد:

چې د الله په ذات او په صفاتو کښې شريك نشته دې يو دې.

(٢) اثبات الرسالت:

چې ټول انبياء او آخرى نبى عليهم السلام الله رالیږلی.

(٣) اثبات صداقت الكتاب:

چې څه کتابونه الله راليږلی دی هغه ټول حق دى.

(٤) ايمان بالاخرة:

چې قيامت خامخا راځی او الله به بدله ورکوی خلقو ته.

او څلور ممدات دا دی:

(١) الجهاد (٢) الانفاق فی سبیل الله (٣) التنظیم (۴) الادب:

قرآن کریم دا اته مضامن ذکر کوی دا څلور اول دا هغه بنیادی مقاصد دی چې خدائ پاك انبیاء علیهم السلام د دې لپاره رالیږلی وو ځکه هر پیغمبر دا آواز کړې دې چې الله یو دې شریك نه لري، او وئیل به هر پیغمبر چې زه د الله رسول یم او ماته دا کتاب، یا واحی رالیږلی دی، دا رنګه دا به ښودله چې قیامت به راځی دا دنیاء ختمیږی، او دې څلورو اصولو لپاره څلور نور دی مضبوطونکی، ممدات، جهاد، تنظیم، انفاق، اداب دا اته واړه کل من الاول مداء للثانی و کل من الثانی متفرع الاول . هر اول بنیاد دې د دویم لپاره او هریو دویم تفریع کیږی په اول. فرمائی خپل مینځ کښې د یو بل آداب کوی چې تنظیم مو برابر وی نو تنظیم د پاره مال ضرورت دې نو مال صحی ځائې کښې اولګوئ او مال اولګوئ د الله په دین چې جهاد اوشی د مشرکینو خلاف او جهاد کوئ الله به قیامت کښې بدله درکوی. دا اصول قرآن کریم کښې کله جدا جدا آیتونو کښې راځی کله یو آیت کښې دوه راځی کله څلور واړه ذکر کوی لکه سورة التغابن آیت نمبر ١ کښې اثباة التوحید کوی یسبح لله ما فی السموات وما فی الارض الایة او په آیت نمبر ٢ کښې اثبات الرسالت کوی. ذالك بانه کانت تاتیهم رسلهم بالبینت فقالوا ابشر یهدوننا الایة ٧ کښې اثبات د قیامت ذکر کوی زعم الذین کفروا ان لن یبعثوا قل بلی وربی لتبعثن الایة ٨ آیت کښې صداقة الکتاب ذکر کوی فامنوا بالله

ورسوله والنور الذين انزلنا الاية څلور واړه يو بل پسې ذکر کړه چې دا څلور واړه اومنه.

دا رنګه کله کله دا څلور واړه ذکر کوی خو ترتيب بدل کړی لکه سورة الطلاق ٨ کښې اثبات القيامت ذکر کوی او په ١٠ آية کښې صداقة الکتاب ذکر کوی او په ١١ اية اثباة الرسالت ذکر کوی او په ١٢ آية کښې اثباة التوحيد ذکر کوی. دا ترتيب ولې ؟ بدل کړه؟ دا دې د پاره چې مسئله ذن کښې پرې وزی يو سالك وائی:

بهر رنګے که خواهی جامه پوشی من انداز قدت را می شناسم

هر رنګه جامې چې واچوی زه دې پيژنم. ترتيب بدلولو سره کلام کښې حسن پيدا کوی ځکه اوبنيار سړی هم چې خبره کوی نو په مختلفو طريقو سره کوی دا رنګه سورة السبا ١ په دې کښې هم اول شروع په اثباة التوحيد کوی وله الحمد فی الاخرة. آخرت کښې ئی ذکر کړه او دنيا ئی قياس کړه او ٣ آية کښې اثباة د قيامت ذکر کوی او په ٩ آية کښې اثباة الرسالت کوی او کله کله دا ټول په يو آيت کښې جمع کوی لکه سورة النساء ١٣٦ کښې راجمع کړی دی يايها الذين امنوا امنوا بالله دا اثباة د توحيد دی ورسوله دا اثبات الرسالت دې والکتاب الذی انزل علی رسول من قبل دا صداقت الکتاب شو.

واليوم الاخر. دا اثباة د قيامت دې. او کله کله په دې مستقل سورتونه ذکر کړی دی لکه په توحيد سورة الاخلاص چې ټول مسئله د توحيد دی الله احد الله يو دې په ذات او صفاتو خپلو کښې او په اثبات

الرسالت لکه سورة الضحی چې په هغې کښې اثبات الرسالت دی کله کله مستقل سروة راوړی چې په صداقة الکتاب لکه سورة قدر، سورة علق سوره محمد او په سورة ق، الطور، الزریات، الزلزال کښې صرف ایمان بالاخرة دې. اثبات التوحید: اول قسم د اصول مهمو نه اثباة التوحید چونکه دا یو اهمه مسئله ده نو قرآن کریم مسئله د توحید په مختلفو عنواناتو سره پیش کوی دا د دې د پاره چې ستا زړه ته کوز شی کله یو اوښیار استاد چې د طالب مزاج، طبیعت برابر درس ورکوی په مختلفو طریقو سره. بلکه اوښیار سپاه سالار، یعنی قومندان د جنګ چې وخت په وخت خپل محاذ بدلوی چې په دشمن باندې ګیره واچوی مقصد یو وی هلاکت د دشمن او کم عقل جرنیل د یو محاذ نه حمله کوی آخر دا چې شکست اوخوری قرآن کریم هم د توحید مسئله په مختلف رنګونو سره پیش کوی چې ډیر ښه ذهن نشین شی کله کله مسئله د توحید ثابتوی بعنوان الاله کله بعنوان التسبیح، کله بعنوان التحمید کله بعنوان توحید، کله ثابتوی بعنوان البرکت، او مونږه مشت نمونه خروار اشاره ئی لپاره لګ لګ ذکر کوؤ

۱ مسئله التوحید بعنوان الاله: قرآن کریم دا مسئله په ډیر زور و شور سره ذکر کوی لکه ۱۶۳ البقرة والهکم اله واحد لا اله الا هوا الرحمن الرحیم. دا رنګه البقره ۲۵۵ الله هو لا اله الا هو الحی القیوم الایة فرمائی چې یو الله حاجت روا دې یو الله مدد ګار دې دا رنګه سورة ال عمران ۲ الله لا اله الا هوالحی القیوم. دا مسئله بیا بیا ذکر کوی او په مسند احمد کښې

روایت دی چې په نبی علیه السلام باندې به څه هغه به دا وئیل یا حیّ یا قیّوم لا اله الا انت برحمتك استغیث . دا رنګه آل عمران ۱۸ آیة کښې شهد الله انه لا اله الا هو . انبیاء: ۲۵، ۸۷، کهف: ۱۴ اعراف: ۵۹، قصص: ۷۱، ۷۲ او دې آیة کښې دعوه د توحید بعنوان الا اله او په دې درې دلائل (۱) وحی (۲) نقلی من الملائکه (۳) عقلی

د اولو العلوم نه او آخر کښې نتیجه ذکر کوی یعنی ثمره د دلائلو سورة النساء ۱۷۱ توبه ۳۱ الرعد ۳۰ النحل ۵۱.

مسدس کښې حالی وائی:

کرے غیر بت کی پوجا تو کافر
جو ٹھرائے بیٹا خدا کا تو کافر
جھکے آگ پر بہر سجدہ تو کافر
کواکب میں مانے کرشمہ تو کافر
مگر مومنو پر کشادہ ہیں راہیں
عبادت کریں شوق سے جس کی چاہیں
نبی کو جو چاہیں خدا کر دکھائیں
اماموں کا رتبہ نبی سے بڑھائیں
مزاروں پر دن رات نذریں چڑھائیں
شہیدوں سے جا جا کے مانگیں دعائیں
نہ توحید میں کچھ خلل اس سے آئے
نہ اسلام بگھڑے نہ ایمان جائے

دا رنګه انبياء ئی په دې ليږلی وو چې دا ورته اووائی چې اله زه يم لکه الانبياء ۲۵ وما ارسلنا من قبلك من رسول الا نوحی اليه انا لا اله الا انا فاعبدون دا رنګه سورة قصص ۷۰ وهوالله لا اله الا هو. دا رنګه اصحاب کهف هم دا مسئله بيانوی لکه الکهف ۱۴ دا رنګه کله کله يو نبی ذکر کوی چې دا مسئله د توحيد بيانوی لکه الاعراف ۵۹ بيا وريسې ۶۵ بيا د صالح عليه السلام بيان دې بيا د شعيب عليه السلام تول دا مسئله کوی بدعتيان وائی چې پنج پيريان نوی مسئله کوی دا خو زړه مسئله ده نوی نه ده خو تاته نه وه معلومه. دغه مسئله التوحيد بعنوان الا الهه ياد کړه ترجمه چې شروع شی زه به وايم چې دې آيت کښې مسئله د توحيد دې. بعنوان الا اله چې تا ته يادوی داسې نه چې ته به وائې دا څه ته وائی:

مسئلة التوحيد بعنوان التحميد

کله مسئله د توحيد په عنوان د حمد ذکر کوی، او په دې حمد مستقل مستقل سورتونه مصدر کړی لکه سورة الفاتحه ۱ الحمدلله رب العالمين سورة الانعام ۱ الکهف السباء الفاطر ۱ کله کله ئی په عنوان د حمد تفريع په ما قبل باندې چې ظالمان تباه کړی دی الله وائی حمد اووايه لکه الانعام ۴۵ فقطع دابر القوم الذين ظلموا والحمد لله رب العالمين. امام ابن تيميه فرمائی: اهل سنت يموتون ويحيی ذکرهم. واهل البدعة يموتون ويميت ذکرهم، مؤحد چې مړشی خو نوم جوندی کيږی لکه شيخ

القرآن نوم د كنړ او نورستان غرونو كښې په كټو ليكلى شى. او چې بدعتي وى نو مړ شى نو نوم ئى هم مړ شى دا رنګه كله چې جنتيان چې جنت ته ورسيږى هغوى وائى الحمدلله ۱۰ دا رنګه سورة المومنون ۳۸ فقل الحمدلله څوك هلاكت شوى دى. ښځه د نوحؑ او ځوى د نوحؑ او الله ورته وائى اے نوح حمد اووايه ظالم صاحب حق هلاك شو، داسې مسئله ده په دې تول قربان دې چې شيخ رحمة الله عليه فرمائيلى چې اووه لنګ شه ملنګ په در كښې د سبحان: چې دې مسئلې ته به لنګ وهې داسې به نه وائې چې څه اوكړو پلار دې نو اوس څه اوكړو كله كله مسئله د توحيد په عنوان د بركت سره ذكر كوى.

مسئله التوحيد بعنوان البركت:

مطلب دا چې كارساز مددګاريو الله دې پاك او كنړئ د شريك نه ځكه چې هر څيز كښې خير و بركت اچونكې هم هغه دې. لكه سورة الفرقان (۱) تبارك الذين انزل الفرقان على عبده . دا رنګه (۱۰) دارنګه (٦۱) دا رنګه سورة المومنون (۱۲ الى ۱٤) ثم انشأنا خلقا اٰخر فتبارك الله احسن الخالقين . دى آية كښې الخالقين په معنى د الصانعين دى . دا رنګه اثباة التوحيد بعنوان البركت سورة الرحمن ۷۸ تبارك اسم ربك ذو الجلال والاكرام او كله كله په دې دلائل شروع كړى چې الله وائى بركت زه اچوم لكه سورة الملك (۱) هلته دا مسئله د توحيد په

عنوان د برکت سره ذکر کوی او په دې (۱۱) دلائل ذکر کوی (۱) دلیل بیده الملك چې وا کدار زهم یم (۲) دلیل وهو علی کل شئ قدیر چې هر خیز زما قبضه کښې دې مالك زه یم (۳) دلیل: الذی خلق الموت (آیت:٦) چې خیر او شر زما لاس کښې دې (۴) دلیل: الذی خلق سبع سمٰوات» (آیت:۳) چې آسمانونه ما پیدا کړی دی (۵) دلیل: ولقد زینا السماء» (آیت:۵) چې آسمان کښې ډیوی ما اچولی دی ما غورځولی دی (٦) دلیل: واسرو قولکم» (آیت: ۱۳) چې په رو او په تیزو زه پو هیږم برکت اچونکی زه یم (۷) دلیل: هوالذی جعل لکم الارض» (آیت: ۱۵) چې زمکه درله ما نرمه کړې ده. (۸) دلیل: اولم یروا الی الطیر» (آیت:۱۹) چې مارغانو کښې ما خیر اچولی دی. (۹) دلیل: قل هوالذی انشأکم» (آیت:۲۳) چې ما درله غوږونه او سترګې درکړی دی. (۱۰) دلیل: قل هوالذین ذراکم فی الارض» (آیت:۲۴) چې ما پیدا کړئ دنیا کښې. (۱۱) دلیل: قل أرء یتم ان اصبح ماؤکم» (آیت:۳۰) چې زه اوبه چلوم نو تبارك الذی... الخ (۱۱) دلائل کرکړه په رد د یولسم: او کله کله مسئله د توحید ذکر کوی په عنوان د تسبیح سره.

مسئله التوحيد بعنوان التسبيح:

نو سبّح یسبّح شروع کړی کله دا مسئله د توحید په عنوان د تسبیح سره. دا په صیغه د امر سره ذکر کړی لکه سورة الاعلی (۱) سبح

اسم ربك الاعلى» دا رنګه الاسرٰی (پاره: ۱۵) سبحان الذی اسری بعبده ليلا» (الاية) په صيغه د ماضی ذکر کوی لکه سورة الحديد (۱) سبح لله ما فی السمٰوات وما فی الارض» (سورة صف، آيت:۱)

کله صيغه د مضارع سره ذکر کوی لکه سورة الجمعة ۱ دا رنګه سورة التغابن ۱ سورة يونس ۱۸ سورة الروم ۱۷ فسبحان الله حين تمسون و حين تسبحون.

امام بخاری رحمة الله عليه خپل کتاب هم په تسبيح ختموی چې نبی عليه السلام فرمائی:

کلمتان خفيفتان على اللسان ثقيلتان فی الميزان حبيبتان الی الرحمن سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم »

دغه شان حديث مبارك كښې راځی لا يزال لسانك رطباً بذكر الله. دا مسئله د توحيد په ډېر تکفل تعبيراتو سره کله بعنوان التوحيد، بعنوان التحميد، بعنوان البرکت او بعنوان التسبيح د دې د پاره مختلف عنوانات راوړی چې زړه ته کوز شی او ته پرې هم پوهه شې يو شاعر عبد الرحمن بابا هغه سره ملګرو توقه کوله نو يو بوډۍ ته ئی اووې چې ته ځان ښائسته کړه او ميکف اوکړه او د هغه مخکښې تيره راتيره شه بوډۍ ځان ښائسته کړو او د عبد الرحمن بابا مخې ته تيره شوه.

عبد الرحمن بابا اوئيئل:

پدی لاړه پدې راغله هغه اوس به بيا راشی

سرئی سپین غابنٔ ئی ختلې سترګې توري ماله خندا راځی

دا مسئلـه ډيره د خوند مسئله ده کله چې ئی بيانوې نو په تا

به مکتلف قسم اعتراضونه هم کيږی خو تاته به پته وی د مخالف

دلائل او دا نهه قسمه دی او دا نهه دلائل زيات ذکر کيږی.

۱: الانکار ۲: الخصومة والجدال

۳: التوسل بالوسائل الشركية ۴: اتباع الآباء

۵: اتباع الظن ٦: القياس الفاسد

۷: النقول على الله ۸: الافتراء على الله

۹: اتخاذ الولد لله تعالىٰ ۱۰: الاستفهام الانکاری

(۲) الانکار:

دا انکار د دوی په مختلف سورتونو کښې ذکر دې چې دوی به

وائـی چې نه ئی منم نو د دې علاج سخت دې لکه (سورة الصافات ۳٦)

ويقولون ء انا لتاركوا الٰهتنا لشاعر مجنون ۝

دا استفهام انکاری دې آیا مونږ پریږدو خپل الهه د وجې د وینا

دیو شاعر لیونی نه پیغمبر ته ئی لیوني وئیلو چې دا لیوني راغلې

دې مونږ خپلو خدایانو نه اړوی دغه شان هود ۵۳ کښې فرمائی وما

نحن لك بمؤمنين په حضرت هود علیه السلام باندې آفرين وی هغه

خه وائی انی برء مما تشرکون ۵۴ الی ۵٦

دا د حضرت هود علیه السلام بیان زمونږ د پاره سبق دې چې دا په هر داعی راځی تکلیف چې راځی ته به وائی انی توکلت علی الله دغه شان د کوره چې اوځې هم وائې بسم الله توکلت علی الله لا حول ولا قوة الا بالله د کورنه چې بهر راوځې نو داسې به وائې:

بسم الله توکلت علی الله لا حول ولا قوة الا بالله اللهم انی اعوذبك ان اضل واضل واذل اوادل اواظلم اواُظلم اواجهل اویجهل علی.

(۲) الخصومة:

کله به جهګړه وی تاسره مقابله به کوی خو نه به بیان د مسئله توحید پرېږدې ځکه چې دا جهګړې انبیاء کرامو سره هم شوې دی لکه ص ۳،۵،۴ وعجبوا ان جاء هم منذر منهم وقال الکافرون هذا ساحر کذاب کله به درته دروغژن او کله ساحر لکه سورة انعام ۲۵ ان هذا الا اساطیر الاولین (نحل: ۲٤) تاته به هم وائی څه ترجمه ده صرف قیصې کوې چې تاته اووائی نو ته ورته اووایه چې په قرآن هغې کښې هم واقعات دی کله به وائی د توقو خبرې کوې خلق خندوی ورته وایه احادیثو کښې راځی، دې ته خوش طبعی راځی، دخل یوماً علی نسلیم وقدمات نغد ابنها من بنی ابی طلحه فقال له یا عمیر ما فعل انغیر.. یا ... ابا عمیر (حواله مدخل ج ۲ ص ۱۲۳)

هغه وو چې مرغۍ ئې مړه شوې وه نبی علیه السلام راغې ورته ئې

اوفرمائيل يا ابا عميره په مرغۍ څه چل اوشو؟

دغـه شان وجاء تـه امـراته فقالت يا رسول الله ادع الله ان يدخلني الجنة فـقال يا ام فـلان ان الـنـجة لا يدخلها العجوز فولت الامراة وهی تبکی فـقال صـلـی الله عـلـيـه وسـلم فجعلنا هن ابكاراً عرباً اتراباً المدخل ابن الحاج . (ج۳ص ۲۲۳، ۲۲۴)

دغـه شـان بوډۍ نبی علـيه السلام ته اووې چې دعا اوکړه چې مـونـږ جـنـت تـه لاړ شو نو نبی غليه السلام ورته افرمائيل چې بوډۍ ګانې به جنت ته نه ځی نو بوډۍ روانه شوه اوژړل ئی،

نبـی عـلـيـه السلام صحابه كرامو رضوان الله تعالیٰ عليهم اجمعين ته اوفـرمـائـيـل چې ورته وايه چې ته به بيا ځوانه يې او آيت ئی اولوستلو الخ دغه شان حديث کښې راځی:

عن انـس رضی الله تـعـالیٰ عنـه ان رجلاً استحمل رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال انی احملك على ولد الناقة فقال ما صنع فقال رسول الله صلى الله عليه ولسم وهل تلد الابل الا النوق (رواه الترمذی و ابو داؤد)

يـو دی تورقې چې په هغې ذلت وی او بل دی مزاح چې خوش طبيعتی په کښې راشی دا رنګه ۴۰ وقال الكافرون هذا ساحر كذاب که تا ته دروغژن وائی خير دې ځکه چې د الله تعالیٰ پيغمبر ترې هم نه دي خـلاص شـوې نـو تـه لا څـوك ئـی يـره وائـی چې دې د هغې جواب نه کوی او مونږ چاته کنځل نه کوو حج ۷۳ حم السجده ۲۵

(۳) التوسل بالوسائل الشركية:

چې کله ته مسئله د توحيد شروع کړې نو دوی به وائی خو مونږ ورته الهه نه وايو دا خو د الله نيازولي دی زمونږ سفارشيان دی مونږ دوی ته وايو او دوی الله ته وائی لکه سورة يونس ۱۸ ويعبدون من دون الله مالا يضرهم ولا ينفعهم ويقولون هوء لاء شفعاؤنا عند الله دغه شان الزمر ۳ والذين اتخذوا من دونه اولياء ما نعبدهم الا ليقربونا الى الله زلفى سورة الاحقاف ۲۸.

(٤) بيان القياس الفاسد:

کله کله دوی قياس فاسده کوی چې بادشاه له چې ځې نو وکيل پکاروی اول به وکيلانو سره ملاقات کوې نو بيا ورستو بادشاه سره لکه سورة يس ۷۸ وضرب لنا مثلاً ونسى خلقه النحل ٢٤ فلا تضربوا لله الامثال دغه شان په يوسف ۷۷ کښې نحل ۷۴.

بيان اتباع الآباء:

کله کله اتباع الآباء دليل ذکر کوی چې زمونږ پلار نيکه څه کړې دی مونږ به هم هغه کوو لکه البقرة ۱۷۰ قالوا بل نتبع ما الفينا عليه آباء نا اولو کان آباؤ هم لا يعقلون شيئا ولا يهتدون مائده ۱۰٤، اعراف ۲۸، يونس ۷۸، هود ٦٢۔

بعضې ناپوهه خلق په مونږ اعتراضونه کوی چې تاسو هم

6

اتباع الآباء كوى. شيخ القرآن رحمة الله عليه په تقليد مذمومه او په اتباع الآباء چې په مقابله د قرآن او حديث كښې وى رد كړې دى او په العرفان كښې ليكلى دى لا يرد على اتباعنا السلف المجتهدين او حضرت يوسف عليه السلام هم فرمائى لكه سورة يوسف: ٣٨ واتبعت ملة آباء ى مونږ اتباع الآباء دين كښې كوو دغه شان مونږ د هغه چا تقليد كوو چې يا خو تابعين وى يا تبع تابعين دى بيا مونږ دائمو تقليد كوو نو په غير مصنوعى مسائلو كښې كوو يا دوه نصوصو كښې تعارض وى نو مونږ د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه قول اخلو دا نه چې هغه سره دليل نشته دليل شته خو مونږ نه طلب كوو د تقليد معنى هم دغه ده قبول د قول د غير بلا طلب الدليل لكه مثال د ډاكټر او مريض دې بيمار له ډاكټر دوائى وركړې نو بيمار دا تپوس نه كوى چې په دې كښې څو اجزاء مركب دى بيا خو ته د ډاكټر مقلد شوې او كه ته وائې چې زه تقليد شخصى نه كوم نو تقليد كلى به كوې بيا؟ يعنى د يو خو نه منې ليكن د زرګونو خلقو منې بل دا چې كه ته وائې تقليد شخصى نه كوم نو بيا تقليد كلې كوى نو او عندالمناطقه خو كلى د پاره وجود نشته مستقل بلكه په ضمن دا افرادو كښې راځى او موجودېږى نو بيا تقليد شخصى اوكړه يو شاعر وائى:

كه چه ما داريم تقليد امام
قول او باشد مدلل بر دوام
نيست قلوش بے دليل اے عليل

نیست هر کس را ولے علم دلیل
آیتے باشد دلیلش یا خبر
یا برین هر دو قیاس است اے پسر

په مرحة الخواطر کښې ليکلی دی چې د غیر مقلدينو يو مشر نواب صدیق حسن خان مونږ د احنافو په طريقه کولو او اوس جاهلان د احنافو مونږ ته باطل وائی دغه شان امام ابن تیمیه رحمة الله عليه فرمائی په مجموعة الفتوى کښې اذا كان في المسئلة قولان که اسباب د ترجيح معلوم وی ښه ده والا قلد بعض العلماء الذين يعتمد عليهم اى في بيان ارجع القولين دغه شان محمد بن عبد الوهاب نوصی وائی مونږ امام هغه کس مقرر وو چې د يو امام مقلد وی.

بيان اتباع الظن:

چې دا مشرك كله كله خيال او گمان پسې روان وی چې بابا له څه کيدې شی چې ښه شم جوړ شم یا ځما خبره اومنی قرآن پاك په دوی رد کوی لکه الانعام ۱۱٦ ﴿إن﴾ يتبعون الا الظن وان هم الا يخرصون دغه شان یونس ٦٦ النجم ۲۳.

بيان التقول على الله:

چې کله دا مشرکان د دروغو خبره الله پورې تړی چې الله تعالیٰ دا وئیلې دی لکه الاعراف ۲۸

واذا فعلوا فاحشة قالوا وجدنا علیه آباء نا والله امرنا بها»

نو الله پاك جواب کوی چې

قل ان الله لا یامر بالفحشاء دغه شان فرمائی اتقولون علی الله ما لا تعلمون او تحقیقی جواب کوی په دې آیت سره چې قل امر ربی بالقسط ای بالتوحید.

بیان الافتراء علی اللّٰه:

کله کله افتراء کوی په الله تعالیٰ لکه یو کار اوکړی او بیا وائی داسې الله تعالیٰ وئیلې دی افتراء عام دې قولًا وی یا فعلًا او تقول چې دې قولًا وی لکه صف: ۷، ومن اظلم ممن افترٰی علی الله کذباً یونس ۶۰.

بیان اتخاذ الولد للّٰه تعالیٰ :

دا د دوی شبه ده چې الله پاك نائبان نیولې دی او هغوی له باقاعده اختیارات ئی ورکړې دی او هغوی هم څه کولې دی قرآن پاك دا عقیده رد کوی چې دا غلطه عقیده ده لکه سورة یونس ۶۸ کښې دغه شان دلته البقرة ۱۱۶ کښې دا شبه ذکر کوی او پنځه جوابونه ئی کړې دی اجواب سبحانه ۲ بل له ما فی السموات والارض ۲ کل له قانتون ٤ بدیع السموات والارض ٥ واذا قضی امراً فانما یقول له کن فیکون بیا دا یو اتخاذ الوالد ۲ تولید الولد دې.

اتخاذ الولد دي ته وائی چې نائب نيسی قائم مقام لکه سورة يوسف ۲۱ سورة قصص ۹ چې فرمائی وقالت امراءة فرعون تر دې پورې چې بيا وائی او نتخذه ولداً او توليد الولد دې ته وائی چې د خپل موراو پلار نه پيدا وی او مشرکانو الله د پاره نائب ثابتول.

الدرس الرابع:

(۱) صداقت الکتاب (۲) اثبات الرسالت

نن مونږ اثبات الرسالت، صداقت الکتاب او ايمان بالآخرة ذکر کوو او دا صداقة الکتاب او اثبات الرسالت دواړه اصول يو ځائی بيانوی ځکه چې صداقت د رسول بعينه صداقت د کتاب دې صداقت الکتاب بعينه اثبات الرسالت دې کله چې يو پيغمبر خپل قوم ته راغي هغه به دا وئيل چې زه د الله تعالیٰ حق پيغمبر يم او زه چې کومه خبره کوم دا د الله تعالیٰ له طرفه ده او زه د خپل جانب نه تاسو ته خبرې نه کوم آخری نبی عليه السلام چې کله راغي نو هغوی هم دا خبره اوکړه نو خلقو قسماقسم تکليفونه او سختې ورته اورسولې مجنون او ساحر او کذاب ئی ورته اووې قرآن کريم کښې کله اثبات التوحيد کوی وريسې اثبات الرسالت او صداقت الکتاب ذکر کوی لکه سورة البقرة ۱۲.

يا ايها الناس اعبدوا ربکم ... الاية

دې آيت کښې اثبات التوحيد کوی وريسې ۲۲ کښې

صداقت الكتاب او اثبات الرسالت كوى پيش كوى.

وان كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا»

دغه شان سورة الاعراف ۲ كتاب انزل اليك فلا يكن في صدرك حرج دې كښې اثبات الرسالت او صداقة الكتاب دې دغه شان الطور ۱ سورة قلم ۱ په دې كښې صداقت الرسول دې نن هم چې څوك مسئله د توحيد بيانوى هغه ته هم ليونې وئيلې كيږى الله پاك د دې منع كوونكى د قرآن خراب صفات ذكر كوى ۱۰ آخر كښې وائى دا زنيم دې نمر دس حرامى دې چې تا د قرآن بيان نه منع كوى. لكه يو شاعر وائى شعر:

زنيم ليس يعرف من ابوه بغي الام ذو حسب لئيم

دغه شان قرآن كريم كښې ځائى په ځائى د دوى اعتراضونه او جوابونه ذكر كوى لكه الفرقان ٦، ٤ كښې اعراض دې په صداقت الرسول او صداقت الكتاب ٦ آيت كښې جواب دې قل انزله الذى الخ ۷ آيت كښې اعراض دې په رسول باندې ۱۰، ۹ حديث كښې راځى چې الله پاك يادوه تر دې پورې چې خلق درته ليونې اووائى مطلب د حديث دا دې چې د توحيد مسئله كوه نو خلق به وائى چې دا ليونې دې ان تتبعون الا رجلاً مسحوراً

البرهان كښې امام زركشى ذكر كوى چې كوم اعتراضات چې په خوا مشركينو كل نن هم هغه اعتراضونه اوسنى خلق كوى جواب هم هغه دې دغه شان الانعام كښې ٦٣ اعتراضونه او د هغې

جوابونه ذکر کوی لکه (۷۔۸، ۲۳۔۲۵، ۵۵)، دغه شان القمر ۹ دغه شان په اب الثانی په نوح علیه السلام اعتراضونه شوي دی القمر ۲۵ جواب په ۲٦ کښې دغه شان سورة الانبیاء ۳٦ واذ اراك الذین کفروا ان یتخذونك الا هزواً الایة او کله به خلق د قرآن نه منع کوی او خپله به هم ن زده کوی لکه الانعام ۲٦ کله به درته وائی چې ته کله یو شان بیان کوی او کله بل شان یو قسم بیان اوکړه جواب سورة الفرقان ۳۲ دوی به وائی چې دا ټول یو ځل بیان که کنه دا رنګه القصص ۲۸ انعام ۳۳ دلته قول چې یقولون دی ذکر دی او مقوله ئی حذف کړې ده د پاره د تعمیم ځکه د مشرکینو څه په خله راشی نو وائی درته.

د شیخ القرآن رحمة الله علیه نه یو شیخ الحدیث تپوس اوکړو چې دا څه وجه ده چې یو طالب چې تاسره یوه میاشت تیره کړی بیا چې ستا نوم خوك بې اودسه او بې ادبۍ سره اخلی نو جنګ کوی او مونږ سره دولس کاله تیر کړی زمونږ پوښتنه هم نه کوی شیخ رحمة الله علیه په جواب کښې اووې چې زه اول ۱۰ ورځو کښې د طالب نه سستی لرې کوم بیا لس ورځې ورته سبق ښایم بیا آخر لسو ورځو کښې د دوی جماعت، تنظیم جوړ کړم چې توحید او سنت به بیانوی او منّت ورته کومه چې ګذاره کوئ ملا اووې چې آخری لسو ورځو کښې کوشش کوه چې مونږ سره ګذاره کوی مونږ د نمونې دپاره یو څو اعتراضونه او صداقت الکتاب الرسالت د پاره آیتونه پیش کړل انشاء الله تفصیل به کوم.

ایمان بالآخرة:

څلورم اصل د اصول مهمونه ایمان بالآخرة دې نو قرآن کریم چې قیامت ثابتوی اکثر په امثلو سره ثابتوی ځکه چې مسئله د قیامت د عقل نه اوچته ده لکه سورة الدهر ١.

هل اتى على الانسان حين من الدهر لم يكن شيئا مذكوراً الله تعالیٰ فرمائی چې انسان ما د نیشت نه شته کړې دې کله کله د دوی اعتراضونه ذکر کوی په اثبات القیامة او جوابونه هم کوی لکه القیامة ٣: ایحسب الانسان ان لن نجمع عظامه.

دغه شان ق ٣ چې فرمائی: کذلك الخروج ١١،٢٢ سورة الذاریات ٦،٥ دغه شان ٢٩، سورة الروم ٢٧ دا هغه مقاصد عالیه وو چې قرآن کریم په مختلف تعبیراتو سره ذکر کوی زیات وضاحت دوره تفسیر وخت کښې کوم انشاء الله تعالیٰ دا څلور مقاصد عالیه چې بیا نوی هغې د پاره دا ۴ نور پکار دی چې دې ته ممداه وائی: (١) جهاد (٢) انفاق (٣) تنظیم (۴) آداب

مونږ لږ لږ د هریو وضاحت کوو.

(١) الجهاد:

جهاد د جاهد یجاهد باب مفاعله ده د جانبین نه مقابله او کوشش دې چې مؤمنان د توحید او سنت اشاعت کوی او کافران د شرك خورولو د پاره کوشش کوی جهاد یو عظیم کار دې دا بهترین

عمل دې محترم شيخ القرآن.محمد طيب صاحب فرمائی د جهاد باره کښې ما يو مستقل کتاب ليکلې دې الجهاد فی القرآن دا جهاد د توحيد د پاره دې جهاد ملك او وطن د پاره نه دې چې خلق دا نعره کوی چې کشمير زمونږ دې حديث کښې راځی چې زرورة سنامه الجهاد د اسلام اوچتوالې جهاد دې لکه څنګه چې اوښ کښې اوچت والې دې دغه شان د اسلام بلندی هم په جهاد سره راځی او د جهاد خلاف دوه پروپيګنډې شروع شوې دی يو بيرونی او يو اندرونی بيرونی دا چې يو طرفته مسلمانانو ته کلاشنکوفونه ورکړل بل طرف ته ميډيا د هغوی په لاس کښې وه نو خلقو ته ئې اوښودل چې مجاهد څوك دې چې غټ غټ بريت وی غټ غټ ويخته وی اس باندې سور وی يو لاس کښې توره ده بل لاس کښې نيزه ده چې د غرونو نه رغې د کلی ماشومان او زنانه قتلوی مغرب والاؤ خلقو ته داسې شکل کښې ښکاره کړو د مسلمانانو ئې د مجاهد نه نفرت پيدا کړو چې صله رحمی نشته رحم نشته داسې کار د بعضې کمزورو مسلمانانو نه اوشو حالانکه مجاهد خو داسې نه وی د مسلمان وينه څومره قيمتی ده واقعی مجاهد خپل مسلمان ورور چرته وژنی.

دويمه اندرونی پروپيګنډه شوه د باطل د حفاظت د پاره بعضې خلق اوس پيدا شو د جهاد په نوم دهشت ګردی ئې شروع کړه دغه شان کله چې انګريزان په دې ملك مسلط شو نو هغوی د جهاد د ختمولو کوشش شروع کړو چې د مسلمانانو نه د جهاد جذبه مکمل ختمه

کړی د دې خبرې هغوی ظالمانو ډیر انتهائی او حد درجې کوشش شروع کړو بیا د دې نه بعد هغوی غلام احمد خان قادیانی چې یو عالم وو هغه ئی پیدا کړو هغه بدبخت د پیغمبری دعوه اوکړه او اعلان ئی اوکړو چې جهاد منسوغ دې او دې ظالم بخاری شریف کښې یو حدیث مبارك کښې تحریف اوکړو یضع الجزیه نه ئی الحربة جوړه کړه لیکن ده ته پته نه وه چې دغه شان بل حدیث هم شته بخاری شریف کښې ده نه وو لیدې چې د دې په وجه د ده غلا ښکاره شوه دغه شان دې انګریزانو ناکاره ملایانو ته د خوشحالولو د پاره لقبونه ورکړل لکه شمس العلماء وغیره دغه شان دا خبره چې جهاد منسوخ دې د غیر مقلدینو یو مشر هم کړې دې او علامه عبد الحئی په دې سخت ردونه کړې دی د جهاد ۱۳ مراتب دی انشاء الله مراتب د جهاد په تفسیر د سورۃ بقره یا په تفسیر د انفال کښې به ئی ذکر کوو ۱ القتال په توره جهاد کول د اعلاء کلمة الله د پاره اصول قواعد سورۃ انفال کښې ذکر کوی لکه ۱۵:

يا ايها الذين آمنوا اذا لقيتم الذين كفروا زحفاً

۲ قاعده ۳ قاعده ۲۴ قاعده ۲۷ قاعده ۲۹ کښې ٦ قاعدې ۴۵ کښې ۳ قاعدې ۳۹ آیة کښې وائی وقاتلوهم حتى لا تكون فتنةٌ چې دې آیت کښې مقصد او غرض د قتال ذکر دې چې جهاد به کوئ تر هغه وخت پورې چې توحید دنیا کښې خور شی پوره وضاحت د قواعدو او جهاد انشاء الله کوم به تفسیر کښې: الشیخ محمد طیب

صاحب

(۲) الانفاق :

دویم د ممداتو نه انفاق فی سبیل الله دي چې د الله دین اوچت والی د پاره مال به خرچ کوئ قرآن کریم مختلف طریقې سره ترغیب ورکوی الی الانفاق لکه الحدید ۷ آیت کښې چې دا مال ستا نه دې بلکه الله تعالی درله در کړې دې نو ته الله تعالیٰ د پاره اوکړه ۲ وجه چې زه مال ستا دې هسې هم الله تعالیٰ ته پاتې کیږی ورکړه د الله تعالیٰ په دین کښې ۱۰ آیت کښې ولله میراث السموات والارض ۳ وجه زه مال ستا دې او الله تعالیٰ ته هم نه پاتې کیږی خو الله تعالیٰ له قرض ورکړه چې بیا دو چند در کړی (حدید: ۱۱) من ذالذی یقرض الله قرضاً حسناً الایة ۴ وجه دا ده د دې حقیقت څه دې ۲۰ زینة وتفاخر یعنی لوئی ده په مینځ ستاسو کښې د یو بل نه، دنیا پسې چې څومره زی هغه به درنه تختی او څومره چې بې پروا کیږې نو دنیا به دریسې کیږی لکه فرمائی .

طلبنا الفقر فاستقبلنا الغنی و طلب الناس العنی فاستقبلتهم الفقر

وجه چې ته مال دې د پاره ساتې او جمع کوې چې چرته بیماری یا تهانه تحصیل کښې پکار شی او دې سره غمونه ختم شی نه داسې نه ده بلکه چې ازل کښې څه لیکلې شوې دی ۲۲ آیت .

تغابن آیت: ۱۱، وما اصاب من مصیبة فمن الله » دغه شان البقرة

۱۹۵، وانفقوا فی سبیل الله ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکة ای بجمع الاموال ترمذی د مصرف ځائی هم بنائی البقره: ۲۷۳، الذین احصروا فی سبیل الله.

امام رازی رحمة الله علیه فرمائی مراد د دې نه طالبان دی ابو الکلام آزاد لیکی ما ډیر احادیث اوکتل ما داسې حدیث اونه لیدلو چې دې ته مسکین راغلې وی او صحابی مسکین ته ورکړې وی چې دا قبول کړه بلکه بیت المال ته به راوړل او د هغې نه به تقسیمول بیا وایو چې بیت المال نشته بیا یو دفتر انجمن جوړ کړئ او هلته جمع کوئ او د هغه ځائی نه بیا لګوئ به.

(۳) التنظیم

بل د اصول ممداتو نه تنظیم جوړول دی د ا توحید او سنت اشاعت د پاره ځوك چې نه منی قرآن آیاتونو نه انکار کوی لهذا تنظیم کښې اوسیدل لازمی دی حدیث کښې راغی فرمائی:

الزم جماعت المسلمین ومامهم

بل حدیث کښې راغی من فارق الجماعة شبراً فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه.

بعضې خلق وائی مونږ د توحید او سنت کار کوو انفراداً دوی چې دی د قرآن نه انکار کوی ځکه د یو اصل نه انکار کوی ځکه

خو مره کار چې جماعت سره کيږي هغه انفرادي نه کيږي د ميږو تنظيم هم شته دوی هم د يو تنظيم لاندی کار کوی او ژوند تيروی دغه شان مچی ته اوګوره دوی هم بادشاه لری الخ قرآن کريم چې د تنظيم ذکر کوی نو هغې د پاره قوانين او اصول ذکر کوی لکه سورة آل عمران ۱۰۲ چې اول قاعده دا ده چې عقيده به ستاسو توحيد وی دويم قانون دا دې چې قانون به ستاسو قرآن او حديث وی فيصله به په دې کوئ لکه ۱۰۳ آيت کښې دريم قانون به قرآن وی، ۱۰۴ کښې چې اراکين د جماعت به فعال وی امر بالمعروف او نهی عن المنکر دې کوی څلورم قانون ۱۱۵ چې په خپل جماعت باندې به مال لګوی پنځم قانون چې د شوری رکن به هغه کس جوړوی چې ستاسو رازدار وی منافقين به رازدار نه نيسی وضاحت به خپل ځائې کښې کوم، لکه آل عمران: ۱۱۸.

(٤) الآداب:

مطلب دا چې د يو بل احترام او عزت به کوئ بې عزت او بې احترامی به نه کوئ خپلو ملګرو به ادب کوئ لکه سورة الحجرات کښې اووه آداب ذکر دی ۱ ادب آية ۱ اچې ځا به د الله تعالىٰ او د پيغمبر عليه السلام نه مشر نه ګنړئ الله تعالىٰ او پيغمبر عليه السلام چې څه وئيلې وی نو هغه به منئ او د هغې به تابعداری کوئ ۲ ادب آية نمبر ۲ چې د خپل مشر ادب به کوئ او چې څنوك د خپل مشر

ادب نه کوی هغه ناکامیږی ۳ ادب آیة نمبر ٦ چې بې اعتباره سړی چغل مار خبره راوړی بې تحقیق مه منئ ۴ آیة نمبر ۹ د اراکینو په مینځ کښې جهګړه راشی صلح اوکړئ په عدل سره (۵) ادب اية نمبر ۱۱ د مومنانو سړو او ښځو پورې توقی مسخرې مه کوئ خوش طبیعتی جائز ده استهزا او مسخره ناجائز ده ادب آیة نمبر ۱۲ بل پسې بدګمانی مه کوئ او جاسوسی مه کوئ او د چا عیب مه بیانوئ ۷ ادب آیة نمبر ۱۳ چې فضیلت او کرامت په تقوی سره دې خطاب عام دې چې تاسو انسانان ئی د یو پلار او مور نه پیدا ئی په نسب سره یو بل باندې فخر مه کوئ.

الدرس الثامن

بیان اقسام الدلائل

نن مونږ دا ذکر کوو چې هر سورة کښې او هر آیت کښې په خاصه خبره ذکر کوی چې مونږ د هغې نه تعبیر په دعوه د سورة سره کوولکه محور وایو کله مقصد السورة وایو نو دغه مقصدی مسئله وی سورة کښې واقعات امثله، دلائل دغه دعوة اثبات د پاره دې کله چې دعوة کیخودل شی د اثبات د پاره خلور طریقې دی.

(۱) دلائل عقلیه (۲) دلائل نقلیه (۳) دلائل وحیه (۴) الحلف

دلیل عقلی هغه دې چې عقیل ئی منی دلیل نقلی هغه دې چې ته بیانوې خو نقل د بل چانه کوې دلیل وحی هغه دې یعنی

داسې دلائل چې الله تعالیٰ وائی ما په دې مسئله وحې کړیده یا پیغمبر علیه السلام اووائی چې وحی نازله شوې ده حلف دېته وائی چې د مسئلې اثبات د پاره کله قسم او کله شواهد ذکر شی .

دلائل عقلیه :

کله اثبات د مسئلې او وضاحت لپاره عقلی دلائل پیش کوی داسې دلائل چې عقل ئی نه منی او شك شبه به په کښې نه وی دا عقلی دلیلونه په درې قسمونو سره دی.

(۱) دلائل عقلیه محضه (۲) دلائل عقلیه اعتراضیه

(۳) دلائل عقلیه الزامیه

(۱) اول قسم دلائل عقلیه محضه :

دا دیته وائی چې د هغې مقدمات مسلم عند الخصم وی الزام او اعتراف نه وی او چې کله ته تفریع اوکړې او د منلو د پاره پیش کړې نو بیا ئی نه منی لکه په سورة النحل کښې ۳،۴، نه تر ۸ اول دعوه د توحید ذکر کوی چې انه لا اله ... الاية (نحل آیت: ۲) اوس په دې دلائل ذکر کوی خلق السموات والارض ۱۰، ۱۱، ۱۲ تر ۱۷ پورې دغه شان فرمائی انما هو اله واحد (نحل: ۲۲) دا دعوه د توحید ده دلائل ٦٦ نه تر ۷۰ پورې چې اوګوره مچۍ ته چې څکلې دی اوبه او خوږلې دی ګلان په لکې کښې زهر او خله کښې ګبینان دا چا پیدا کړې دی ٦٩، ۷۰، ۷۲ کښې ای انسانه اوګوره خپل پیدائش ته څوانۍ نه شوې

بو ډا نو روان ئی په همسا دا انقلاب در کښې راوسې دې بيا چا بيا وائی اوګوره انګورو ته خومره ښائسته ګوډی دی دا درله چا پيدا کړې دې بيا وائی کهجورو ته اوګوره خومره پسته ده چې بوډا ئی هم خوړلې شی دا درله چا پيدا کړې دی بيا وائی غوا ميښې ګډی او بيزې ته اوګوره خوړلې دی واښه خکلې دی اوبه يو طرفته دو غوشيان بل طرف ته وينی روان ترينه شوده شررا بهيږی ته ئی څکې دا درله چا پيدا کړې دی دغه شان اوله عقليه محضه سورة الرعد ۲ الله الذی رفع السموات بغير عمد ترونها اې انسانه بره اوګوره آسمان درله بغير د ستنو نه چا پيدا کړې دې دا نمر، سپوږمی درله چا پيدا کړې دی زمکې ته اوګوره مخامخ غرونو ته اوګوره ښکته درياب ته اوګوره چا درله روان کړې دې بيا وائی خالق د هر څه دې الله په ګيډه د هرې زنانه خبر دې بيا وائی خالق د هر څيز زه يم له دعوة الحق خاص الله تعالیٰ دې بلنه حق دې نو دې که را مدد اوچې څوك بابا رامدد کوی د دې مثال داسې دې لکه يو سړی اوبه غاړې ته ولاړ دې او وائی چې وه اوبه راشه، راشه لکه څنګه چې دا اوبه خلې ته نه شی راتلې نو دغه شان دا بابا هم نه رامدد کيږی بيا وائی څوك چې غير الله رامدد کوی دغه کافر دی د دې دا چغه د کفارو چغه ده دغه شان په الانعام ۱۳، ۲۵ املك ۲۷ بقره ۲۱ وضاحت دوره تفسير کښې کيږی.

(۲) دويم قسم ادله عقليه اعترافيه:

دا هغه دليل دې چې د دې مقدمات مسلم عبد الخصم وی چې مخالف نه تپوس اوکړې هغه هم منی اقرار او اعتراف کوی په دې باندې لکه سورة المؤمنون ۸۴،۸۵

قل لمن الارض ومن فيها ان كنتم تعلمون تر ۸۹ پورې بيا هلته اقرار كوى سيقولون لله فانى تسحرون دغه شان العنكبوت ۶۱:

ولئن سالتهم من خلق السموات والارض وسخر الشمس والقمر ليقولن الله قل فانى توفكون ○

دغه شان ٦٣ سورة الزخرف ، سورة لقمان ۲۵ تفصيل به قرآن كښې په خپل ځائى كوو

(۳) دليل عقلى مسكت للخصم:

دې دليل ته الزامى هم وائى چې ته په خپل مخاطب خصم يعنى الزام كوې چې د ده خله بنه بند شى دا داسې دليل دې چې دشمن غلې كوى بيا ته په خپله به جواب كوې لكه الانعام آيت: ۴۱ كښې قل ارء يتم ان اتاكم عذاب الله . . .الاية. دغه شان ٦٣ چې دوى غلې كيږى بيا ته جواب كوې.

دليل نقلى:

دويم قسم د ادلو نه دليل نقلى دې قرآن كريم خپل مدعى كله

۶ په دې سره ثابتوی دلیل نقلي په دوه قسمه دې.

(۱): اجماعیل (۲) : انفرادی

مطلب دا چې کله د ګنړو نه ذکر کوی چې تولو دا مسئله بیان کړې ده او کله د یو یو نه نقل کوی نو هغې ته انفرادی وائی بیا دا ادله نقلیه (۱) کله د انبیاء کرامو نه راوړی (۲) کله د ملائکو نه (۳) کله د عباد الصالحین نه او (۴) کله د کتب سابقه نه چې پخوانی کتابونو هم دا مسئله کړې ده. دا ادله نقلیه کله د هغې اقوال ذکر کوی کله د هغوی افعال.

دلیل نقلي اجتماعی:

چې تولو انبیاء کرامو علیهم السلام دا مسئله کړې ده لکه سورة الانبیاء ۲۵. وما ارسلنا من قبلك من رسول الا نوحی الیه انه لا اله الا انا فاعبدون».

دا دلیل وحی هم دې دغه شان النحل ۳۶ ولقد بعثنا فی کل امة الاية دغه شان دلیل نقلي اجتماعی ذکر کوی چې د هغوی افعال واحوال ذکر کوی الانبیاء ۷۶ آیت اوګوره د تولو انبیاء کرامو حالت حضرت ایوب علیه السلام، حضرت زکریا، حضرت یحیی، حضرت عیسی علیهم السلام د هغوی حالات په دې ګواه دی چې هغوی الله تعالیٰ ته فریاد کوو او عاجزی ئی کوله دغه شان آل عمران ۷۹ الاعراف ۵۹ د حضرت هود علیه السلام نه الاعراف ۶۵ د حضرت صالح علیه

السلام نه هود ۸۳ دغځ شان الانبياء نوح عليه السلام وائی ۷٦، ايوب عليه السلام وائی ۸۳، ذكريا عليه السلام وائی ۸۹، اوګوره حضرت نوح عليه السلام عاجزی اوکړه الله تعالیٰ ته. الله تعالیٰ ته محتاج وو. دغه شان يونس عليه السلام په سورة انبياء آيت: ۸۷ مغاضباً غصه کوونکي په خپل قوم چې دوی ولې ايمان نه راؤړی ان لا اله الا انت» الله تعالیٰ بل حاجت پوره کوونکي نشته مګر ته ئی سبحانك پاك ئی د شرك نه انی کنت من الظالمين» ما سره اسباب د نجات کم دی لا مبو نشم وهلې کشتی نشته، لانچ نشته، په څه کښې اوځم وريسې حضرت زکريا عليه السلام ۸۹ فرداً يا الله ما تش تور مه پريږده ماله بچې راکړه دغه شان سورة انبياء ۸۹، اعراف: ۱۴۳ آيت اوګوره چې کله حضرت موسی عليه السلام الله تعالیٰ ته ژړا کوی او عاجزی کوی هغه څه وائی وانا اخترتك ما منتخب کړئ ځانله د مخلوق نه. موسیٰ عليه السلام ته وائی چه ته مې غوره کړې ئې په خلقو باندې په رسالت او خبرو باندې اعراف: ۱۴۴، سورة هود ۵۰ بيا ٦۱ کښې بيان د حضرت صالح عليه السلام دی دغه شان البقرة ۱۲۳ دليل نقلی د حضرت يعقوب عليه السلام نه آل عمران ۵۱ حضرت سیٰ عليه السلام هم دغه آواز کوی چې ان الله ربی وربکم دغه شان ۳٦ دا آيت چې دې مخکښې تير شوې دې دا خو تکرار راغلې دې جواب دا دې آل عمران کښې دا آيت راؤړې وو د پاره د رد د نصرانيت دلته مريم کښې راؤړې دې د پاره د دې چې دلالت اوکړی په عاجزی، چې هغه

محتاج وو نو ځکه چې هلته عجز بیان کول نو دا تکرار رانغې جدا جدا فائدو د پاره دې دغه شان دلیل نقلی د حضرت عیسی علیه السلام المائده ۱۲ کښې دغه شان د حضرت ابراهیم علیه السلام (سورة ابراهیم ۳۵ تر ۴۱) عیسیٰ علیه السلام وائی، سورة مریم ۳۶. انه کان صدیقا نبیاً» (سورة مریم: ۴۱) رشتونی ورته ځکه وائی چې پلار ته ئی رشتیا وئیلې وو هسې خو ډیر خلق رشتیا وائی چې تکلیف نه وی بادشاه ته ئی رشتیا وئیلې وو د قوم مخکښې ئی رشتیا وئیلې وو دغه شان د حضرت یوسف نه ۳۹ چې په جیل کښې دا مسئله ئی کړې ده ودخل معه السجن فتیان بیا وائی وارباب متفرقون خیر ام الله الواحد القهار آیا جدا جدا خدایان غوره دی یا یو اخې وحد لا شریکه له ذات د الله تعالیٰ د مشرکینو معبودان جدا جدا ځایونو کښې دی څوک بغداد کښې دی څوک بونیر حئوك یو ځائی کښې دی او څوک بل ځائی کښې دی. الله تعالیٰ په شرك هیڅ دلیل نه دې رالیږلې، یوسف: ۴۰، انعام ۸۱، حج ۷.

دلیل نقلی د ملائکو نه :

کله دلیل د ملائکو نه ذکر کوی چې اوګوره ملائك محتاج دی او هغوی هم دا مسئله کړې ده دلیل نقلی من الملائکة هم دوه قسمه دی: (۱): اجماعی (۲): انفرادی

اجماعی لکه صفات ۱٦۵ الانبیاء ۱۹ ولا یستحشرون نه ستړی کیږی د الله تعالیٰ په عبادت کښې دغه شان سورة مریم ٦۴ وما نتنزل الا بامر ربك له ما بین ایدینا ،، اوګوره حضرت جبرائیل علیه السلام الله تعالیٰ ته محتاج دې د الله تعالیٰ د امر نه بغیر ښکته او پره قدم هم نه شی کیخودلې۔

دلیل نقلی من العباد الصالحین :

قرآن کریم کله کله دلیل نقلی ذکر کوی د نیکانو بندګانو نه چې اولیاء هم الله تعالیٰ ته محتاج دی الله تعالیٰ ته فریاد کوی او دا مسئله بیانوی لکه سورة الکهف ۱۴:

اذ قاموا فقالوا ربنا رب السموات والارض لن ندعوا من دونه الهاً لقد قلنا اذاً شططاً ۱۵ دغه شان دا ذکر کوی په یس ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۷ کښې ومالی الا اعبد الذی فطرنی والیه ترجعون ،، چې کله صاحب یس اورسیدلو اول د خپلو استاذانو حیثیت ښکاره کړه او د هغوی احترام او ادب کوه کله کله دلیل نقلی ذکر کوی د مارغانو نه چې مارغانو هم دا مسئله کړې ده او د دې مسئلې غم دې ورسره لکه النمل ۲۳ زه لرې مخکښې نه شروع کوم ۲۰ نه او دیته ملا چرګك وائی څکه دا چرګ وو او کارئی د ملا کړې وو ده دا مسئله بیان کړې ده نو څکه ورته ملا چرګك وائی۔

دليل نقلى من الجنات :

قرآن كريم كله كله دليل نقلي ذكر كوى لاثباة الدعوة د جناتو نه چې دوى عاجز دى محتاج دى الله تعالىٰ ته رامدد شه وائى لكه سورة الاحقاف ٢٩، ٣٠، ٣١، ٢٣.

واذ صرفنا اليك نفراً من الجن يستمعون القرآن دغه شان الجن: ١ آيت نه تر آخره پورې دغه شان سورة السبا ٢٢ الصافات ١٠٨.

دليل نقلى من الكتب السابقة :

چې پخوانى كتابونو كښې هم دا مسئله وه لكه سورة الاسراء: ٢٢، ٢٣ ولقد آتينا موسى الكتاب وجعلناه هدىً لبنى اسرائيل ان لا تتخذوا من دونى وكيلاً.

دليل وحى :

دريم قسم دليل وحى دې كله كله قرآن مسئله ثابتوى نو په هغې دلائل وحيه راوړى چا ما په دې وحې كړې ده ما چې كوم وحې كړې ده د هغې مطلب دا چې د الله تعالىٰ نه بغير بل حاجت روا نشته دا هم دوه قسمه دې عام او خاص كله عام ذكر كوى چې ما عامو انبياؤ ته د دې وحې كړې ده او كله خاص ذكر كوى يو يو نبى ذكر كوى چې هغه ته ما د دې وحې كړې ده دلائل وحيه عام انبياء نه ٢٥ وقضى ربك الا تعبدوا» حكم كړې دې رب ستا چې عبادت مه كوئ بغير د الله

تعالیٰ نه د بل چا بل حاجت روا نشته دغه شان نمل ۳۹ دغه شان النحل ۲۲ ، ۵۱،۳٦ دلیل وحی په اثبات التوحید لا تتخذوا الهین اثنین الکهف ۱۱۰ انما انا بشر مثلکم یوحی الی انما الهکم اله واحد دغه شان آل عمران ۱۸ یونس ۱۵ الاحزاب ۴٦.

الحلف:

دغه شان قرآن کله مسئله ثابتوی حلف سره یعني قسم سره خپل دعوه مجبوطوی دا قسم یواځې د قرآن طریقه نه ده بلکه دا عام عادت د مخلوق هم دې چې یوه خبره مضبوطوی قسم پیش کوی لکه یو شاعر وائی:

فان الحق مقطعه ثلاث   یمین اولقاء اوجلاء

یا قسم دې نو قسم مې درته اوخوړلو دویم یا مخامخ کیدل دی نو مخامخ ئی کړه راسره دریم او یا ثبوت د خبرې نو هغه مې هم ورته ښکاره کړه دغه شان بل شاعر وائی:

حلفت ولم اترك لنفسك ريبةً   ولس وراء الله للمرء مطلب

ما خو درته قسم اوخوړلو او نور مې درته څه شك پرې نه خودلو الخ قرآن کریم قسم پیش کوی د پاره د اثبات التوحید یاد ساته ګوره قسم په څو قسمه دې قسم په ګڼړو معانو باندې راځی نو دا معنې زده کړه چې سبا معانی غلطه نه کوې قسم کله کله په دې معنې باندې وی چې یو سړې قسم خوری په چا باندې (هغه مقسم به)

نو د ده عقيده دا وى چې دا په چا چه قسم خورم نو زه كه په دې خبره كښې دروغژن يم نو د هغه مقسم به دې ماته نقصان راؤرسوى، ضرور دې راؤرسوى دا ئى عقيده وى چې دغه مقسم به ضرر رسوى

(۱) په چا چه زه قسم كورم هغه مالك د نفع او نقصان دې لكه مونږ وايو زمونږ دې په الله تعالىٰ باندې قسم وى چې دا خبره داسې ده كه زه په دې خبره كښې دروغژن يم نو الله تعالىٰ دې ماته نقصان راؤرسوى او زما دا عقيده ده چې الله تعالىٰ نفع او نقصان رسولې شى نو په الله تعالىٰ قسم خورم .

حديث كښې راځى: من هلف بغير الله فقداشرك

چا چې د الله تعالىٰ نه بغير په بل چا قسم اوخوړلو نو هغهِ شرك اوكړو.

حديث كښې راځى: من كان حالفاً فليحلف بالله تعالىٰ ومن حلف بغير الله فليستغفر الله .

مطلب دا چې چا چې په غير الله قسم اوخوړلو نو مشرك شو نو دې دې كلمه وائى چې ايمان ئى تازه شى زمونږ ملك كښې دا قسم به خلقو په اولياء كرامو خوړلو د هغوى په دركاهونو باندې به ئى خوړلو پښتنو كښې چې اوس هم څوك خبره كوى نو وائى د لوې څوان قول واخله دلوې څوان قول واخله دلوې څوان قول را كړه دا كلمه د شرك ده اوچې سړى دا اووائى نو هغه مشرك شو د هغه عمل نه منظوريږى هغه دې توبه اوباسى دا قسم په غير د الله تعالىٰ نه په بل

چا منـع دې دا قسم په زمانه د جاهلیت کښې به هغوی خوړلو کله به ئـی وئیـل د بـابـا په نغرو مې دې قسم وی کله به ئی وئیل د بابا په دربار مـې دې قسـم وی او دا قسـمونه به هغوی خوړل (۲) دویم قسم قَسم په مـعـنـی د رحمت دې چې کله حالف عبدوی لکه عرب وائی ولعمر زید والـعـمر ابی اې یبارك الله فی عمر زید و عمر ابی یا دیم دا دې چې قسم په مـعـنـی د رحـمـت یعنی د قسم خوړونکی مطلب دا وی چې په دې مـقسم بـه رحـمـت وی او زما مهربانی دې وی دا معنې نه دی چې ګنی نـقـصان رسوی دا قسم قَسم قرآن کښې ذکر دی لکه الحجر ۲۳ لعمرك انهم لفی سکرتهم یعمهون رحمت دې وی ستا په عمر باندې

دریـم قسـم قَسـم پـه مـعـنـی د خیرو باندې دې کله کله چې د نبی علیه السـلام مشـرکـیـنـو هجوه اوکړه او په نبی علیه السلام بې بد وئیل په اشـعـارو کښـې حـضـرت حسـان بـن ثـابـت رضی الله عنـه د نبی علیـه السـلام صحابی چې کله واوریدل نو نر سړې کله صبر کولې شی چې د هـغـه د مشـر بـد وئیـلـې شـی نـو حضرت حسان جواب ورکوی ورته فرمائی. شعر:

هجوت محمداً براً تقیاً : و عـنـد الله فـی ذاك الجـزاء

ثکلت بنیتی ان لم تروها : تثیر النقع علی طرفی کداء

مـطـلـب د دې دا دې چې فرمائی الله تعالیٰ خو به سزا در کوی خـو زه به څه کوم نو زه به یو ځل که وس او طاقت مې اورسیدلو نو زه بـه پـه تاسو حمله کوم او زه به بدله اخلم او که دا په غر به دوړی د خپلو

اسونو زه اوچتی کړم کله چې مکه فتح شوه نبی علیه السلام ته یاد وونو غیرتی سړی ته یاد وی چاچې پرې غیرت کړې وی نو نبی علیه السلام حکم اوکړو ورکړئ اسونه چې خپل قسم پوره کړی الخ دغه شان قسم کله په معنی د شهادت باندې راځی چې د دې حالت گواه دې لکه په قسلم قسم اوخوری معنی دا ده چې دا قلم گواه دې چې دا خبره ما صحیح لیکلې ده یا په توره قسم او خوری چې دا توره گواه ده چې ما میدان جنگ کښې سستی نه ده کړې لکه فارسی زبان کښې وائی:

قسم بلب میگون تو وِزلف شبگون تو

که تو محبوب دلربای

وائی ستا په دې تورو زلفو دې زما قسم وی ستا په سرو شونډو دې زما قسم وی چې ته زما محبوب ئی نو معنی دا نه چې قسم پرې خورم چې ستا زلفې دې ماته نقصان اورسوی خو معنی دا چې ستا تورې زلفې او سرې شونډې په دې گواه دی چې ته زما محبوب ئی دغه شان قسم په معنی د شهادت قرآن پاك کښې ځائی په ځائی ذکر کړی لکه والصافات شاهد دې صف تړونکی ملائك دغه شان سورة ص، ق، الذاریات، الطور کښې هم دی زیات تفصیل به کوم انشاء الله دغه شان کله قسم وی لتفخیم الواقعه مطلب دا چې په چا قسم خوری نو هغه لوې گنړی نو په هغې باندې قسم خوری په دې معنې چې قرآن غټ او لوې کتاب دې او بهترین کتاب دې نو په دغه اعتبار تفخیم الواقعه وائی نو صحیح ده لیکن قسم پرې په دې اعتبار نه شی

خوړلي چي ماله نقصان راکوی که په دې معنی لی لکه روغه کښي قسم ورکوی وائی په قرآن لاس کیږده صحیح نه ده.

الدرس التاسع:

مونږ نن دا ذکر کوو چي قرآن کریم کله چي مسئله ثابته کړی نو بیائی واضحه کوی نو د وضاحت د مسئلي د مدعی د پاره څلور طریقي ذکر کوی:

(۱) : کله قرآن کریم د هغي د وضاحت د پاره امثال ذکر کوی.

(۲) : کله عجز د الهه باطلو د دوی ذکر کوی.

(۳) : کله قرآن کریم د مخالف او مقابل دلائل کمزوري کوی چي ستاسو دلائل کمزوري دی.

(۴) : کله کله د وضاحت د مسئلي د پاره قصص او واقعات ذکر کوی.

په دغه څلورو طریقو سره قرآن پاك وضاحت د مسئلي کوی مونږ مشت نمونه خرواریو خو پیش کوو قرآن کریم کله توضیح د مسئلي کوی په واقعاتو سره لکه سورة الاعراف، سورة هود، سورة یونس وغیره کښي کله مثالونه ذکر کوی وضاحت د مسئلي کښي لکه عرب وائی:

المثل بلا مثال لاکفرس بلالجام او الناقة بلا زمام

الله تعالیٰ هم د توحید مسئلي اثبات د پاره مثالونه ذکر کوی څکه چي مثال سره مسئله ښه واضحه کیږی لکه الرعد ۱۴ اول

مسئله ذکر کوی له دعوة الحق سره چې يو الله ته را مدد شه وائي اوس دا چې خلق بل چا ته رامدد شه وائي د دې مثال به ښکه وی .

والذين يدعون من دونه لا يستجيبون لهم بشئ الا كباسط كفيه الى الماء ليبلغ فاه وما دعاء الكافرين الافی ضلال .

دغه شان عنکبوت ۴۱ مثال ذکر کوی د پاره د وضاحت د مسئله توحید، دا باب د امثله قرآن عجيبه انداز کښې بيانوی تطبيق د مثال خپل مقام کښې کوو دغه شان العاديات کښې فرمائی انسانه اس ته اوګوره مالك ورته لږ وابنه او ګياه ورکړی خو د مالك تابعدار وی په نيزو او تورو خيژولې شی او نه ورستو کيږی او ته د مالك تابعدار نه شوې د هغې نه خو لږ عبرت واخله دغه شان سورة اليل کښې فرمائی لکه څنګه چې شپه او ورځ نه دی برابر، سړی او ښځې نه دی برابر نو ستاسو عملونه هم نه دی برابر چې څوك فاسق او فاجر دې او څوك مؤمن دې نو ستاسو عملونه مختلف دی دغه شان البقرة ٢٦ ان الله لا يستحی... الخ کله چې مثال بيان شی مؤمن به وائي چې ګټه او ختنه اولګيده او کافر به وائي دې مثال ته څه حاجت وو د دې لِم او مقصد به بيانوو دغه شان البقرة ١٧ الحج ٣٧ وغيره دغه شان کله وضاحت د مسئلې د پاره کله عجز د الهو ذکر کوی سورة الشوری ١٦ .

والذين يحاجون فی الله من بعد ما ستجيب له حجة داحضة »

دا څلور طريقې دی د وضاحت د مسئلې د پاره او کله قرآن کريم مسئلې د اثبات د توحيد د پاره واقعات ذکر کوی لکه سورة هود کښې

واقـعـه د حضرت هود عليه السلام ذكر كوی وضاحت د مسئلې د پاره سـورة يـوسف كښې په نفی علم الغيب واقعه د حضرت يوسف عليه السـلام كښې د حضرت يعقوب عليه السلام ذكر كوی چې د حضرت يـعـقـوب عـلـيـه السلام سترګې مباركې د غم نه سپينې شوې د خپل بـچـی نـه خبر نه وو سورة النمل كښې دا واضح كوی چې عالم الغيب الله تـعـالیٰ دې دې واقعه د حضرت موسى عليه السلام اوګوره موسى عـلـيـه السـلام د خپـل همسا حال نه هم خبر نه شو بيا واقعه د حضرت سـلـيـمـان عـلـيـه السـلام چې اوګـورې سره د دې چې پيغمبر دې لوې درجې والا دې د مـمـلـكـت بـلـقـيس نه خبر نه شو ملا چرګك راغلو او حـضـرت سـليمان عليه السلام ته وائی چې تاته د مملكت بلقيس پته نشته كه عالم الغيب وې نو دوی به پوهه شوې وی (حج: ٥٢)

او چې كـلـه تـه د توحيد مسئله اوكړې نو خلق به درې قسمه يـعـنـی درې ډلې شی او تقسيم به شی (١) منقادين چې صفا اومنی (٢) غيـر مـنـقـاديـن چې صـفـا انكار اوكړی (٣) مذبذب پاتی شی بيا قرآن كـريـم غيـر مـنـقـاديـن تـه كـلـه زجر او رټنه وركوی او كله كله تخويف وركـوی او زجـر كله مشركانو ته ، كله منافقانو ته، كله اهل كتاب ته او كـلـه مؤمنانو او مؤمناتو ته زجر وركوی چې كله دوی كښې مداهنت پيـدا شی كله مؤمن ته زجر وركوی چې ته مؤمن ئی د يهودو سره بې ديـنـه خـلـقـو سره ولې دوستی كوې لكه المائده ٥٠،٥١، انعام: ١٢٩، يونس ١٥. ١٦ يٰس: ٤٨، ٤٩.

کلـه وائی چې بیې دین ستاسو دین پورې توقې کوی تـه هغوی سره کینه ۵۷ مائدة.

دغه شان منافقینو ته زجر ورکوی چې سستی ولې کوی لکه التـوبة ۳۸ او اهل کتاب ته زجر ورکوی چې دوی الله تعالیٰ سره حصه داران نیولې دی لکه النساء ۴۸ دغه شان کله زجر ورکوی مشرکینو ته چې تـاسو گمان پسې روان شوې ئـی او حق دې پریښودلې دې لکه یونس ۳٦ کله تخویف ورکوی غیر منقادینو ته.

او تخویف په دوه قسمه دې:

(۱): تخویف دنیوی (۲): تخویف اخروی

تـخویف دنیـوی دې ته وائی چې د دنیا ویره ورکوی چې فلان قـوم یا فـلانـی کس ته اوګورئ چې مسئله نده منلې نو تباه شوې دی لکـه ابراهیـم ۵، زمر: ۲۵، خیال اوکړه چې انکار اوکړې ګنې تاسره به هم داسې کیږی او تـخـویف اخروی دیته وائی چې الله تعالیٰ فرمائی انکار مه کوئ، که انکار مو اونکړو نو جهنم ته به لیږم ګوره دا تخویف لکـه سورة بنی اسرائیل ۵۹، ٦۰ شاه ولی الله تخویف دنیوی ته تذکیر بایام الله وائی او تخویف اخروی ته تذکره بالموت وائی دواړه یو څیز دې لکـه البـقره: ۱٦۵، ۱٦٦ مریم ۹۸، سباء: ۳۱، ۳۲، ۴۴، عنکبوت ۳۷، ۳۸، البـقـره: ٦۱. دنیـوی لـکه الاعراف ۱۵۲ او کله کله غیر منقادینو د پاره عـذاب قبـر یـعـنـی د برزخ عذاب ذکر کوی چې که تاسو نافرمانی اوکړه د بـرزخ عذاب به درکوم برزخ ته نه دې معلوم څوك خو د دې نه

انکار کوی او خوك داسې ژوند ثابتوی لکه د دنیا خبره داسې نه ده بلکه دا جدا ژوند دې او ټول شهداء د دنیا په احکام مړه دی لکه البدائع الصنائع لیکی:

واما فی إحكام الدنيا فالشهيد ميّت تقسم ماله وتنكح امراتهم بعد انقضاء العدة ،، فقهاء قبر دې ډوغل ته وائی او محدثین وائی چې دا عالم جدا دې د ګناه اثر بدن او روح دواړ باندې کیږی نو الله تعالیٰ فرمائی که مسئله نه مې نو عذاب برزخ به در کړم لکه المؤمن ۱۲۴،۱۱۲،۴۶.

ابن قیم رحمة الله علیه فرمائی وفسرها غیر واحد من السلف بعذاب القبر دغه شان ۲۱ السجد الانعام ۹۳،۹۴.

او کله غیر منقادینو د پاره ختم القلب ذکر کوی یعنی که انکار دې اوکړو په دې زړه کښې به درله مهر اووهم او ختم القبل دې ته وائی چې یو انسان ګناه کوی او په هغې همیش والې کوی آخر الله تعالیٰ د هغه په زړه مهر جباریت اولګوی هغه دا چې د ده په زړه کښې تور داغ او زنګ پیدا شی قرآن کریم د دې مختلف تعبیر کوی لکه البقرة ۷ ختم الله علی قلوبهم کله تعبیر کوی دیوال سره لکه یس ۱۰۹ کله به تعبیر کوی اقفال جرنډی سره لکه سوزة محمد ۲۴، او کله په پردی سره تعبیر کوی حم سجده: ۵ او کله تعبیر کوی په طبع سره، النساء:۱۵۵.

دغه شان حدیث کښې راځی عن ابی هریرة رضی الله عنه قال

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان اللمؤمن اذا اذنب ذنباً كانت نكتة سوداء فى قلبه فان تاب وفزع استعنب وصقل قلبه وان زادت حتى تعلوا قلبه فذلك الران الذى قال تعالىٰ كلا بلا ران على قلوبهم ما كان ويكسبون دويمه ډله منقادين دى د دوى د پاره هم څلور حالات دى:

(۱): كله بشارت وركوى (۲): كله تسلى وركوى

(۳): كله تشجيع (۴): ركله ربط القلب

مونږ لږ وضاحت كوو:

البشارة ليرى علامه ابن العربى عيس

اخبار عن المحبوب والنذارة اخبار عن المكروه» او دا بشارت په دوه قسمه دي دنيوى او اخروى

بشارت دنيويه چې دنيا كښې الله تعالىٰ دوى له زيرې ليږى چې ملائك به ستاسو مرسته كوى لكه الانفال ۱۱، ۱۰ الزمر ۱۸ چې قرآن والاؤ ته الله تعالىٰ زيرې وركړې دې حم السجدة ۳۰، يونس ٦۲ او بشارة اخروى دې ته وائى چې وعده د جنت ورسره كوى چې تاسو له به جنتونه باغونه، حورې او غلمان دركړم سورة البقرة ۲۵ الكهف ۳۱ .

التسلى للنبى عليه السلام وللمؤمنين:

دا تسلى هغه وخت وركوى چې په دوى تكاليف راشى او د

دوی تـکـذیـب اوشی او خلق دوی پوری توقی او مسخرې اُوکړی نو الله تعالیٰ فرمائی تاسو زړه مه تنګوئ الله تعالیٰ چې څه مقرر کړې وی هغه به رسیږی لکه نبی علیه السلام ته هم الله تعالیٰ تسلی ورکوی په سورة العمران ۱۴۰ په تکلیف سره د انسان ملګری هم معلومیږی.

لکه شاعر وائی:

جزا الله الشدائد كل خير عرفت بها صديقي عن عدوی

او کله تسلی ورکوی بالنجاة من المعاصی وبهلاك المتمردين طه ۲۱

التشجيع:

کله کله تشجیع او بهادری ورکوی چې زړه بنکته نه کړئ ګورئ کلك شه چې توحید مسئله بیانولو کښې ابراهیم علیه السلام یوائې وو د خپل مشرك پلار او د قوم مقابله ئی کړې ده په دې مسئله اور تـه هم غورزولې شوې دې لکه الانبیاء ۷۰ فقلنا ينار كوني برداً وسلاماً على ابراهيم خپلو مشرانو ته اوګوره ۷۱ یونس دغه شان حضرت نوح علیه السلام خپل قوم د الله تعالیٰ وحدانیت ته راؤبلل او قوم هغوی پورې توقې او مسخرې اوکړې مجنون ئی ورته اووې لیکن هغوی ورته زړه نه دې تنګ کړې دغه شان حضرت هود علیه السلام خپلو مخالفینو نه ویریدلې نه دې اور ورته اووې چې فكيدوني جميعاً نو هغه شان ته هم مه ویریږه.

ربط القلب:

8 کله ربط القلب وی د دې معنی دا ده چې په زړه پټې اولګوی او وائی یریږه مه ته مسئله کوه الله تعالیٰ به ستا زړه مضبوط ساتی لکه الکهف ۱۴ وربطنا علی قلوبهم دغه شان لقصص ۱۰ دا ربط القبل راځی چې کله انسان بیان د مسئلې ته اودریږی نو سرې ویریږی چې مسئله شروع کړی بیا ویره ختمه شی او مضبوط شی.

ادخال الهی:

دغه شان د قرآن کریم یوه قاعده دا ده چې ادخال الهی ذکر کوی مونږ به دوره تفسیر دوران کښې به وایو چې دلته ادخال الهی دې نحویان دیته جمله معترضه وائی لکه چې مخکښې څه واقعات ذکر کړې او بیا مینځ کښې څه آیتونه راوړی چې د هغې ښکاره تړون ن وی چې مخکښې او روستو سره ربط نه معلومیږی نو دا کله راوړلې شی دفع د وهم د پاره او کله تسلی د پاره دغه شان مختلف فوائدو د پاره راوړلې شی لکه العنکبوت ۱٦ د تقریر نه بعد ۱۸ کښې وان تکذبوا الاية د دې جواب ربط نشته ځکه د حضرت ابراهیم علیه السلام د قول جواب ٦۳ کښې ذکر کوی دا مینځ کښې آیتونه ادخال الهی دی تسلی د پاره راوړلې شوې دی چې اوګوره حضرت ابرهایم علیه السلام خپل قوم ته مسئله کړې ده او هغوی نه ده منلې که ستا خبره نه منی نو مه خفه کیږه:

وما على الرسول الا البلاغ المبين

امور مصلحه:

قـرآن کريم کله کله امور مصلحه ذکر کوی لکه يو بيان شروع وی چې د عـذاب ذکـر کوی بيا وائی چې مونځ اوکړئ مطلب به دا وی چې مـونـځ اوکـړئ چې د عذاب نه بچ شئ دا امور مصلحه کله دفع د عـذاب د پاره راؤړلې شـی کـلـه تثبت د پاره کله ربط القلب د پاره لکه الاسری ۲۳ دا امـور ذکـر کـوی ځـکه سورة کښې امور اربعه ذکر کوی چې سړی مستحق د عذاب ګرځی او بچ کيږی به په توحيد سره.

النسخ:

دا نسـخ پيـژنـدل پـکار دی قرطبی عجيبه خبره ذکر کوی وائی چې حـضـرت عـلـی رضـی الله عنه يوه ورځ ۷ جماعت کښې يو سړې اوليـدلـو چې خلقو ته بيان کوی فرمائی ذهب علي الي المسجد فاذا رجل يخوف الناس حـضـرت علی رضی الله عنه اوفرمائيل دې ويره نه ورکوی بـلـکـه دا وائی انا فلان ابن فلان فاعرفونی دې خپل علامه توب ښائی حضرت علی رضی الله عنه ورته اوفرمائيل چې اوزه.

امام بـخاری رحـمة الله عـلـيـه ځکه فرمائی: العلم قبل العمل والبيان ،، دا زده کول پکار دی دا اوږد باب دې.

نسـخ لـغـت کښـې ازالـه يـعنی لرې کولو ته واقئی لکه عرب وائی نسخت الشمس الظل يا لکه وائی نسخت الريح الاثار.

(۲): نسـخ په معنی د ليکلو سره لکه الاعراف ۱۵۴ الجاثية ۲۸

او نسخ په شریعت کښې هو الخطاب الدال علی ارتفاع حکم السابق یا داسې اووایه رفع الحکم بدلیل شرعی متاخر فوائد د دې ډیر دی یو دا دې چې کله الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته یو حکم اوکړې او هغه حکم څه وخته پورې وې بیا هغه لرې کړی بل حکم راؤلیږی د پاره د آسانتیا په مؤمنانو او نسخ په ژبه د پیغمبرانو کوی بیا منسوخ آیتونه چا وئیلې دی ۵۰۰ آیتونه دی شاه ولی الله رحمة الله علیه فرمائی د هغې نه کم کړه او حسین علی رحمة الله علیه فرمائی داسې آیتونه په قرآن کریم کښې نشته چې هیڅ فائده ئی نه وی نو د دې وجې نه مونږ انکار د نسخ نه کوو بلکه داسې معنی کوو چې په یو معنی منسوخ شی نو په دې بله معنی نه ده منسوخ شوې زیات تفصیل به کوم انشاء الله دوره تفسیر کښې.

شان نزول:

مونږ به دا ذکر کوو چې دا آیت فلان باره کښې نازل شوې دې لیکن د دې مطلب دا نه دې چې دا آیت فلانی کس یا په کوم ځائی خاص دې بلکه قرآن عام دې ځکه داسې آیتونه هم شته چې په مختلف مقاماتو کښې مختلف کسانو باره کښې نازل شوې دی ډیر خلق په دې نه پوهیږی بیا وائی دا آیت فلانی باره کښې نازل شوې دې او تاسو په مونږ لګوئ لکه واذا قرئ القرآن الایة دا مونځ باره کښې نازل شوې دې او غیر مقلدین وائی مونځ خو مدینه کښې فرض شوې

دي او دا آيت كښې مكى دي ؟

جـواب د دي دا دي چې ته په دي نه پو هيږئ بلكه مراد د دي دا نـه دي چې د دي آيـت مـصـداق مـونـځ دي ابـن تـيـمـيـه رحمة الله عليه فـرمـائـی مجموعة الفتوی كښې چې انها نزلت فی الصلوة دغـه شان دا قاعده ده چې العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص المورد.

الوجوه:

د وجـوه مـطـلـب دا دي چې يو لفظ ډيرو معانو والا وی چې يو ځائـی كښـې يـوه مـعـنـى وركوى او بل ځائى كښې بله معنى وركوى لكه سلام لفظ دي د دي لفظ ديرې معنې دى.

۱. بـمـعـنـى الـترحيب لكه اذا جاء المؤمنون فقل سلام ځكه سلام خو راتـلـونكي اچوی ناست سړي نه اچوی لـيـكـن دلته سلام د پخير راغلي دي. ۲. سلام التحيه تحفه ۳. سلام بمعنى الدعاء

او دغـه شـان لـفظ د هداية هم مستعمل دي په مختلفو معانو سره:

۱: ارسال الرسل ۲: الوصول الى الجنة

په معنى د جنت ته د رسيدلو لكه: الحمد لله الذى هدانا لهذا.

۳: بـمعنى التوفيق لـكه انك لا تهتدى . پـه دي د مـولانـا محمد طيّب رساله احسن الكلام فی تفسير اُمّ القرآن مطالعه كړه.

النظائر:

چې کله يو واقعه قرآن پاك کښې ذکر وی او په هغې کښې اشکال وی نو بل ځائی اوګوره بيا دا حل شی ديته تفسير القرآن بالقرآن وئيلې شی لکه سروة هود ۶۹،۷۰ هلتهٔ ملائك حضرت ابراهيم عليه السلام ته وائی لا تخف نو اعتراض واردېږی چې ملائك څه عالم الغيب وو څه چې ابراهيم عليه السلام ته لا تخف وائی د دې اشکال حل دپاره سورة الحجر آيت: ۵۲

اوګوره چې هلته حضرت ابراهيم عليه السلام په خپله فرمائی انا منکم وجلون بيا وروستو ملائکو اووئيل چې لا تخف دغه شان دا آيت چې وائی وامراته قائمة بيا واء چې دې اوخندل نو اعتراض دا دې چې خندا يو ناشنا کار په ليدو يا ناشنا خبره په اريدلو سره راځی د ده د خندا باعث او سبب څه دې.

د دې جواب په سورة الذاريات ۲۷ کښې دې چې کله ملائکو د ځوی زيرې ورکړو چې تاسو ته الله تعالیٰ ځوی درکوی نو تعجباً د ابراهيم عليه السلام بی بی اوخندل مونږ خو بوډاګان يو نو څنګه به زمونږ اولاد کيږی. والسلام مع الاکرام.

د شيخ القرآن رحمة الله عليه دا کمال وو چې کومه خبره به دوه کاله کښې کيده نو هغه به ئی په منټ کښې هم کولې شوه او اوږدولې ئی هم شوه او لنډولې ئی هم شوه په دې وخت شعبان، رمضان کښې به هغوی درې ځله قرآن ختمولو يو ځل به ئی اصول کښې ختم کړو، دويم ځل به ئی تفصيل شروع کړو نو دريم ځل به ئی د ختم

په ورغ ختم کړو خلاص به ئی د ټول قرآن اوویله.

دغه شان شیخ القرآن رحمة الله علیه د اصولو خالصه هم

لیکلی ده هغه دا ده.

الاربعیات فی تلخیص الصول:

لا یصر الرجل بصیرا بالقران حتی یعلم أربعاً:

تفسیر القرآن بالقرآن، وتفسیر القران بالحدیث، وتفسیر القران باقوال الصحابة، وتفسیر القران باقوال التابعین

کاربع: فهم الفاظ الشرعیة من اللغویه، ومواقع الالفاظ بمواضعها واسباب النزول، والناسخ من المنسوخ.

لاربع: التوحید، والرسالة، وصداقة الکتاب والایمان بالاخرة،

باربع: الدلیل النقلی، والدلی العقلی، والدلیل الوحی، والحلف لاثبات الدعوی.

ویمدها باربع: الجهاد فی سبیل الله، والانفاق. والتنظیم، والادب،

لیدرد بها اربعا: المشرکین والیهود، والنصاری، والمنافقین.

کاربع: الشرک فی العلم، والشرک فی الدعاء والشرک فی التصرف، والشرک فی العبادات.

فی اربع: المشرکین بالعباد والصالحین بالکواکب و بالملائکة وبالجن.

ویوضحها باربع: بالقصص والامثال وبعجزالهم ووهن ادلتهم

وعذر من اربع: من الكفر، والنفاق والشرك والافتراء.

كاربع: من التحريم لما احله الله، والتحليل لما حرمه الله ، التقول على الله، والافتراء على الله.

واربع: انكار التوحيد وانكار المعجزات، واخراج الامرين بالمعروف والناهين عن المنكر، والاستهزاء بهم

ويجتنب من اربع: المداهنة، وكتمان الحق وترك العمل، والتحريف .

لئلايبتلى باربع: الزجر وختم فى القبل، والهوان فى الدنياء والعذاب فى الاخرة.

كاربع: اتباع الهواء والاستدال بالاباء والتشبه مع الله، والقياس الفاسدة.

فامتحن باربع: ملامة الاحباء وشماتة الاعداء وطعن الجمال، وحسد العلماء.

كاربع: السب والايذاء، انواع الافتراء ومكر الكبراء

واعتصم باربع: الكتاب، والسنة، والجماع، والقياس

مع اربع: الاحسان مع الناس، وترك الفحشاء والامر بالمعروف، والنهى عن المنكر

ويتحلى باربع: القواعد للمبلغ، والبرى عن المعاندين ونصرة الموحدين، والرد على المنكرين.

اكرمه الله باربع: التسلية، وربط القبل والبشارة الدنيوية، والبشارة الاخرويه .


كاربع: التشجيع، والاستقامة، والنصرة، والمعية خاصه.


وھانت علیه اربعاً: ایثار النفس، ایثار المال والهجرۃ الی اللہ المتعال والمقاطعة عما یصدہ فی الحال والمال.


کاربع: التذهید من الدنیا والاطمنان فی السراء والنصراء وکلمة الحق عبد الامراء والتثبت، والاداب، عندا الامتحان.


فیفوز باربع: یدعی عظیماً فی ملکوت السماء ویدخل الجنة الماوی وینال الدرجة العلیا وینظر کفاحاً الی اللہ تعالیٰ.

ویدخل فی اربع: فی زمرۃ البنین والصدیقین والشهداء والصالحین وحسن اولئك رفیقاً.


بیاض
القرآن الکریم
دارالتوحید والسنة


خوشخبری
شیخ القرآن
مولانا عبدالجبار صاحب رحمہ اللہ
کی تصنیف
بیاض قرآن کریم
پشتو نکات کی طرح
انشاء اللہ
بیاض قرآن کریم
اردو نکات میں
عنقریب منظر عام پر
آنے والا ہے
فانتظروا


بدر الظلام
علی
مسند الامام
جامعة دار العلوم تعلیم القرآن
ناشر
دارالتوحید والسنة


عنقود الجمان
و
تفریح الجنان
لحل مشکلات القرآن
اردو ترجمہ کے ساتھ
ناشر: دارالتوحید والسنة